ننګرهار ښوونې او روزنې پوهنځی

# پيداګوژي




پوهندوی عبدالرشید ملکزی
پوهنیار راز محمد فیضي

Ketabton.com

سي ډي سره

پلورل منع دی

۱۴۰۰

پيداګوژي

پوهندوی عبدالرشید ملکزی او پوهنیار راز محمد فیضي

Nangarhar Education Fa

Assist Prof Ab Rashid
Teach Assist Razmuh

Funded by
Kinderhilfe-Afgh

with CD

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیداګوژي

پوهندوی عبدالرشید ملکزی
پوهنیار راز محمد فیضي



Nangarhar Education Faculty
ننګرهار ښوونې او روزنې پوهنځی

Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

Pashto PDF
2021

افغانیک
Afghanic

# Pedagogy

Assist Prof Ab Rashid Malakzai
Teach Assist Razmuhammad Faizi

Download:
www.kitabona.org
www.ecampus-afghanistan.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# پيداګوژي


**پوهندوی عبدالرشيد ملکزی**

**پوهنيار راز محمد فيضي**


دوهم چاپ

دغه کتاب په پي ډي ايف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم پیداګوژي
لیکوالان پوهندوی عبدالرشید ملکزی او پوهنیار راز محمد فیضي
خپرندوی ننګرهار پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی
وېب پاڼه www.nu.edu.af
د چاپ کال ۱۴۰۰، دوهم چاپ
چاپ شمېر ۱۰۰۰
مسلسل نمبر ۳۴۲
ډاونلوډ www.ecampus-afghanistan.org
www.kitabona.com

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوې دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسئولیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل
موبایل ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴، ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰
ایمېل textbooks@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۰-۷۶-۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پېژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه لیکلي او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې ادا کړی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم چې په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته ګرانو محصلینو ته په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د پوهې د انتقال پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي کچې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو څانګو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه کوم چې د دې کتاب د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړې ده.

هیله‌من یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي چې په نږدې راتلونکي کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزي

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین

کابل، ۱۴۰۰ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلينو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لويو ستونزو څخه ګڼل کېږي. يو زيات شمېر استادان او محصلين نويو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه ميتود تدريس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټيټ کيفيت فوتوکاپي کېږي.

موږ تر اوسه پورې د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البيروني، کابل پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون او د کابل پولي تخنيک پوهنتون لپاره ۳۴۲ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساينس، انجنيري، اقتصاد، ژورنالېزم او کرهنې پوهنځيو لپاره چاپ کړي دي. ۹٦ طبي کتابونه د آلمان د علمي همکاريو ټولنې DAAD، ۲۱۰ طبي او غير طبي کتابونه د افغان ماشومانو لپاره د جرمنۍ کمېټې (Kinderhilfe-Afghanistan)، ۷ کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ کتابونه په مزار شريف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولګرۍ، ۴ کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۲ کتابونه د سلواک ايډ، ۸ کتابونه د کنراد ادناور شټيفټونګ بنسټ (KAS) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د يادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړوندو پوهنتونونو او يو زيات شمېر ادارو او موسساتو ته په وړيا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org او www.kitabona.com ويب پاڼې څخه ډانلوډولی شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کـړو وزارت د (۲۰۱۰-۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي دي چې: دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کـړو وزارت د (۲۰۱۰-۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او زده کوونکو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده، چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي، د تعليمي نصاب د ريفورم لپاره له انګريزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړين دي، له دغو امکاناتو پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی نه شي پيدا کولای."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپتر او لکچرنوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره اړينه ده چې د افغانستان پوهنتونونو لپاره هر کال لږ تر لږه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ټولو درنو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، ویې ژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچرنوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي، زموږ په واک کې یې راکړي چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځیو، استادانو او محصلینو ته په واک کې ورکړو. همدارنګه د یادو ټکو په اړه خپل وړاندیزونه او نظریات له موږ سره شریک کړي، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.**

د لیکوالانو او خپرونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، چې د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو پر اساس برابر شي، خو بیا هم کېدای شي د کتاب په محتوا کې ځینې تېروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله لرو چې خپل نظریات او نیوکې لیکوال او یا موږ ته په لیکلي بڼه راولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی، دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۲۱۰ عنوانه طبي او غیر طبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخیستی دی.

د جي آی زیټ (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration & Development) څخه، چې زما لپاره یې له ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۶ زېږدیز کاله پورې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي وو، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له علمي معین پوهنمل ډیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزي، د مالي او اداري معین ښاغلي نور احمد درویش، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکتر ګل رحیم صافي، د پوهنتونونو رییسانو، د پوهنځیو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له لیکوال څخه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو - کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو؛ ښاغلي حکمت الله عزیز او ښاغلي فهیم حبیبي څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، مې، ۲۰۲۱

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ایمیل: textbooks@afghanic.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

پیداګوژي Pedagoge د خپلې موضوع او هدف له مخې یوه لوی، پراخه او هر اړخیز علم او موضوع ده، چې د انسانانو د پیدایښت سره سم د هغې په هکله فکر او اندېښې په کار اچوي، چې بیا ورباندې ورپسې وروسته لیکنې، څېړنې او ژور فکرونه پیل شوي دي.

نو، ځکه دغه موضوع اوسمهال دومره پراخو، لویو او لوړو پوړونو ته رسېدلې او هسکه شوې، چې د هغې د بېلا بېلو فلسفي، علمي، تیوریکي، میتودیکي او عملي اړخونو بې شمېره ان ویلای شو، چې په زرګونه جلده اثار لیکل شوي، تالیف شوي او ژباړل شوي دي.

له همدې کبله پیداګوژي اوس نه یوازې د یوه ځانګړي مضمون یا دسپلین په توګه، بلکې د پوهنتونونو د زده کړیالانو، زده کوونکو لپاره د لسګونو مضامینو په ترڅ کې لکه عمومي پیدا ګوژي، د پیداګوژۍ فلسفه، د پیداګوژۍ تاریخچه، د پیداګوژۍ پرنسیپونه، د پیداګوژۍ عمومي مېتودونه، عمومي اروا پوهنه، روزنیزه اداره، روزنیزه څارنه (نظارت)، مقایسوي ښوونه او روزنه، روزنیزه ازموینه او احصائیه، ښوونیز نصاب او داسې نورو په شان تفسیر، تحلیل او په ځانګړي توګه د نړۍ د پرمختللو هېوادونو، پوهنتونونو، دار المعلمینونو یا کالجونو کې د ښوونکو د مسلکي وړتیا او پیاوړتیا په خاطر تدریسېږي.

خو په دې اوس د (پیداګوژۍ) په دې کوچني اثر کې چې زموږ د ښوونې او روزنې پوهنځي د درسي پلان او پروګرام، د محصلانو د راتلونکي ښوونکي توب د مسلک او هم د هېواد روزنیز سیستم د لوړ ګټو او اغېزمنتوب په پام کې نیولو سره د پیداګوژۍ یا ښوونې او روزنې موضوعات په داسې ډول څېړل، تحلیل، لیکل او راټول شوي دي، چې پیداګوژي په عمومي توګه د محصلانو او د ښوونې او روزنې نور ښه والي لوستونکو ته د هغو مهمو او غوره برخو سره د یو واحد او کُل په توګه یې ورپېژنو.

البته هر اړخیزه نه ده، دا لیکنه د یو بنسټیزې پوښتنې او یا د یو اساسي ارتباط له مخې د یوه هدف او یوې پایلې ترلاسه کولو لپاره کار ورباندې پرمخ ځي.

نو ځکه د دې لیکنې لپاره هم، زما په اند په دې برخه کې اصلي انګېزه، د ښوونې او روزنې د پوهنې او د مسلکي تعلیمات په څانګه (اروا پوهنې او پیداګوژي) څانګه کې زموږ د درسي پلان او پروګرام سره جوخت د درسي کتابونو کموالي/ نشتوالی و، نو مجبور و، چې د محصلانو د تدریس لپاره د لکچر نوټ، یا د یوه کتاب او بل کتاب، د یوه ځای او یا د بل ځای څخه په ډېر توپیر او نامنظم ډول سره ښوونیز او روزنیز درسي مواد راټول او هغه هم د لکچر ورکولو له لارې محصلانو ته تدریس کړو چې په دې توګه له یوې خوا په خپل ذات کې د کمیت او کیفیت له مخې د پوهنتون د محصلانو او خاص ډول د ښوونې او روزنې د پوهنځي مسلکي تعلیماتو د څانګې او نورو اړونده څانګو د ښوونې او زده کړې اړتیاوې نشوای پوره کولای او له بل پلوه د وخت هسې او عبث ضایع کېدل وو، نو ځکه دې ته اړ شوم چې دا کوچنی، خو د ارزښت له مخې له محتوا ډکه رساله چې ډېرو محبوبو استادانو **پوهنوال علاؤالدین حسام او پوهنوال معروف شاه شینواري د نظر او تایید څخه تېره او بیا یې بشپړه کړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دې کتاب په لیکنه کې د کتابتوني مروجو روشونو او مېتودونو ځینې ګټه اخیستل شوې ده، هڅه او هاند مې کړی، چې د روزنیزو، علمي او معتبرو او نورو منابعو څخه ګټه ترلاسه شي او د لیکنې له مخې هم کوښښ شوی دی، چې جملې، عبارتونه، کلمې او اصطلاحات په داسې توګه په کار وړل شوي، چې په لنډ، روښانه او اسانۍ سره د یو کتاب د مینه وال او لوستونکي لپاره د پوهې او درک وړ وي.**

**د ترتیب او تنظیم له مخې د اړیکو د پرنسیپ په نظر کې نیولو سره کتاب په شپږو ځانګړو فصلونو وېشل شوی دی.**

**په دې خاطر چې یو لوستونکی په دې واضح او ژر پوه شي چې کوم فصل د کومو موضوعاتو څخه بحث کوي؛ نو په دې توګه ډېر په لنډ ډول سره د هغه هدفونه د هر فصل تر سرلیک لاندې لیکل شوی دی.**

**په دې توګه سره هر لوستونکی د هر فصل د عمومي محتوا سره اشنا کوي او له بلې خوا دا یوه انګېزه ګرځي چې لاندې نور ټول فصلونه په خورا مینې سره مطالعه کړي او ولولي.**

کوښښ مې کړی چې د هر فصل په پای کې د فصل لنډیز، د بحث او مناقشې وړ پوښتنې او د ماخذونو ذکر هم شوی دی چې د فصل لنډیز لوستونکو او زده کوونکو ته د لومړي فصل د لوستلو وروسته یو ځل بیا د فصل موضوعات ور په یادوي او په ذهن کې یې ځای پرځای کېږي او لوستونکو او زده کوونکو سره مرسته کوي، کله چې مناقشه او پوښتنې مطرح کوي، چې د کتاب د لوستلو پر مهال د هر فصل پر محتوا باندې په ډېر دقیق او ژور ډول سره فکر وکړي.

د اسلامي عقیدې او نظر سره سم، د اسلامي ټولنې د ښوونیز نظام پر حقایقو، معلوماتو، پدیدو او د زده کړې پر سیستم نوی نظر واچوي او په دې توګه سره د مشق او تمرین له مخې د هغې زده کړې نوره هم ټینګه، مضبوطه او لا پیاوړې کړي.

نوې ذهني پلټنه یې راوپاروي، فکر، منطق او استدلال ته یې لا وده ورکړي، ماخذونه لوستونکو او زده کړیالانو سره مرسته کوي، چې اصلي ماخذونو ته په ورګرځېدو او مطالعه کولو سره موضوعات نور هم په کلکه سره ژورې کتنې او مطالعې لاندې ونیسي، چې په دې توګه سره خپله زده کړه او معلومات نور هم بډایه، پراخ او ګړندی کړي.

دا چې په پښتو ژبه کې د داسې کتاب (پیداګوژي) یا ښوونې او روزنې په هکله یا خو کم او یا هم د پوهنتون د محصلینو لپاره بسیا نه کوله، د یوې نوې محتوا سره د ښوونکو ا و زده کوونکو لپاره د ښوونې او زده کړې په پروسه کې او هغه هم زموږ په دې جګړه ځپلي هېواد چې تل د بهرنیو یرغلګرو د تعلیمي نصاب تر اغېزې او تاثیر لاندې راغلی، تل روزنیز ناوړه تعلیمي سیستم او زده کړې جګړه ایز ستونزمن حالت په شرایطو کې د یوه ښه کتاب په توګه له هېوادوالو سره مرسته کولای شي.

په داسې ناوړه حالاتو کې چې د تازه او نویو علمي منابعو او ماخذونو څخه ګټه اخیستل په اوسنیو جګړه ایزو شېبو کې د هېواد د ټولو استادانو، پوهانو او لیکوالانو لپاره یوه څرګنده او جدي ستونزه ده؛ ځکه یو استاد نه شي کولای چې د خپلو لیکنو د لا بشپړولو لپاره د هېواد مختلفو کتابتونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایتونو او ان دا چې د ضرورت پر وخت له هېواد څخه بهر د کتابونو د لوستلو او د ځېنو مـوادو د راټولولو او لاسته راوړلو لپاره ولاړ شي.
په دې کتاب کې مې زیار ویستی چې محصلان د پیداګوژۍ د علم له موضوع او موخو څخه اګـاه کړم او د پیداګوژي د تاریخچې څخه یې باخبره کړم او په حقیقـت کـې ایجـاب هـم کـوي چـې د پیداګوژي یا ښووني او روزنې په هکله ډېراثار او کتابونه ولیکل شي او هم په ځانګړو سمسترونو او تعلیمي موسسو کې تدریس شي او له بل پلوه الحمدالله د مسلکي تعلیماتو د څانګې محصـلین او په مجموع کې د ښووني او روزنې د پوهنځي ټـول محصـلین پیـداګوژي یـا ښـوونه او روزنـه د یـو مضمون په توګه لولي او د هغې په هکله مخکیني پوره معلومات نه لري یا نیمګړي وي، که چېـرې دوی د تاریـخچې په لوستلو او زده کولو سره پیل وکړي، طبیعي خبره ده چې ښایي د هغې څخه پـه زړه پورې او مطلوبه ګټه ترلاسه نه کړي.
په پای کې په ډېر ډاډ سره دا ویـلای شـم چـې کـه چېرتـه د پوهنتـون ټـول محصـلین او د هېـواد د ښوونځیو ښوونکی دغه کتاب په ډېر دقت او غور سره مطالعه کړی، هغوی به وکولای شي چې لـه یوې خوا د خپل مسلک د پیاوړتیا لپاره یوه ډېره ښه او اغېزمنه پوهه ترلاسه کړي او له بلې خوا بـه د اسلامي اخوت او ورورګلوۍ په چوکاټ کې په هېواد کـې د سـولې او کـرارۍ او مـلي اسـلامي یـو والي د تامین او پیوستون او اتحاد، د هېواد د ابادۍ، سمسورتیا او د یو پرمختللي اسـلامي افغانسـتان لپاره ګټور ګامونه پرمخ واخلي او د تل لپاره بریالی سوکاله او ډاډمن اوسي.

الحاج پوهنیار راز محمد فیضي
د ښووني او روزنې پوهنځي
د مسلکي تعلیماتو د څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


تقریظ/ پوهنیار محمد جمال شینواری...................................................... الف

د پیداګوژي تعریف ............................................................ 1

د پیداګوژي تاریخچه............................................................ 6

د پیداګوژي موخه او اصطلاح ....................................................... 10

د ښوونې او روزنې د ډولونو په برخه کې ............................................. 12

د ښوونې او روزنې د سویو په برخه کې.............................................. 12

د ښوونې او روزنې فلسفه او پوهنیز بنسټ ........................................... 15

د پیداګوژي د علم موضوع ........................................................ 16

د ښوونې او روزنې مانا او مفهوم ................................................... 17

دښوونې او روزنې ارزښت.......................................................... 19

دښوونې او روزنې فردي (ځاني) ارزښت................................................ 20

د ښوونې او روزنې ټولنیز ارزښت..................................................... 21

د ښوونې او روزنې او ارواپوهنې ترمنځ اړیکې.......................................... 23

جوړښتي یا وجودي Structuror Exeistental ............................................ 23

دنده پالنه Funectionalism........................................................ 24

سلوک پالنه یا رفتارګرایي.......................................................... 24

د ښوونې او روزنې اقتصادي ارزښت .................................................. 25

د ښوونې او روزنې سیاسي اهمیت .................................................... 25

د ښوونې او روزنې بیولوژیکي بنسټ .................................................. 28

د ښوونې او روزنې بیولوژیکي اړخ اهمیت ............................................. 28

د ذهن او بدن اړیکې ............................................................ 28

د انسان او نورو ژویو ترمنځ ورته والی................................................ 29

په ښوونه او روزنه کې بیولوژیکي موخه................................................. 29

د ځوانۍ د وخت ماهیت او ارزښت ................................................... 30

د توپیر او تفاوت طبیعي قانون........................................................ 31

فردي توپیرونه .................................................................. 31

د ښوونې او روزنې تاریخي بنسټ..................................................... 33

د ښوونې او روزنې د تاریخي بنسټ مانا او مفهوم ...................................... 33

غیر رسمي ښوونه او روزنه.......................................................... 33

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسمي ښوونه او روزنه ........................................................34
تاسيساتي ښوونه او روزنه ....................................................34
قشري يا طبقه يي ښوونه او روزنه Class Education ............................35
پرګنيزه ښوونه او روزنه Mass Education .......................................35
د ښځو ښوونه او روزنه Women Education ......................................36
د معيوبانو ښوونه او روزنه.....................................................37
نړيواله ښوونه او روزنه Universal Education ....................................37
ښوونه او روزنه بنسټيزه اړتيا..................................................38
افغاني ټولنې ته د ښوونې او روزنې اړتيا.........................................38
د افغان ماشومانو ضرورتونه...................................................39
د دغو غوښتنو په بشپړولو کې د ښوونکي ونډه...................................40
د ازمويني وسيلي او د زده کړې د کچې پېژندل..................................42
د زده کړې په بهير کې د ازمويني دندې ..........................................42
ازموينه د هڅونې لامل .........................................................43
ساتنه او لېږد .................................................................44
ازموينه ځان پېژندنې لامل په توګه ..............................................44
د ازمويني بنسټيز لاملونه .....................................................45
د پرتله ايزې ښوونې او روزنې د پرمختګ مرحلې ................................47
د پرتله ايزې ښوونې او روزنې د پرمختګ لومړنۍ مرحله...........................47
د پرتليزې ښوونې او روزنې د پرمختګ دويمه مرحله...............................48
د پرتليزې ښوونې او روزنې د پرمختګ دريمه مرحله ..............................49
په تدريس کې د ميتود رول ......................................................52
ميتودولوژيMethodology ......................................................54
د ټولګي د اداره کولو تاريخچه .................................................59
د درسي ټولګي مديريت ........................................................59
د درسي ټولګي د مديريت موخې..................................................61
د درسي ټولګي د مديريت پر وړاندې پراته خنډونه ...............................61
١ *.په ښوونکي پورې اړوند لاملونه*.............................................61
٢. *په زده کوونکو پورې اړوند لاملونه* ........................................62
٣ *.د ټولګي په فزيکي فضا پورې اړوند لاملونه*..................................62
د ټولګي د مديريت سبکونه .....................................................63
*الف : پر دموکراسۍ ولاړ مديريت* ...............................................63

(c) ketabton.com: The Digital Library

*ب: پر عدم دخالت ولاړ مدیریت* ........................................63
*ج : استبدادي یا زور زیاتی مدیریت* ........................................64
د درسي ټولګي په مدیریت کې د اغېزمنو ښوونکو ځانګړنې........................................64
د درسي ټولګي د مدیریت طریقې (کړنلارې)........................................65
*د ټولګي د قوانینو ټاکل*........................................66
د ټولګي د قوانینو او مقرراتو نوملړ........................................66
د کړنو د تغیر لارې چارې ........................................67
ښوونېز درسي نصاب ........................................72
د ښوونیز درسي نصاب جوړښت........................................75
د ښوونیز نصاب عمده موخې ........................................76
د تدریس په هکله نظریې........................................79
د تدریس کړنې ........................................80
په تدریس کې د اغېزمنو لاملونو نظریې ........................................83
د ویګوتسکي د پېژندنې ټولنیزې نظریې نه کار اخستل ........................................90
د دوه اړخېزو کړنو لاملونو نظریه........................................90
د تدریس د مفاهیمو تحلېل ........................................92
د زده کړې د تدریس تګلاره........................................97
د فعالې زده کړې د میتود ډولونه........................................ 100
په ساینس کې د ارزونې دودیز میتودونه ........................................ 107
انساني سرمایه څه ته وایي؟ ........................................ 111
د دیداکتیک تاریخچه ........................................ 120

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پيداګوژي تعريف

پيداګوژي د نورو علومو په څېر ځانګړی تعريف لري، دا تعريف د پيداګوژي د مختلو علماوو له خوا ورکړل شوی دی.

پيداګوژي يا ښوونه او روزنه هم د بېلا بېلو پوهانو، متفکرانو او ليکوالو له خوا په بېلا بېلو ډولونو تعريف شوې ده چې موږ يې يوازې څو تعريفونه دلته ذکر کوو.

خو د هر څه مخکې به دا غوره وي چې د پيداګوژي Pedagogy په اصطلاح باندې ځان پوه او لږ څه رڼا پرې واچوو، بيا به په تعريفونو هم وغږېږو.

۱. پيداګوژي د ښوونکي دنده، يعنې کار او عمل کول، ښوونه کول، د ښوونې هنر يا مېتود.

۲. پيداګوژي چې په فرانسوي ژبه کې ورته Pedagogie ويل کېږي، د يوناني کلمې له پيداګوګيا Paidagogia څخه مشتق يا اخېستل شوی دی.

هغه هم د ښوونکي مسلک يا کار او عمل، يعنې ښوونه يا د ښوونې هنر او پوهه په ځانګړي توګه د ښوونې د مېتودونو ښودل دي، همدا ډول پيداګوکيا Pedagogia د کوچني يا هلک د دفتر يا کوټې معنا هم ورکوي.

پيداګوک Pedagogic چې د دوه يوناني کلمو څخه يو Pais پايس يا Paidos د کوچني ماشوم يا هلک او اګين Agein هم د لارښوونې معنا ورکوي، پيداګوک ښوونکی، يا د ښوونځي د ښوونکي په معنا هم راغلې ده چې په زده کړه کې يې په ډېرو کوچنيو ټکو او کوچنيو موضوعاتو باندې غير ضروري ټينګار کاوه او هم يې داسې پوهه څرګندوله، چې منطق او تناسب په کې نه ليدل کېده او هم په عين حال کې د ميلاد څخه مخکې په لرغوني يونان کې او روم کې د مرييتوب په دوره کې پيداګوګ هغه زاړه بوډا مريي ته ويل کېده چې د خپل بادار د کوچني زوی څارنه به يې کوله او هغه به يې د کور څخه تر ښوونځي او د ښوونځي څخه تر کوره راوسته، مريي يا غلام به دا کوښښ کاوه، چې نوموړي کوچني ته د لارې په اوږدو کې کوم ضرر او تاوان ونه رسېږي او د خپلې وسې مطابق به يې دغه کوچني ته ښه لارښوونه او نصيحت هم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د پیداګوژي مفهوم او معنی باندې پوه شو، اوس به یې تعریف وکړو.
پروفیسور توماس بریګر د پیداګوژي تعریف داسې څرګندوي:
موږ نه غواړو هغه نوې مباحثې یا مناقشې ته ورداخل شو چې پیداګوژي ساینس دی او که نه، هغه باید دواړه وي، خو باید داسې ساینس او پوهه وي چې په یوې منل شوې فلسفې باندې اتکا ولري او هم یوه داسې پوهه وي چې ټول په افاقي توګه سره ثبوت شوي حقایق په پام کې ونیسي-او هم د ډېرو ژورو او دقیقو څېړنو او تجربو نتیجې (پایلې) په کار یوسي.
که چېرته موږ ځیر شو، په دې تعریف کې د پیداګوژي او ښوونې روزنې په ډګر کې ډېرو مهمو او غوره ټکو ته ګوته نیول شوې ده چې په ځانګړې توګه یو ښوونکي ته د هغو په پام کې لرل ډېر مهم او اړین شمېرل کېږي.
په دغه ذکر شوي تعریف کې ویل شوي چې پیداګوژي پوهه ده؛ په رښتیا سره هغه نوښتونه، پرمختګونه چې په عمومي توګه په ټولو علومو او پوهنو کې په ځانګړې توګه هغه پرمختګونه چې په سلوکي پوهنو، لکه اروا پوهنه، ټولنپوهنه، ټولنیزه اروا پوهنه او داسې نورو اړونده پوهنو کې په لاس راغلي دي، داسې رښتیني حقایق، پرنسیپونه او اساسات یې را په ګوته کړي دي چې Pedagogy پیداګوژي علمي اړخ یې تر زیاتې اندازې بډایه کړی او هغې ته د ځانګړې پوهې او مسلکي بڼه ورکوي.
دې تعریف کې دا څرګنده شوه چې پیداګوژي هنر دی، خو څرنګه چې ادب یا هنر د خپل ماهیت او مضمون له مخې د ښکلا، تناسب او توازن او همدا ډول د ابتکار او نوښت ټینګې اړیکې لري، د دغې ښکلا او نوښت په پام کې لرلو سره ښکلي اثرونه رامنځته کړي، همدا ډول پیداګوژي د خپل ماهیت له مخې د نېکو مثبتو او ګټورو د ښه او غوره خصلتونو او اوصافو د رامنځته کېدو لپاره هلې ځلې کوي.
د ښوونې او روزنې او زده کړې ټول اړوند کارونه د ښکلا تناسب، توازن، خلاقیت او نوښت په بڼه کې پرمخ ولاړ شي او دا علم کولای شي چې په یو انسان او انساني ټولنه کې ټول هغه څه را زرغون او رابرسېره کړي چې ښه ښکلي، غوره، ښایسته او په زړه پورې وي.
کله -کله چې یو ښکلی شوی اثر د هر شخص خاصه پاملرنه ځانته راجذب کړي، یو تعلیم یافته یا روزل شوی شخص هم د نورو افرادو مینه او پاملرنه ځانته را اړوي.
دویم: په تعریف کې یادونه شوې ده، چې پیدا ګوژي یوې منل شوې فلسفې باندې تکیه لري، دا چې فلسفه د لوړو او معتبرو افکارو، همدا شان د نړۍ د اساسي او بنسټیزو مسایلو د حل او فصل سره نږدې او نه بېلېدونکې اړیکې لري، په هیڅ صورت سره دا امکان نه لري چې پیداګوژیکي یا ښوونیز او روزنیز کړه وړه د هغې څخه بېطرفه وي.
دا چې د ښوونې او روزنې هدفونه، تعلیمي نصاب او د هغې نوره ټوله محتوی د فلسفي مفکورو او نظریو سره اغېزمن او د هغو سره سم ترتیب او تنظیم او پرمخ وړل کېږي.
نو، له دې کبله پیداګوژي باید په یوې فلسفې باندې اتکاء ولري، اخر دا چې په څه ډول فلسفې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې اتکاء ولري، هغه په دې پورې اړه لري چې Padagogei پيداګوژيکي فعاليتونه په کوم هېواد، په کومه ټولنه او په کوم ډول منل شوي اقتصادي، سياسي او ټولنيز نظام کې پرمخ وړل کېږي.
په دې توګه د ټولنې روزنيز نظام فلسفه د هر هېواد اقتصادي، سياسي، کلتوري او ټولنيز سيستم د منل شوې فلسفې څخه پيروي کوي، د مثال په ډول زمونږ د هېواد روزنيز نظام بايد د اسلامي فلسفې پر بنياد برابره او جوړه شي او د دې څخه بايد پيروي وکړی شي.
۴. پيداګوژي بايد ټول په افقي توګه سره ثبوت شوي حقايق او کره څېړنو او تجربو پايلې په پام کې ونيسي او هغه په کار واچوي.
دا چې اوس د نړۍ په ګوټ - ګوټ کې د علومو په اکاډميو، پوهنتونونو، علمي او اکاډميکو موسسو، د ريسرچ او څېړنو نړيوال او ملي مرکزونو کې د مختلف النوع پوهنو او علومو په څانګو کې منظمې، دقيقې او ژورې څېړنې پرمخ روانې دي چې په دې توګه د دغه څېړنو په پايلو کې نوي رامنځته شوي حقايق، نوي روزنيز پرنسيپونه او نوي قوانين منځته راځي او راغلي هم دي، نوې تيوريګانې او نوې نظريې منځته راغلي چې له يوې خوا د عيني جهان ماهيت او مضمون په ښه توګه څرګند او روښانه کېږي، چې له دې کبله د يوې خوا د کميت او کيفيت له مخې د بېلابېلو علومو او پوهنو زېرمه بډايه او غني کېده.
خو، يادونه شوې چې يو وخت يوازې نيمو لسو کلونو کې پوهه دوه برابره کېده، خو په اوسني وخت کې د علم او ټکنالوژۍ د پرمختيا، د نوي وسايلو او د دې د پرمختګ له مخې پوهه په ډېرو کمو کلونو؛ درېيو يا څلورو کلونو کې دوه برابره کېږي.
ښکاره خبره ده چې دغه حقيقت د پيداګوژي او ښوونې او روزنې د چارو مسوولانو مسووليت او مکلفيت څو وارې دروند او لا پسې زياتوي.
د ښوونې او روزنې کار کوونکي، ښوونکي او محققين بايد داسې اغېزناکې لارې چارې ولټوي، چې په لږ وخت کې زيات، ګټور او مهم معلومات زده کوونکو ته ورسوي.
په دې توګه به په ښه او مناسب ډول سره د ښوونې او روزنې پروسه د علمي او تکنالوجيک ګړندي پرمختګ او انکشاف سره عيار او منظم وساتي.
د پيداګوژي د علم د کلمې او تعريف په هکله پورتنۍ ليکنې او څرګندونې موږ ته په ښه توګه سره دا راښايي چې د ښوونې او روزنې Education د مفاهيمې ترمنځ کوم څرګند توپير نشته، بلکې دا دواړه Padagogy او Education اصطلاحګانې د ښوونې، ښوونکي، د ښوونې او زده کړې د کارونو او د زده کوونکو د روزنې سره ټينګې او نه شلېدونکې واحدې اړيکې لري؛ نو موږ کولای شو چې دا اصطلاحګانې د يو بل پر ځای استعمال کړو.
خو، د دې لپاره چې د ښوونې او روزنې مفهوم لږ څه نور هم په ښه توګه سره روښانه شي، دلته ځينو فيلسوفانو، نړيوالو پوهانو او متفکرانو په لاندې ډول سره خپل تعريفونه وړاندې کړي دي، چې موږ يې دلته لولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. روزنه؛ د بشر د فطري پوهې د لاس ته راوړلو لپاره، د انساني طبیعت بشپړول دي. *[پستالوتزي]*
۲. روزنه هغه پوهه ده چې سړی د مورني استعدادونو په دایره کې روزي. *[ژان ژاک روسو]*
۳. تربیت هغه فن دی چې د انسان د باطني جوهر د پرمختګ او بشپړتیا لپاره خدمت کوي او د هغه ټولې قواوې په یو ډول روزي. *[ف. وولف]*
۴. سړی لومړی د روزنې له لارې حقیقي انسان کېدای شي. *[ف. هیګل]*
۵. روزنه هغه فن دی چې انسان د ادراک له مخې د ټولنیزو دندو په سرته رسولو سره توانا کوي. *[اګریک]*

که پورتني تعریفونو ته ښه ځیر شو، وبه ګورو چې د دغو تعریفونو لیکني یو له بل سره توپیر لري، خو په ټولو تعریفونو کې یو مهم ګډ ټکی له ورایه ښکاري چې هغه د یو انسان یا یو شخص روزل دي.

د مثال په ډول افلاطون غواړي د ښوونې او روزنې په وسیله د انسان یا یو سړي بدن او روح د کمال او جمال یعنې د ښکلا او بشپړتیا لوړو پوړیو ته ورسوي.

پستالورمکما غواړي د روزنې له لارې د انسان طبیعت د بشر د فطري پوهې د لاس ته راوړلو لپاره کمال ته ورسوي.

خو دلته یوه تېروتنه او ستونزه لیدل کېږي چې د بشر له فطري پوهې څخه نوم اخلي، په داسې حال کې چې پوهه کې ده او د زده کړې له لارې لاسته راځي او همدا شان دا نور تعریفونه هم چې د انسان د استعدادونو او د هغه د باطني جوهر په وده او پرمختګ او د هغه د ټولو قواوو په روزلو باندې ټینګار کوي، موږ ته د پیداګوژي او ښوونې او روزنې ډېر په زړه پورې مفهوم را په ګوته کوي.

یو بل عالم او د ایاوا د پوهنتون پروفیسور Papalos Kas Ramanas د ښوونې او روزنې لپاره داسې تعریف ورکړی: ښوونه او روزنه پوهه او هنر دی او کوم شی چې په زده کوونکي کې ممکن یا باالقوه یعنې پوتنسیال Potential دی زیات دی، له هغه چې واقعي دی، هم زیات دی.[۱]

سره له دې چې دا تعریف په ظاهري توګه ګونګ او مبهم ښکاري، خو په حقیقت کې د ښوونې او روزنې په رښتیني مفهوم باندې ډېره ښه رڼا اچوي.

په رښتیا سره کوم شي سره چې موږ په ښوونه او روزنه کې زیات سر و کار لرو، هغه د یو ماشوم پټو، ممکنو او بالقوه استعدادونو او قابلیتونو رابرسېره کول دي او کله چې د روزنیزو هلو ځلو په ترڅ کې دغه ممکن او یو پوتنسیال قوتونه په واقعیت واړوي او بالاخره د یو کوچني ساده او معصوم ماشوم څخه یو هوښیار، روغ او پیاوړی توان رابرسېره او ښکاره شي، طبیعي ده چې دغه اوسنی ممکن یا پوتنسیال به د اوسني واقعیت څخه غوره وي.

د Education ښوونې او روزنې د لا ښې ځرګندونې په منظور، دا دی نور مهم تعریفونه هم وړاندې کوو.

---

۱. W.EF Education for the new Era. Tokyo (1973) P.63

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونه او روزنه Education د هغو خصوصياتو او اوصافو مجموعه ده چې د فردي ښوونې او ټولنيزې روزنې په ترڅ کې منځته راځي، يا ښوونه او روزنه د ټولو هغو پروسو مجموعه ده چې د هغې په وسيله يو انسان خپلو قابليتونو، ذهنيتونو او د سلوکونو نورو ډولونو او يا هم د ټولنې هغو مثبتو ارزښتونو ته وده ورکوي چې په هماغه ټولنه کې ژوند او روزګار کوي.
يا هم هغه ټولنيزه پروسه ده چې د هغې په وسيله وګړي د يو ټاکل شوي او يا کنترول شوي چاپېريال په (ځانګړي توګه ښوونځی) تر اغېز لاندې راځي، ترڅو د هغو په وسيله د هغوی ټولنيز قابليت او فردي نهايي وده ترلاسه کړي([1]) په دې ځای کې لومړنی تعريف ښوونه او روزنه د يو محصول Product او دوهم تعريف هم هغه د يوې پروسې Process په توګه ګڼي، خو په عمومي توګه ښوونه او روزنه هم د يوې پروسې يا د پروسو د يوې مجموعې يا هم محصول په توګه ګڼل شوې ده.

---

۱. VitaLian Bernardino and Fluriuio P Fresuvga Prinsiples of Education (Manila: Pablishing House Tac)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیداګوژي تاریخچه

د پیداګوژي بدلون او پیدایښت د اندریلالند( Andre Lalande ) د فلسفې لغاتنامې په کتاب کې داسې ذکر شوې ده.

پیدګوژي د یوناني کلمې پېداګوګوس څخه اخیستل شوې، چې پخواني یونان کې یې د ماشومانو د لارښوونې او ادارې دنده په غاړه درلوده، ولې بویسون( Buisson ) په کتاب کې دغه نظر تر نیوکو لاندې ونیول شو، چې پیداګوژي لومړی د روزنې سره او همدارنګه هغه بریالي ښوونکي چې علمي تجربې نه درلودې، په توپیر سره ښکاریدل او دوهم دا چې پیداګوژي د اخلاقي روزنې پورې ځانګړې شوې، خو په همغه اندازې سره فکر پورې هم مربوط کېږي. بویسون Buisson ) (په کتاب کې پیداګوژي د غړو د روزنې، طبیعي او اخلاقي علم تعریف شوی دی.

په کال (۱۹۱۱) کې فرانسوي عالم امېل دورکېم د لغات نامې په وروستي چاپ کې د پیداګوژي توپیر د روزنې او بریالیو ښوونکو سره هوکړه او تائید یې کړه، هغه په دې باور و چې پیداګوژي؛ لوستل او د روزنیزو کړنلارو نظام دی، چې یو ډول تاریخ او ټولنپېژندنه ګڼل کېږي.

کرچن شتاېز( Kerchen Shteiner )په دې نظر دی چې هېڅکله نشو کولای، چې پیداګوژي دروني سره سمون لري، ځکه چې روزنه هغه علم دی، چې د یو کس د وجدان پوهې د لاسته راوړلو لامل ګرځي، چې له همدې امله د انسانانو اړیکو، مینه او انساني اړېکو باندې ولاړ دی او د نوروکړنو سره توپیر کوي؛ ځکه چې اصلي مفهوم یې د تجربې او واقعیتونو د درست تحلیل په پایله کې لاسته راځي.

په کال (۱۹۱۵) پل لاپي ( Paul Lapie )د پیداګوژي په هکله لیکي پیداګوژي هڅه کوي، مثبتې طریقې پیل کړي، چې پخوا پیداګوژي د فیزیک د فورمولونو، ادبي سرچینې او سیاسي پرېکړو څخه لاسته راتللې، ولې اوس دغه نظریې د اراوپوهنې او ټولنپېژندنې قانون په توګه وړاندې کېږي.

په (۱۹۱۵) کې لوسین سل لوربر ( Lucien Celleorier )د پیداګوژي په ټوله طرحه کې د پیداګوژي موخې را لټولې، چې د ښوونې او روزنې په ښکاره کېدو کې لیدل کېږي او پر هغې اغېز

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري؛ بيان کړي يې دي.
که چېرې د پيداګوژي وده او د انسانانو پيدايښت د ټولنې پرمختګ ته ځير شو، نو پيدا به کړو، چې انسانانو د خپل نسل د پاتې کېدو په خاطر په کار پيل کړی دی، چې د طبيعت د ناخوالو په وړاندې مبارزه يې کړې ده. انساني ټولنه منځ ته راغلله چې د ماشومانو، ځوانانو او سپين ږيرو په ټولګيو وويشل شوه. ځوانان به د خوراکي توکو د ګټلو په خاطر نورو ځايونو ته تلل، ماشومان او زاړه خلک به پخپلو ځايونو پاتې کېدل. سپين ږيري به د ماشومانو تغذيه کولو او ښوونې لپاره پاتې کېدل، د تغذيې په دوران کې هغوی خپلې تجربې د طبيعي حاصلاتو په ټولولو، د لرګيو ماتولو، اور اچولو او د حيواناتو ښکار کولو په اړه راغونډولې، د کال خوراک برابرول د اوسېدلو ځای ساتل او محافظت او داسې نور کارونه به يې ماشومانو ته ښودل؛ په دې ځای کې دی چې د ښوونې لومړنی ځای (شيدو خوړلو ځای) وړکتون او د پالنې ځايونه و.
د لومړي ځل لپاره په تاريخ کې تربيتي موسسې د ځوانانو د کور په نوم په کوچنۍ اسيا(اوسنۍ ترکيه)او د هغه په شاو خوا منځته راغلې. د دغو ځوانانو او ماشومانو د لارښوونې وياړ په دغه کور کې ښځو او مشرانو په غاړه درلود. *د ځوانانو په کور کې قواعد، فرهنګي، ملي، سرود، موسيقي او مذهبي چارې تدريسېدلې. ليکن په ډېر تأسف سره چې په بشري ټولنه کې طبقات منځ ته راغلل، د طبقاتو منځته راتګ سره ښوونې او روزنې طبقاتي بڼه غوره کړه، د شتمنو د زامنو زده کړې ته ټول شرايط چمتو وو، خو دغريبو ماشومان په بزګرۍ بوخت وو. (۵۰۰۰) کاله مخکې د سواد زده کړې لپاره ښوونيزې موسسې چې د مکتب په نوم يادېدې، جوړې شوې. دمکتب په منځ ته راتګ سره ملکيت خصوصي وګرځيد او ټولنه په طبقاتو تقسيم شو. دټولنې په تقسيمېدو سره په طبقاتو باندې تربيت هم بدلون وکړ او د خپلې همغږۍ خاصيت يې له لاسه ورکړ.
ښوونځي دمالدارو او نفوس لرونکو خلکو لپاره ښه مساعد وو. مالدارو خپل زامن د ټولنې د رهبرۍ لپاره روزل او د تدريس چارې د روحانيونو په غاړه وې.
يادونه: ښوونځی يوه يوناني کلمه ده، چې مانا يې (د کار څخه وزګارېدل) په پخواني يونان کې د مکتب کلمه هغه ځای ته خطاب کېده، چېرته چې به مشرانو او پوهو خلکو د ماشومانو سره مباحثه کوله، له دې وروسته ښوونځي د تعليمي او تربيتي موسسې په شکل منځته راغلل، چې تر اوسه پورې په هماغه نوم سره يادېږي.
ښوونې او روزنه د تاريخ په اوږدو کې تاريخي دورې سرته رسولي دي او خپل ارزښت د ځان سره لري. پيغمبران د وحې او الهام له لارې د ښوونې او روزنې لپاره استول شوي. د سقراط ښوونې ميتود د مشورې ميتود رامنځته کړی، دغه ښوونيزې دورې د ماشومانو لپاره د ښوونځي نه مخکې په مشرانو تقسيم شوې او ارسطو په خپل کتاب (د نيکو اخلاقو کتاب)کې په سياست او دتعليم او تربيې په ماهيت نقديات ورکړي دي.
ارسطو د تحصيل حق د ټولو بشري افرادو لپاره يو برابر اعلان کړی. ديموکراتانو ثابته کړه، چې انسان د فعاليت او کوښښ پر بنسټ خپل د ښايست کوونکی جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يونان باستان کې بالخصوص په څلورم قرن مخکې د مېلاد څخه مور کولای شو، د څلورم عصر د پوهانو لپاره يو روڼ عصر ياد کړو. په هندوستان کې تدريسي ښوونځي او په چين کې ابتدايې لېسې منځ ته راغلې.

نظم او دسپلين په ښوونځي کې د ټولو پام ځانته واړولو. په هغه وختو کې لوستل، ليکل، حساب کول، هندسه، نجوم، تخنيک، جغرافيه، طب او فلسفي مضامين وو.چې د يو بل نه د پرمختګ په حال کې وو.

دا خبره د يادولو وړ ده، چې يو شمېر غربي تاريخ ليکونکو دښوونې او روزنې په اړه څېړنو کې د ښوونيز او روزنيز نظام لمړی سرچينه د پخواني يونان او روم څخه ګڼلې ده، په داسې حال کې چې د يونان او روم څخه مخکې ډېر لوی مدنيتونه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې او په ځانګړې توګه د مصر، بين النهرين، هند، ايران او خراسان(افغانستان) کې هم ښوونيز او روزنيز نظامونه موجود وو. چې ددوی د پرمختللو او معتبرو تمدنونو ښکارندويي کوي، چې د ځانګړتياوو درلودونکي او د يونان روزنيز افکار يې د خپلې اغېزې لاندې راوستي وو.

په لرغوني روم کې هم ځينې لوی او مشهور متفکران چې ددغه هېواد د نوميالي خطيبانو څخه شمېرل کېږي، لکه سبسرون( ۱۰۶ – ۴۳۰ ق م)،کونتيليان ( ۲۳۰ – ۲۹۰ ) و پلوتارک ( ۴۶ – ۱۲۰ م ) کې ژوند کړی دی او د ښوونې او روزنې په اړه يې ګڼ شمېر اثار پرځای پرېښي دي. د اروپا منځنۍ پېړۍ بايد د رومي کليسا تر اغېزې لاندې د ښوونې او روزنې د ځلېدا پېړۍ وګڼل شي. په دې زرکاله دوره کې ښوونې او روزنې د لوړو او ژورو ډکې لارې په ډېر سست ډول سره طی کولې، سره له هغې چې د سقراط د امپراطورۍ له امله په دې پېړۍ کې د اروپا د لويې وچې سياسي او فرهنګي ګډوډي ښکاره وه، نو په دې وخت کې کليسا يواځينی ارګان و، چې په مدرسو، حجرو او کليساو کې يې د ښوونې او روزنې ډيوه د کمې ځلېدا سره بله ساتلې وه.

لکه څرنګه چې ايمل دورکېم يادونه کړې ده، وايي: دا بايد هېر نشي، چې په اسکو لاستيک زمانه کې په (۱۲ او ۱۳) پېړيو کې اروپايي پوهنتونونه هغه نهادونه او ارګانونه وو، چې د کليسا په غېږ کې او د کليسا د ملاتړ لاندې راغلي وو. د غربي نړۍ د ليد (رنسانس) دوره په اسانګرايي ولاړه دوره ده. دا دوره دغربي نړۍ د انسانانو د ژوندانه په بېلابېلو اړخونو کې د ژورو بدلونونو دوره ده. د ښوونې او روزنې د عمل نظريې هم په کې بدلون وموند. په دې وخت کې يو شمېر متفکران د هغه سختو قيدونو څخه چې منځنۍ پېړۍ ورباندې اچولي وو، ډېر سترې کړي وو او ددې لپاره چې ددغه قيدونو څخه خلاص شي او نور يې د ځانځانۍ مخه نېولې وي، نو د نوي نسل لپاره يې د ښوونې او روزنې يو پراخه او ټولشموله نظام په مخ کې ونيو او تعقيب يې کړو او هغه روزنه چې ددې موجب ګرځي، ترڅو د انسان ټولې قواوې لکه: جسمي، عقلي، اخلاقي او عاطفي په کار واچوي. رابله ( ۱۴۹۰–۱۵۵۳ م ) ددې نظر د مخکښانو څخه دی، نوموړي په زيات ټينګار سره نوی نسل د ټولو علومو يعنې نظري، علمي، رياضي، ژبو او ادبياتو ته هڅولي دي.

په اوولسمه پېړۍ کې په اروپا کې د ښوونې او روزنې په نظريه کې مهم بدلون مخې ته راغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربوي پېژندنه چې په علمي پيژندنې باندې بنا وه، احساس شوه. جان اسوس کامينوس د هغه پوهانو له ډلې څخه دی، چې دې اړتيا ته يې پاملرنه وکړه، نو په همدې نيت اولسمه پېړۍ د کامينوس او جان لاک په پېړۍ باندې مشهوره شوه.

همدارنګه اتلسمه پېړۍ د ښوونې او روزنې له نظره د ژان ژاک روسو (۱۷۱۲ـ۱۷۷۸) او د هغه د پيروانو د پېړۍ په نوم پېژنو او روسو په زده کړه او ښوونه کې د طبعيت ګرايې د متفکرۍ منځته راوړونکی بلل کېږي او د دې نظريې بنسټګر دی، چې وايي: انسانان په فطري ډول نېک پيدا شوي دي.

۱۹ پېړۍ د نومن د روزنيزو نظرياتو عمر بلل شوی دی (بلل کېږي) چې د ښوونې او روزنې په نظر وجوه ( ډول) باندې يې اغېزه وکړه. د ايمانويل کانت د اډياليسم مکتب چې د اتلسمې پېړۍ په وروستيو پورې اړه لري؛ زياتې فکري او تربيتي مفکورې يې منځته راوړي دي، چې کولای شو، د هګل ايډيالېسم،مارکس او ګوسټ کونټ د ماترياليسم او په ځانګړي ډول د ويليام جېمز او جان ديوې د عملګرايۍ د نظريو څخه نمونه واخلو. دې ټولو تربيتي نظرياتو د شلمې پېړۍ په لومړيو کې يې تفکر په ښوونه او روزنه کې غني کړ او د ورستيو مراحلو د بشپړوالي لپاره يې زمينه برابره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیداګوژي موخه او اصطلاح

۱. د پیداګوژي د مفهوم توضیح او تشریح.
۲. د ښوونې او روزنې تعریفونه د علماوو له نظره.
۳. د ښوونې او روزنې اصطلاحات.

## پیداګوژي ته څه اړتیا ده؟

پیداګوژي Pedagogy یا ښوونه او روزنه Education د بشري او انساني ټولنو د یوې اړینې او بنسټیزې اړتیا په توګه، کله د یو واحد هدف او کله هم د بل، کله په یوه بڼه او کله هم په بله بڼه، کله په شعوري، سیستماتیک او قصدي ډول او کله هم په غیر سیستماتیک، غیر شعوري او نا منظم ډول د نړۍ د ټولو وګړو مسلم وي او که غیر مسلم، د روزنې، پالنې او د ټولنې د افرادو د شخصیت او کرکټر د سالمې جوړونې لپاره په کار اچول شوې ده.
په دې توګه که یو څوک وغواړي، چې د هغې په اصلاح او سمون د پرمختګ نېکمرغۍ، د افرادو د نېکو او ښو خویونو، صفاتو او نېکو خصلتونو هیله او غوښتنه کوي، خپلې نېکې هیلې د ښوونې او روزنې په لور متوجه کوي او د هغې څخه غواړي، چې د دوی دغه هیلې او ارمانونه پوره شي.
په دې توګه دغه او داسې نور بې شمېره مثالونه او یادونې په ښه توګه سره څرګندوي، چې پیداګوژي د وګړو، ټولنو او هېوادونو د فردي او ټولنیز ژوندانه او همدا شان د هغوی مادي او معنوي پرمختګ، ودې او پرمختیا نه بېلېدونکی جز دی.
هرکله چې یو شخص، یوه ټولنه او یا یو ملت د ستونزو او کړاوونو د لرې کولو په خاطر او یا د ژوند په اوږدو کې د تغیر او تحول د راوستو لپاره اقدام کوي، تر هرڅه دمخه د ښوونې او روزنې د سالم پرمختګ او سمون او د همدې لارې د ټولنې د وګړو د سالمې روزنې او پالنې لپاره هر ډول هلې ځلې په کار اچوي، اوس به دې ته راشو، چې پیداګوژي یا ښوونه او روزنه چې انسانانو تر دې دمه د ټولنیز ژوند په تغیر او تحول، وده او پرمختګ، د کلتور او تمدن پرمختګ او تکامل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټیزې اړتیاوې بللي دي، په لاندې ډول سره یې تعریفولای شو.

## ښوونه او روزنه د یو پروسې په توګه

باید روښانه شي، چې پروسه Process یو لړ سیستماتیک او دوامداره فعالیتونه دي، چې د یو هدف په لور متوجه وي، نو له دې کبله (من. ر) هم د یوې پروسې په توګه هغه یو لړ سیستماتیک فعالیتونه دي، چې لومړیو کې د سلوکونو هغو ښو ته وده او انکشاف ورکوي، چې هم په خپله د ده او هم د هغې ټولنې لپاره مثبت ارزښت لري، چې دی په کې ژوند کوي، دا باید ذکر شي، چې دا یوه ټولنیزه پروسه ګڼل کېږي؛ ځکه چې هغه د یو ټولنیز ګروپ او د یوې ټولنې په وسیله پرمخ وړل کېږي، نو په دې توګه ښوونه او روزنه په یو ټولنیز ګروپ کې پرمخ ځي او په هماغه کې خپل ژوند ته دوام ورکوي.

د ښوونې او روزنې پروسه د هر سړي لپاره همېشنۍ ده، چې په زېږېدو سره پیل او بیا تر مړینې پورې دوام پیدا کوي.

ددې په هکله امریکایي اروا پوه جان ډیوي Jon Devey داسې وایي، ښوونه او روزنه هغه یوه دستګاه ده، چې د ژوند د کلونو په پام کې نیولو ځخه پرته د ودې او د ژوندانه د بډایه کېدلو لپاره شرایط برابروي، یا هم د ښوونې او روزنې پروسه هغه دوامداره تطابق دی، چې د ژوند د هرې مرحلې لپاره د هدف او هم د ودې لپاره زیات ظرفیت او توان لري.

## ښوونه او روزنه د یو محصول په توګه

پیداګوژي د ښوونې او روزنې د ټولنیزې پروسې د محصول په توګه هم ګڼل شوې او کېږي، چې په حقیقت کې د همدغې پروسې نتیجه ده او محصول هم د یوه سړي په سلوکو کې د هغه بدلون په توګه لیدل کېږي، چې د ښوونې او روزنې د پروسې موضوع ګرځېدلې ده، همدا شان د یادولو وړ ده، چې په سلوکو (کړه وړو) کې بدلون په عمومي توګه د پوهو او پوهېدنو، قابلیتونو، مهارتونو، ذهنیتونو د ایډیالونو او ارزښتونو په بڼه وي، د سلوکونو د دغو ټولنیزو غوره ښو ترلاسه کول هم د دغه دوو پروسو په ترڅ کې چې هغه هم تحلیل وار، د ښوونې او روزنې د پروسې اړخونه دي چې د زده کړې د پروسې او د ښوونې د پروسې په وسیله ممکن کېږي، کله چې یو فرد یا یو شخص خپل چاپېریال سره په کار او عمل کې بوخت کېږي، یو شی تجربه کوي، چې بیا همدغې تجربې په پایله کې د ده په کړو وړو کې یو څه بدلون منځته راځي، خو په هر حال باید وویل شي، ټول هغه بدلونونه چې د تجربو په نتیجه کې منځته راځي د ټولنې له مخې مطلوب نه دي، نو له دې کبله ضروري برېښي چې د دغه تجربو لا ښوونه وشي، ترڅو په دې وسیله هغه د ټولنې له مخې د سلوکو په غوره او ښو بڼو واړوي او البته چې دغه ډول لارښوونه د ښوونې د پروسې په وسیله ترلاسه کېدای شي.

## د ښوونې او روزنې د ډولونو په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. عمومي ښوونه او روزنه General Education : دا هغه ډول ښوونه او روزنه ده، چې د ټولو هغو وګړو لپاره اړينه ګڼل کېږي، چې هغوی د يو ټاکلي ښوونيزې او روزنيزې زده کړې يا (سويې) لپاره روزل کېږي، چې د دې لپاره د ابتدايي ښوونې او روزنې، ثانوي عمومي ښوونې او روزنې او د عالي ښوونې او روزنې اصطلاحګانې هم په کار وړل کېږي او وړل شوي دي.

ازاده ښوونه او روزنه Liberal Eduction د عالي او عمومي ښوونې او روزنې سره مترادفه ده او په عمومي توګه د ازادو هنرونو Liberal First Clooeges يا هم د ازادو هنرونو لور يا Lerbred Arts Corcess له لارې چمتو کېږي، چې په مسلکي تعليمي نصاب کې هم شامل دي.

۲. حرفوي ښوونه او روزنه Vocational Education : هغه ښوونه او روزنه ده چې يوې حرفې ته د شاملېدو د چمتو کولو لپاره کارول کېږي او ځينې وخت د عمومي ښوونې او روزنې معلومات ورکوي، د مثال په ډول؛ زموږ هېواد کې داسې حرفوي ښوونځي لکه د ننګرهار حرفوي مسلکي ښوونځی چې هلته د برق، تخنيک، نجارۍ، تراکتور زده کړه او داسې نورې حرفې ورته ښايي، يا ځينې موسسې هم شته چې بېوزلو او بېکاره ماشومانو ته حرفوي زده کړې لکه اهنګري، خياطي، ويلډينګ کاري، البسه سازي، نجاري، مستري توب او داسې نورې حرفوي زده کړې ورښايي، چې ډېر ځوانان د حرفوي زده کړو څخه برخمن شوي او د خپلو کورونو د يوې مړۍ حلال رزق ګټونکي دي.

۳. بدني ښوونه او روزنه Physical Education : دغه ډول ښوونه او روزنه د يو کوچني او يا يو سړي جسمي اړخونو سره اړيکه لري، چې اوس مهال د عمومي ښوونې او روزنې د يو مهم اړخ په توګه ګڼل شوې ده.

۴. د ځوانانو ښوونه او روزنه Education : په عمومي توګه د ځوانانو د ښوونې او روزنې سره بشپړه اړيکه لري، خو پر يو محدود شوي معنی او مفهوم سره دغه اصطلاح د هغو ځوانانو لپاره په کار وړل کېږي چې يا هيڅ رسمي ښوونه او روزنه ونه لري او يا يې هم په کوچنيوالي کې ډېره لږه ښوونه او روزنه ترلاسه کړې وي.

د هغو ځوانانو په واک کې ورکول کېږي، چې هغوی د ښوونځي د بنسټيزې عمومي ښوونې او روزنې د ترلاسه کولو فرصت نه درلود.

۵. اساسي ښوونه او روزنه Basic Education : هغه ښوونه او روزنه ده، چې د يوې ځانګړې ټولنې د ټولو غړو د عمومي ښوونې او روزنې لپاره په يو څه لږه اندازه ضروري ګڼل کېږي.

۶. اکاډميکه ښوونه او روزنه Academic Education : دا د ښوونې او روزنې هغه برقرار چې په هغې کې حرفه يي او بدني ښوونه او روزنه برخه نه لري.

**د ښوونې او روزنې د سويو په برخه کې**

۱. د ښوونځي څخه مخکې ښوونه او روزنه Pre School Education د لومړني ښوونځي يا د ښوونځي د داخلېدو څخه مخکې ښوونې او روزنې ته ويل کېږي او دوه فرعي برخې يا سويې لري، لومړنی يې د شيدو خوړلو خوړنځی Narseery Education په عمومي توګه دا په درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلنۍ یا څلور کلنۍ کې د ماشومانو لپاره بلدتیا د وړکتون ښوونه او روزنه ده، چې دا ښوونه او روزنه د (۴-۵-٦) کلنۍ کې شاملېږي او دې ته Kinclergerten Education او یا هم هغه ماشومان چې د رسمي شمولیت څخه دوه کاله ټیټ وي، یعنې (۵) کلنۍ عمر ته رسېدلي وي.

۲. ابتدایي یا لومړنۍ ښوونې او روزنې Elementary of Premery Education: د ماشومانو ښوونې او روزنې تمویل ته ویل کېږي او هر کله چې د لومړنۍ ښوونې او روزنې اصطلاح په کار وړل کېږي، وخت په عمومي توګه سره په ابتدایي ښوونې او روزنه او په منځنۍ ښوونې او روزنې سره وېشل کېږي.

۳. ثانوي مېتودونو روزنه Secondary Education: دا د لومړني ښوونځي څخه وروسته ښوونه او روزنه ده، چې په دې توګه سره عمومي ثانوي ښوونه او روزنه د لېسو په ښوونځیو کې او په داسې حال کې چې حرفه يي ثانوي ښوونه روزنه، په حرفه يي ښوونځیو دستګاوو، فارمونو، فابریکو او داسې نورو ځایونو کې برابرېږي.

۴. عالي ښوونه او روزنه Higher Education: هغه ښوونه او روزنه چې د ثانوي ښوونې روزنې څخه وروسته په لاس راځي او په عمومي توګه په لېسو یا کالجونو Colleges او پوهنتونونو کې ورکول کېږي.

لنډه دا چې زموږ هېواد کې پخوا دا ډول ښوونې روزنې شتون نه درلود که یې درلود هم په کمه سویه وې، اوسمهال د ښوونې او روزنې ټولې برخې الحمدلله په زیاتیدو دي، هغه دولتي مامورین چې د هېواد په مرکز کې په کار بوخت دي، دوی خپل ماشومان له ځان سره د کار پر لورې وړي او خاصه روزنه او پالنه يې کېږي. دوهم: اوس د هېواد په کچه دولتي او شخصي وړکتونونه تاسیس شوي، هلته هم زموږ کوچنیان شاملېږي او د ښوونځي څخه مخکې زده کړه او روزنه پیلوي، چې دا دواړه دورې اوسمهال د ښوونځي د شاملېدو دورې ګڼل کېږي.

پټه دې پاتې نه وي چې زموږ هېواد اسلامي هېواد دی او د اسلام په رڼا کې باید خپل کوچنیان وروزو، که چېرته وغواړي چې بچیان يې د دې ټولو دورو څخه مخکې یوه بله د روزنې عالي دوره چې تر دې دمه ممکن په کتابونو او لیکنو کې چا ځای نه وي ورکړی، هغه د تېر خوداګاه یعنې څلور کلنۍ کې شامله ده، هغه د کوچنیانو تشویق او د والدینو اسلامي اند ګڼل کېږي، چې دوئ خپل بچیان د ټولو دورو څخه مخکې جومات یا مدرسې ته ولېږي، ترڅو قرآن کریم له م خې زده او ولولي، که چېرته بیا والدین وس او توان ولري چې په شیدو خوړنتون او یا وړکتون کې خپل بچیان شامل کړي، نو دا بچیان به د وړکتون څخه مخکې په ابتداییه ښوونځي کې د شاملېدو لپاره جوګه شي؛ ځکه چې هغه کوچنیان چې قرآن پاک يې لوستی او زده کړی وي، دوی به ښوونځي کې د هیڅ ډول ستونزو سره لاس و ګرېوان نه شي، لیک او لوست به په اسانۍ سره وکولای شي او حافظه يې هم ډېره چټکه او تېزېږي، او د دغه ماشومانو پایلې به یې د فراغت او پوهنتون کې د شاملېدو پرمهال څرګندې شي، ځکه د هغو کره معلوماتو له مخې چې ما د ښوونې او روزنې په برخه کې کړي د پوهنتون د اول نمره څخه نیولې تر پنځم او د ښوونځي د اول نمره څخه نیولې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم پورې دوی د مکتب له دورې څخه مخکې د قرآن د زده کړې لپاره د کلي جومات او يا هـم مدرسې ته تللي، چې بيا په مخه دورو کې کوچنی خپل ذکاوت او پوهه په ښکاره توګـه ښـودلې او پايلې يې هم مثبتې دي، يعنې مورږ ته لازمه ده چې د دې ټولو دورو څخه وړاندې د قـرآن کـريـم د زده کړې لپاره خپل بچيان او کوچنيان جومات او مدرسې ته د زده کړې د لوستلو لپاره ولېږو، چـې له يوې خوا به مو خپله ديني فريضه اداء کړې وي او له بلـې خـوا بـه مـو د خپلـو تنکيـو ماشـومانو ذهنونه لا پياوړي او د ژوند د پړاوونو لپاره اماده کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونې او روزنې فلسفه او پوهنيز بنسټ

په ټوله کې ښوونه او روزنه، فلسفه او پوهه د خپل ماهيت، دندو او کارونو له مخې په څرگند ډول يو له بل سره نږدې او نه شلېدونکې اړيکې لري؛ ځکه دغه درې واړه پوهنې او موضوعگانې په يوه بڼه او يا هم په بله بڼه سره د عيني واقعيت، ټولنې او انساني مفکورې د ماهيت د څرگندولو او د قوانينو او پرنسيپونو د روښانه کولو په کار او لورې لگيا دي.

د بېلگې په ډول: موږ بايد په دې وپوهېږو چې فلسفه د عيني واقعيت ډېرې ژورې او تر ټولو عمومي قانونمندې څېړې او د ژوندانه ډېرو پېچلو او اساسي مسلو ته ځواب لټوي او ورکوي، خو بيا پوهه د عيني واقعيت د يو ځانگړي اړخ قوانين رابرسېره کوي.

ښوونه او روزنه Education همدغه فلسفي او پوهنيزې لاسته راوړنې د انسان د سالمې روزنې او پالنې له لارې د اوس او د راتلونکي نسلونو ټولنيز پرمختگ او ټولنيز تکامل په واک کې ورکوي، چې په عمومي توگه د ټولو پوهنو په برخه کې که څه هم هغه طبيعت پوهنه وي او يا هم ټولنيزې پوهنې، ورته او يو شان عمل کوي.

له بلې خوا بايد وويل شي، چې په دې پوهنو کې يو شمېر داسې علوم شته چې هغه په ځانگړې توگه د ښوونې او زده کړې په پروسه کې ډېر مهم او اغېزمن رول لوبوي.

د بېلگې په ډول، د اروا پوهنې ټولې ځانگې، ټولنه پوهنه، بشر- پوهنه، لرغون پوهنه او داسې نور......

فلسفه د عقيدو د بيان او څرگندولو په توگه هم تعبير شوې ده. (۱)

---

۱ Theodor Bromeld Philosophies of Education in the Cultural Perspective New York 1955. P.20 .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه د ښوونې او روزنې فلسفه هم هغه عقیدې او ویناوې دي چې د ښوونې او روزنې په برخه کې ورځخه کار اخېستل کېږي، همدا ډول د پورتني تعبیر سره سم فلسفه په عمومي توګه د درېیو برخو واقعیت، پوهې او ارزښت په هکله عقیدې تر مطالعې لاندې نیسي- چې په دې ډول فلسفه هم په درې څانګو وېشل شوې ده.

١. انتولوجي Antology چې د واقعیت Reality پرنسیپونه مطالعه کوي.

٢. ایپستومولوجي Epistemology چې د پوهې Ravledye پرنسیپونه مطالعه کوي.

٣. اګزیولوجي Exiology چې ارزښت Valve پرنسیپونه تر مطالعې لاندې نیسي- باید وویل شي دلته ځکه د فلسفې د درېیو څانګو یادونه وشوه، چې ښوونه او روزنه هم د دغه درېیو ساحو یعنې واقعیت، پوهه او ارزښت مطالعې او څېړنې تر بحث لاندې نیسي او په دې برخه کې کولای شي، چې د فلسفي پرنسیپونو د څېړنو او ګټو له مخې لاس ته راوړنو څخه په زړه پورې ګټه ترلاسه کړي.

همدا ډول په پورته ډول سره د فلسفې د عمومي درې ګونو څانګو د وېش سره سم د ښوونې او روزنې فلسفه Education Phelosopay هم په لاندې څلور ډوله وېشل شوې ده.

١. اصلیت پالنه Essentialism: د ښوونې او روزنې دغه فلسفه او مکتب په دې عقیده دی چې ښوونځی باید تر هرڅه وړاندې په اصلیاتو Essentialism باندې اتکاء ولري، چې هغه هم په خپل ځای هغه ازمویل شوي او امتحان شوي مهارتونه، حقیقتونه او د پوهې قوانین دي چې موږ ته د معاصر تمدن په ترخ کې رارسېدلی دی.

٢. پرمختګ پالنه Progressivism: اصلیت پالنه، په ځانګړې توګه د دوهمې سترې تیورۍ (پرمختګ پالنې) څخه انتقاد کوي؛ ځکه دغه فلسفه په دې عقیده ده چې ښوونه او روزنه Education باید نه یوازې د بهرنۍ نړۍ لوی او ستره محتوا جذب او هضم کړي، بلکې وګړي باید په داسې ډول وهڅوي چې هغوی په اغېزناک ډول سره فکر وکړي.

یعنې، داسې فکر چې تحلیل او تجزیه سرته ورسوي، انتقاد وکړي یا د الترناتیفونو یا متبادلونو Alternatives ترمنځ انتخاب وکړي او هم وکولای شي چې د تجزیې او تحلیل او انتخاب کولو، د دواړو پر بنسټ ځوابونه ترلاسه کړي. باید په لنډ ډول سره وکولای شي عملي مېتود Scientipic Method په کار واچوي او یا په بله ژبه وکولای شي چې د خپل طبیعي او ټولنیز چاپېریال سره په دوامداره ډول او په هوښیارۍ سره تطابق وکړي او کله چې دغه کار سرته ورسېږي، بیا موږ ویلی شو چې وده او پرمختګ مو وکړ.

## د پیداګوژي د علم موضوع

دا یو حقیقت دي چې د علومو هره څانګه یوه ځانګړې موضوع تر څېړنې لاندې نیسي او د لا زیات درک او تشخیص پېژندنې په موخه د ځانګړو واقیعتونو حقایقو موخې، اصول، میتودلوژي او تاریخ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداګوژي هم د ټولنیزو علومو د یوې څانګې په حیث ځانګړې موضوع مطالعه او څېړي او دځان لپاره ځانګړې موخې، اصول، میتولوژي او تاریخ لري.
د پیداګوژي بنسیټزه موضوع د ښوونې او روزنې اړوند مسایل کړنې، نظریاتو او جریاناتو ته شامله ده، چې د انسان د شخصیت په هر اړخېزه وده او پراختیا کې څرګند رول لري؛ نو په همدې بنسټ د پیداګوژي اساسي موضوع د انسان د ښوونې او روزنې اړوند مسایل او موضوعات دي.

## د ښوونې او روزنې مانا او مفهوم

هر هغه لغت چې په مرسته یې مانا لفظ په قالب کې راځي او زیاتره وخت د خلکو په وړاندې څرګند مفهوم نه لري. د یو واحد لغت څخه هر څوک یو اخیستنه لري چې په هغه شخص پورې ځانګړې وي او د نورو د اخیستنې سره لږ او ډېر توپیر لري.
د بېلګې په ډول؛ د ښوونې او روزنې د لغت ډېر استعمال د هغو خلکو لپاره چې زیات یې استعمالوي، څرګند مفهوم نه لري؛ بلکې ډېر څېړونکي ددې کلمې دمفهوم په اړه د نظر بشپړ یوالې نه لري. د ښوونې او روزنې مانا او مفهوم په خپلو اړوند مطالعاتو کې د لومړیتوب څخه برخمنه ده او ددې بحث لومړیتوب د هغو اثارو څخه سرچینه اخلي چې وخت ناوخت د ښوونې او روزنې د کلمې څخه د سم درک د نشتون له امله چې یو شمېر هغو مربیانو او هغو کسانو لخوا چې یو نوي نسل ته د ښوونې او روزنې په پلې کولو کې یې لري او نږدې څخه ګډون کوي (لرې) ترتیبیږي، ځکه چې په واقیعت کې د ښوونې او روزنې د مانا څخه د درک نه شتون ممکن ددې باعث شي، چې روزنیزو فعالیتونو کې چې په حقیقت کې یوه وسیله ګڼل کېږي او له دې څخه زیات څه نه دي، هدف وګڼل شي نو له دې ځایه به د ښوونې او روزنې بهېر په نیمه لار کې ځنډیدلی پاتې شي، ددې لپاره چې د ښوونې او روزنې بهېر سره ښه بلد شو، نو لومړی یې لغوي مانا واضح کوو او وروسته هغه تعریفونه چې د مختلفو نظریو پر بنسټ شوي، بیانوو.
په حقیقت کې د تعلیم او تربیې کلمه د لاتیني کلیمې (Education)څخه اخیستل شوې، چې د ساتنې، کرنې او نمو ماناوې لري، لکه: څرنګه چې د پیل نه له دې اصطلاح څخه د یو حیوان او یا د نبات ساتنې او یا هم پاللو او نمو په اړه استفاده شوې، خو د وخت په تیرېدو سره یې مانا بدلون موندلی دی او یوازې د انسان د پاللو لارښوونې او څارنې په موخه په کار وړل شوې ده او د انسان د ښوونیزو او روزنیزو نظرونو او فعالیتونو په اړه ترې کار اخیستل شوی دی. ددې خبرې په پام کې نیولو سره چې د ښوونې او روزنې له لارې کولای شو، فردي وده او ټولنیزه ارامتیا لاسته راوړو، دابهېر د فرد په ژوند کې مهم رول لري. په ټولنیزه توګه د فردي استعدادونو وده او د ټولنیز ژوند د اساساتو پیاوړتیا د ملي اوبین المللي ارمانونو پراختیا او د افرادو تر منځ د تفاهم رامنځته کول د ښوونې او روزنې ترسیوري لاندې صورت نیسي.
لکه څرنګه چې وړاندې یادونه وشوه چې د ښوونې او روزنې د مفهوم څخه بېلابېل براداشتونه اخیستل شوي او ډول ډول تعریفونه وړاندې شوي؛ مګر دهغې سم ډول پېژندل مهم او اړین ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، تر څو هغه مفهوم ته په پاملرنې سره چې د ښوونې او روزنې څخه يې لرو، کړنې، موخې، پروګرامونه او پلانونه د هغې د مفهوم پر بنسټ منظم او ترتيب کړو. د همدې اړتيا پر بنسټ د امکان تر حده د بېلابېلو پوهانو د نظرياتو پر بنسټ تعريفونه ذکر کوو، تر څو و کولای شي، د ښوونې او روزنې په اړه تاسوته سم فکر او يو ډول صحيح ذهنيت درکړي.

ښاغلی اميل دورکېم فرانسوي جامعه څېړونکی وايي چې: (تعليم او تربيه يوازې محفوظاتو ته متوجه ندی، ځکه چې دا مهم امر ماشوم د ژوند لپاره نه تياروي؛ بلکې د تربيت موخه ترې عبارت ده، له هغه ساخت او کړه اوړه هنر څخه چې په انسانانو کې شته او د مفيد ژوند لپاره لوی شي).

د مربي پستالوژي او تربيتي روانشناس دتعليم او تربيې په تعريف کې وايي: (تعليم او تربيه عبارت له طبيعي نمو، تدريجي او د ټولو استعدادونو همغږي او موجوده قوتونو په اسات کې دی).

الماني مربي او فيلسوف هربات وايي: (تعليم او تربيه له ماشوم څخه ساتنې او تعليم او هغه مالوماتو څخه عبارت ده چې هغه د هنر خاوند او مهارت او فضليت او تقوا خاوند کړي. او له تعليماتو څخه موخه بايد د شخصيت کمال ته لاسرسی، يعنې د جسم او روح اعتدال او هماهنګي سره برابره کړي.)

فروبل د المان لوی مربي پدې عقيده دی، چې (تعليم او تربيه د قوو د نمو او بشپړتيا د استعداد د انسان په پټ وجود کې دی. )

جان ديوي د امريکا لوی فيلسوف وايي: ( تعليم او تربيه د يو نفر د تجربياتو سازمان بيا نوي کېدنه ده او د يو شخص د متقابل برخورد سره او د محيط سره پوهېږي. )

په ګُلي ډول سره د تعليم او تربيې څخه ډېر تعريفونه لاس ته راغلي چې موږ دلته ددوی ځينو تعريفونو ته اشاره کوو:

۱ـ ګُلې جريانات د توان په نمو او د انسان په رفتار ته تعليم او تربيه ويل کېږي.

۲- تعليم او تربيه ټولنيز جريانات دی، چې دهغه په وسيله انسان اجتماعي شايستګی او فردي نمو ته رسېږي، نوموړی جريان د مکتب غونډې بنسټ پواسطه جوړېږي.

۳- تعليم او تربيه مداوم، جامع او د انسان د اعلا حد ته رسولو لپاره، د فرهنګي غنيمت په خاطر او د ټولنې د تکامل لپاره يو فعاليت ده.

۴- تعليم او تربيه هغه ترتيب شوې او پيوسته زده کړه ده، چې د يو فهم او مهارت د انتقال لپاره طراحي شوې، چې د ژوند په ټولو فعاليتونو کې مهم وي.

۵- تعليم او تربيه يانې يو کس عيارول دي، په هغه صورت کې چې نه يوازې د چاپېريال سره موافقه وکړي؛ بلکې وکولای شي، په هغه محيط کې دخل او تهرف وکړي او د هغه په پايله د دايمي، فردي او ټولنيزې ودې باعث شي.

٦- تعليم او تربيه د صحيح قضاوت قوي نمو څخه عبارت ده.

۷- تعليم او تربيه عبارت له دوباره سازي او د تجربياتو د بياجوړول، البته پدې اند چې تجارب پراخوالی وومي او شخص د وروستي هدايت او کنټرول لپاره قابل وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- تعليم او تربيه عبارت ده د شخص د هدايت يا لارښود نمو.
همدارنگه مو بايد دې ته پام وي چې (تعليم) او (تربيه) بايد د يو بل څخه بېل ونه گڼو، تعليم او تربيه لازم او ملزوم دي.
هغه علم دی، چې څرنگه د هدف، روش او موضوع او محتوا لرونکي دي. عقلې موضوگانو او نظرونه په هغه شامل دي.
۲- فلسفه ده: چې څرنگه په هغه بحث چې موخې، اصول او قواعد منطقي استدلال پر بنسټ د فلسفې موندونکي په هغه ليکل شوي.
۳- هغه کسب دی: چې په هغه عقلي موضوعات روش سره تعينوي.
۴-هنر دی په هغه کې پاکې او کوچني کارونه شامل دي، د انسان جوړښت کې سلگونه ټکر يا نقطې دي چې په دې کې وجود لري.
۵- پوهه، هنر سره يو دي، په هغه کې د شاگردانو نفوذ شامل دي.
٦ـ صنعت دی: کولای شو تعليم او تربيه د توليدي فابريکې په توگه ومنو، چې خام مواد په پخو موادو باندې اړوي.
۷- خدمت دی: تعليم او تربيه يو خدمت دی چې د ټولنې يا د هېواد د پرمختگ سبب گرځي.
په دې توگه کولای شو يو شخص ازاد پرېږدو چې يوه ټولنه سقوط او يا پرمختگ خواته بيايي.
ېوازې داسې ښوونه او روزنه د عمومي، ټولنيز او فرهنگي بڼاينې د پوهې د انتقال لپاره به بسنه ونه کړي؛ بلکې د هغې برنامې بايد د لاندې ځانگړتياوو علمي ليد، نوې پنځونې، خلاقيت او د کار امد او نوښتيزو وگړو لپاره د زمينه سازي څخه برخمنې وي.

## دښوونې او روزنې ارزښت

ښوونه او روزنه د انسان د سموالي او د ښه ژوند لامل گرځي، ځکه د انسان خوف او کمزورتيا د پيدايښت پر مهال ټولو ته ښکاره او مالوم وي، نو يوازې ښوونه او روزنه ده چې دغه کمزوري او ناتوان انسان د لاندې ځانگړتياوو کرامت، عزت، درناوي، لوړفکر، زړه ورتيا حکمت او عدالت څخه برخمن وي. که چېرته انسان ونه روزل شي او يا د انساني ټولنې تر اغېزې لاندې لازمه روزنه ونه ويني، نه يواځې پورته زکر شوي ځانگړتياوې به پکې ښکاره نه شي بلکې د هغه کړنې او اعمال به د حيواناتو د کړنو په څېر شي. د هغه کوچني ماشوم کيسه چې د انساني ټولنې څخه لرې په ځنگل کې لوی شوی و ښايي، چې د انسانيت په جوړولو او د شخصيت په بشپړلو کې روزنه څومره اړين رول لري. له دې پرته به وحشت او بربريت پر تمدن او مدنيت باندې غلبه تر لاسه کړي. په هر حال که چېرته ښوونه او روزنه د ژوند حقيقت وگڼو او پرته ددې څخه ټولنيز ژوند ناشونې وگڼو؛ نو ښوونه او روزنه ډېرې گټې لري، چې د هغوی ذکر کول دلته ډېرې ستونزمنې دي، خومونږ په لنډه توگه ځينو گټو ته دلته نغوته او اشاره کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دښوونې او روزنې فردي (ځاني) ارزښت

کولای شو چې ښوونه او روزنه د روح ښایست او کمال ته د رسېدو لپاره یو وسیله او د فردي نیکمرغه کېدو لپاره یو عامل و ګڼو. انسان کولای شي چې د ښوونې او روزنې تر سیوري لاندې حقیقی او ریښتینی انسان شي. ښوونه او روزنه په دې توانیدلې چې د انسان دننی جوهر کشف کړي او د هغه قواوې نورې هم ځواکمنې کړي او هغه ته ښکلی زهنیت ورکړي او تفکرات یې را ژوندي کړي او د فرد ځخه زړه ور، خلاف او خپلواک کس جوړکړي. انفرادي ژوند ښکلی کړي او ټولنیز ژوند ته پراختیا ورکړي، نو روزنه د فرد د شخصیت بنسټ دی چې وړتیا او استعدادونه غوړوي او لوری ورته ټاکي. د انسان شخصیتي لورو ته وده ورکوي او پشپړوي یې. د انسان دننې محیط ته وده ورکوي او عمل ته یې راکاږي همدارنګه روزنه د هوډ او ارادې ځواک ته پیاوړتیا ورکوي او انسان دې ته اړ باسي چې سم ګام پورته کړي، سته یا وجود پیاوړی کوي او همدارنګه د تعقل، تدبیر او څېړنې لپاره لاره هواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونې او روزنې ټولنیز ارزښت

که په ټولنیز ژوند کې یو فرد د خښتې او مهرې په څېر وګڼو؛ نو وبه مومو چې د هر فرد روزنه د مهرې په څېر ده، چې د ژوند پر مخ بیولو کې ډېر اړین دي. د روزنې مساله د ملتونو او جمیعتونو لید او مساله ده، چې د فرد او د ټولنې کړنه پکې اغېزه لري. شونې ده چې فردي هوښیارتیا د ژوند او د ټولنې په سرنوشت کې ګټوره وي. کله چې افراد تر روزنې لاندې نیول کېږي، په حقیقت کې دا دټولنې د بدلون او اصلاح لپاره یوه هڅه ده، چې مثبتې فردي او ټولنیزې کړنې رامنځته کوي، نو بالاخره دښوونې او روزنې ارزښت د ټولنې له پلوه تردې حده دی چې ډېر مشران یې له مریتوب څخه وژغورل او د خپلواکۍ او کمال څخه یې برخمن کړ او د نوي ژوندانه لپاره یې چمتو کړل تر څو خپل او د نورو حقوقو ته درناوی وکړي او خپلې ټولنې ته بدلون ورکړي.

### د خپلواکې په ترلاسه کولو کې د ښوونې او روزنې ارزښت

علمي او اخلاقي روزنه چې څومره پراخه وي، همغومره به انسان پوه او د ښه فکر او تدبیر خاوند وي او د یو ښه او نیکمرغه ژوند په ټاکلو کې به بریالی وي. هر انسان چې د خپل سرنوشت په وړاندې په اګاهانه او مسؤلانه شکل عمل وکړي، هغه خپلواک او ازاد انسان دی، نه غلام؛ نو هغه ټولنه چې د ریښتیني خپلواکۍ او ازادۍ څخه برخمنه وي. ښکاره ده چې دغه امتیاز پرته له کورنۍ او ټولنیزې ښوونې او روزنې څخه نشي ترلاسه کولای. له بل پلوه مطلق او بې بند وباره ازادي هم ازادي نه ده؛ بلکې یو ډول قید دی چې انسان په حیوانې قواوو کې راګیروي او کمال ته د رسېدو څخه یې مخنیوی کوي، نو په پایله کې باید وویل شي چې خپلواکې یانې د مسوولیت، ځکه که یو څوک خپلواک نه وي، نو هغه به مسوول هم نه وي. د انسان طبعي وده باید د هغې ښې او نورو اړتیا وده وي، تر څو جسم او روح په طبعي همغږۍ او متعادله بڼه ګټور وي. په انساني ټولنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ښوونه او روزنه چې د لازمې او مناسبې ازادۍ څخه برخمنه نه وي او زده کوونکي د يو شمېر قيد او ناوړه پروګرامونو ښکار شي؛ نو نه بايد د يو کارنده ازاد او ليوال انسان انتظار او غوښتنه وکړو او همدارنګه د سمې ښوونې او روزنې اصول نه مراعتول به زده کوونکي زيانمن کړي.

## د ښوونې او روزنې ارزښت د انساني اړيکو له پلوه

ډېرى کارپوهان دي چې خپله پوهه او وړتياوې په غير انساني لاروچارو او د خپل شخصي ګټو لپاره کاروي او په دې کار سره وګړو او ټولنې ته زيان اړوي او په انساني اړيکو کې د نا کاره کړنو لپاره لاره هواروي لکه: حسادت، کينه، بخل، زياته ځان ښودنه، دروغ او بدبيني چې د اخلاقي زايلو څخه دي دود کېږي او په پايله کې خلک امنيت او سوکالي د لاسه ورکوي او يو بل په وړاندې خوابدي کېږي؛ نو بناً د يو سالم انساني ژوند لپاره چې د مينې، صميميت او اعتماد څخه برخمن وي څه بايد وکړو؟ ځواب: وړتياوې او تخصص لرل لازم شرط دی او بسنه نه کوي يا په بل عبارت د تخصص او وړتيا لرل اړين نه دی؛ بلکې اړين دادی چې خلک په خپل منځ کې ښنګه اړيکه لري. يوازې انساني اړيکه ده چې موږ ته خوښي، خوشحالي او سوکالي رابښي، نو د ټولنې، وګړي بايد په دې پوه شي چې د هغوی روحي او رواني سوکالي يوازې نورو سره په اړيکه لرلو کې ده. ملګرتيا، درناوی، مسؤليت، همدلي او د انسانانو د حقوقو رعايتول کولای شي چې انساني اړيکو ته پراختيا ورکړي او ټولنه د اصلاح په لور سوق کړي او په دې بايد پوه شو چې د دغه ښه والي رامنځ ته کول يوازې د روزنې له لارې شونې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونې او روزنې او اروا پوهنې ترمنځ اړیکې

پیداګوژي د اروا پوهنې سره د ډېرو زیاتو اړخونو له مخې نږدې اړیکې لري، چې په دې توګه د یو شخص د ښوونې او روزنې ماهیت او مقدار د هغه د ذهني وسیلو په ذریعه ټاکلی کېږي او له همدې کبله د ښوونې او روزنې (پیداګوژي) پرنسیپونه هم په حقیت کې هماغه د اروا پوهنې Psychology حقایق او پرنسیپونه دي.

د اروا پوهنې یا Psychology بېلا بېل ښوونځي او سیستمونه.

د اروا پوهنې مختلف افکار او نظریې شتون لري، چې د دغه مفکورو او نظریو یوه طبقه بندي دلته په لاندې ډول داسې کوو:

## جوړښتي یا وجودي Structuror Exeistental

جوړښتي یا وجودي نظریه په لویانو، چې هغوی خپلې نظریې تر زیاتې اندازې د Wandt څخه ترلاسه کړې دی او اصلي لارښوونې یې هم د ټینچر Tetchener دی.

د زیاتې اندازې د ذهني پروسو د تحقیق، تحلیل او تجربې سره ښه لوی او هم د ذهني پلټنې Intercospection څخه د یو سیکالوجیکي مېتود په توګه کار اخلي او په عین حال کې تر دې چتر او فرضیې لاندې کار کوي، چې د تجربو د هر حقیقت یا هورې یوې پدیدې د شعور ریښې په عصبي سیستم کې نغښتې دي.

نو، په دې توګه جوړښتیانو (د جوړښت پیروان) د اروا پوهنې د پروسو له م خې د بېلا بېلو حسي-غړو په هکله ډېره مهمه او اړینه علمي پوهه ترلاسه کړې ده.

خو، له دې سره د جوستي نظریې یوه لویه کمزورتیا په دې کې ده، چې هغه تحلیلي حجراتو باندې ډېر ټینګار کوي او په داسې حال کې چې د اروا پوهنې اصلي دندې او وظیفوي اړخونه له پامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځوي.

### دنده پالنه Funectionalism

د جان ډیوي J. Dewy او کار Corr په وسیله لارښوونه شوې ده او د دې تیورۍ پلویان لکه چې د نوم څخه یې څرګندېږي، شعور د هغه د جوړښت له مخې نه، بلکې د هغې د دندو لـه مـخې تـر مطالعې لاندې نیسي، په دې توګه د دغه ډلې لارویانو (اروا پوهانو) زیاته مینه په دې کې ده چې د چاپېریال سره د بشري موجود د تطابق Aclyustment په برخه کې د شعور ډول تر مطالعې لاندې نیسي. همـدا ډول ددې تیـورۍ پلویـان پـه دې باورمنـد دي چـې انعکاسـونه Replexes او غریـزې Instinects د غیر شعوري سلوک بنسټونه دي، خو له بلـې خـوا پـه دې بـاور دي چـې شـعور پـه سـلوک انعطاف منونکي او د بدلېدو بڼه لري او کولای شي خپل ځان د شرایطو سره سم کړي، چې په دې توګه د دې پلویانو د ذهني ودې له مخې د وراثت Genetic اړخونو په برخه کې د زیاتې پوهنې په ترلاسه کولو او هم له تطابق یا زده کړې سره د عواطفو د اړیکو په برخه کې زیاته مرسته کړې ده.

### سلوک پالنه یا رفتارګرایي

د شعور یا ذهن سره په دې توګه علاقه نه لري، بلکې داسې فکـر او خیـال کـوي، چـې کېـدای شي ارواپوهنه Psychology یوازې هغه وخـت علمـي بڼـه غـوره کـړي، چـې وکـولای شي، تـر خپلـې مطالعې لاندې فعالیتونه په افقي توګه سره اندازه کړي.

سلوک پالنه چې د واټسن Watson په وسیله رامنځته شوه، د SR فرضیه خپله بنسټیزه تیـوري ګڼـي او د SR فرضیه په دې عقیده او باور ده چې ټول سلوکي ځوابونه پـه مسـتقیمه او اتوماتیـک ډول د فزیکي انګېزو څخه مینځته راځي.

چې په دې توګه سلوک د تحریک په وړاندې د بېلا بېلو ځوابونو نتیجه ګڼل شوې ده، چـې شـعور د عصبي سیستم په پام کې ونیول شي، باید هغه د انګېزو او یـا هـم د ځوابونـو لـه مـخې کنـترول او رهنمایي شي، همدا ډول دغه تیورۍ په دې باور ده، چې یوه انګېزه ښایي بـې لـه دې چـې د هغـې نورو سره عوامل په پام کې ونیول شي د یو شخصي ځواب غوښتونکی وي، چې په دې ځـای کـې ښوونه او روزنه هم یوازې د انګېزو او ځوابونو Responeses ترمنځ د بـې شـمېرو اړیکـو جـوړول دي او همدا ډول همدغه سلوک پالان ول، چې د لومړي ځل لپـاره یـې د تورانـدا Toranda د زده کړې قوانین رامنځته کړل او هم یې د مشق او تمرین په هغه قـانون او د ښـوونې او روزنـې پـه هغـو پرنسیپونو باندې پوره تاکید وکړ، چې په زده کړه کې یې په تمرین او تکرار باندې ټینګار کاوه.

سلوک پالانو یا د سلوک د پیروانو اروا پوهنې سره د یوې پـوهې پـه توګـه دا وړ مرسـتې کـړې دي، چې په دې توګه په دغو مرستو کې هم په سایکالوژي کې مطالعه شـوي، د علمـي مېتـود کـارول د سلوک په ارتباط د هغو بدلونونو د دندو په هکله پوهه او د عـاداتو جوړولـو پرنسـیپونه شـامل دي، خو د دې سره د سلوک پالنې په برخه کې یو مهم مخالفت له دې کبله شوی، چـې هغـه سـلوک او زده کړه په یو میخانیکي توګه تشریح او توضیح کوي او هم انسـان د داسـې ماشـین یـا حیـوان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشابه کوي چې هغه نه شي کولای خپل عکس العمل يا سلوک په داسې توګه تعديل او يا اصلاح کړي، چې د ذکاوت د کارولو له لارې د يو نوي حالت سره په جوړه کې راځي.

### د ښوونې او روزنې اقتصادي ارزښت

د نفوسو ډېروالی، بېکاري او دنړيوالو اړيکو پراختيا سره د خلکو اړتيا او غوښتنې ډېرېږي. هغه ګامونه چې د ټولنې او د وګړو له پلوه د خلکو د مادي او اقتصادي اړتياوو لپاره صورت نيسي. اقتصادي پرمختيا رامنځ ته کوي او د ټېکنالوژۍ د رامنځته کېدو لامل ګرځي. همدارنګه د موهبات او زېرمو څخه ګټه اخيستنه ښوونې او روزنې ته اړتيا لري. د يوې ټولنې اقتصادي زېرمې عبارت دي له:

**الف**. طبيعي زېرمې: د ځمکې لاندې لکه معادن، فلزات، قيمتي ډبرې، نفت او ګاز د ځمکې پرمخ زېرمې: ځنګلونه، ځمکې، سېندونه، اقيانوس

**ب**: مادي شتمني: نقدې روپۍ، سره زر، نقره، لاسي صنايع او ګران بيه فلزات (عتيقه) او نور.

**ج**: انساني ځواک او قدرت: مهارتونه، تخصص، هوښيارتيا، مديريت او رهبري، نوښت، نوې پنځونې چې ددې اقتصادي ارزښت پورته دواړو عواملو څخه اړين دی، ځکه د هر ډول زېرمو څخه ګټه اخيستنه د (انساني پانګې) پورې تړلې دي؛ نو پر ښوونې او روزنې پانګه اچونه د ماهرينو، تجربه کارو او متخصصينو وګړو روزنه ده، خو که په اوږد وخت کې ترلاسه کېږي؛ نو د لنډ مهاله څخه ډېره ګټوره ده. که چېرته د يوې ټولنې وګړي کارندوي، اقتصادي او ټولنيز فعاليتونه يې لازم تخصص او مهارت ونه لري، يعنې اقتصادي توليدات ونه لري؛ نو د هغې ټولنې اقتصاد به شاتګ وکړي. د توليداتو کيفيت به کمښت و مومي او هرڅه به په لوړه بيه توليد شي. اقتصادي کمزورتيا د خرڅلاو ارزښت کموي او ژوند له ستونزو سره مخامخ کوي. همدارنګه بنسټيزې اړتياوې به ارزان صادر او مصنوعي جامې او لباس به په لوړه بيه وارد شي، نو په اوسنۍ نړۍ کې پر ښوونه او روزنه پانګه اچونه يو ښه اقتصادي پانګه اچونه ده.

تشويق کوونکې برخه به د اقتصاد منابع او د اقتصاد د پياوړتيا په خاطر د توليد په کيفيت او کميت کې د ماهرينو پواسطه ښه والی راولي. يوازې تعليم او تربيه ده، چې مناسب شکل، زمان او همغږۍ ته اړتيا لري. د ټولنې د ضرورت په خاطر د اقتصادي توليداتو بډايې د اقتصاد تضمين کوي او همدا ده، چې صنعتي چرخونه متحرک کوي او په نتيجه کې يې تکنالوژيک پرمختګ رامنځته کوي، نو د ټولنې د رفاه د تامين سبب ګرځي، په دې سره کولای شو چې د محدودو امکاناتو څخه ښه استفاده وکړو او پدې کار سره به هېواد خپلواکۍ سرلوړۍ او کاميابۍ په لور روان شي.

### د ښوونې او روزنې سياسي اهميت

په اوس وخت کې تاريخي، سياسي تجربې او د انسانانو تلاش په ټوله کې د اجتماعي تحولاتو او انقلابونو ښوودونکی دی، چې عام بشريت ازادۍ ته ميل لري او ددې هدف دښه تحقق لپاره د خلکو حکومت په خلکو باندې يا په بل عبارت (دخلکو واکداري) چې دا ټول طبيعي، مدني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



انساني حقوقو ته احترام لري او فردي او ټولنيزه ازادي په پام کې لري، نو ددې کار لپاره بايد خلکو په ذهنونو باندې کار و شي او خلک دې ته تيار او تربيه شي چې څنګه دې موخو ته ورسيږي، يا په بل عبارت هغه وګړي چې د حکومت عمده چارې په مخ وړي. د کوم ډول شرايطو او خصوصياتو لرونکي به وي. په عمومي شکل دا چاره هم د تربيتي او تعليمي سازمانونو په غاړه ده، چې وړ ا شخاص چې د قوي سياست مداران او د يوې دقيقې برنامې څخه بهرمند شوي وي؛ وروپېژني، نو پدې لړ کې بايد هغه اشخاص چې د قدرت د رهبرۍ استعداد څخه بهرمند شوی، په نښه کيږي او بيا په هغو کې ددې ذهنيت جوړول چې مسؤليت د لوړو اجتماعي مقاماتو مديريت او د هغوی د رهبرۍ لپاره لازمه اماده ګي ولري، پيژندل شوي اشخاص بايد د فرهنګي، اجتماعي، سياسي او اقتصادي حساسيتونو څخه بايد برخورداره وي، نو پدې اساس ددې ډول اشخاصو په غوره کولو کې ډېر زيات دقت په کار دی او پرته له توپير(تبعيض) څخه د خلکو له منځ انتخابيږي، نو که پدې کړنه کوم مدير انتخاب شي هغه به خامخا يو مسؤل انسان دوست مددګار، جامعه جوړونکی او سالم مدير وي. که په يوه ټولنه کې د سياسي نقطې له نظره د خلکو په مشوره د ازادۍ په لاره او د مادي او معنوي سوکالۍ(رفاه) په تکامل کې چې فرد او اجتماع ته ورکړل شوی وي، د يو شخص په ټاکلو کې ګام پورته کړي، نو حتمي ده چې خامخا به د تعليم او تربيې مثبت تاثير او اهميت ټولو عامو خلکو ته د لمر په شان واضح شي، نو په دې اساس د تربيتي سازمانونو اساسي دنده ده چې ځوانان بايد د ټولنې د سياسي اهدافو سره بلد کړي او د هغې په ساتلو کې له ځانه وفاداري وښيې او هم فردي ازادۍ ته ژمن وي. واکدار بايد په خپلو ټولو تصميمونو کې د ټولنې او فرد د ضرورت پر بنسټ الهام واخلي او د هغې مطابق وړ کړنه تر سره کړي، لکه څنګه چې سياست، اقتصاد، فرهنګ، اخلاق، اجتماع تر تاثير لاندې راوستلی شي،خو دا تر تاثير لاندې راوستل بايد يو طرفه نه وي او په مساويانه شکل ټولو ذکر شوو برخو ته رسېده ګي وکړي او کړنه د هغوی د ضرورت پر بنسټ صورت ونيسي. د دولت واکداران او سياست مداران بايد پدې اګاه او خبر وي، چې څنګه عامو خلکو ته ددې ذهنيت ورکول چې تعليم او تربيه د انسانانو په ژوند او زنده ګۍ کې څه رول لري؟ د يوې ټولنې فرهنګ اقتصاد او اجتماعي روابط او بالاخره سياسي خوشبختي او بدبختي او سرنوشت د همدې ټولنې د واکدارانو سياست د تعليم او تربيې د کيفيت سره تړلې ده. په مختلفو وختونو کې تربيې رنګا رنګ مفاهيم ځان کې نيولي او د عقيدوي شرايطو پر بنا اجتماعي، اقتصادي، سياسي شرايطو پر بنا او داسې نور تغيرات موندلي او له هغه ځايه څخه چې تعليم او تربيت د هرې ټولنې د ژوند اينه ده نو هر ډول اجتماعي تحولات د ضرورت وړ تغيراتو سره په هغه جامعه سره مل وي.

پدې اړه چې کوم مطالب مطرح شو. دې پايلې ته رسيږو چې اجتماعي تربيت بايد د مادي فرهنګ او معنوي جامعې او د احترام رعايت پر بنسټ او واقعي، فردي او جتماعي ضرورتونه برنامه ريزي شي. پدې اړه په جامعه کې د شعور او پوهې د پورته وړلو او د مهارتونو زده کړه، تخصص، پوهاوی، واقيعت منل، جهان کتنه، تقوا او بالآخره خلاقيت او نوښت منځ ته کول بايد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزشي اهدافو د تعلیم او تربیت قرار ونیسي، څکه چې د جامعې سعادتمندي او نیکبختي په ښه برنامه او صحیح اجرا کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونې او روزنې بیولوژیکي بنسټ

## د ښوونې او روزنې بیولوژیکي اړخ اهمیت

باید وویل شي، چې د ښوونې او روزنې بیولوژیکي اړخ، د ښوونې او روزنې د پروسې د هر یو مفهوم لپاره بنسټیز اساس ګڼل کېږي، حتی تر دې اندازې چې کېدای شي ښوونه او روزنه په بشپړ ډول سره یو انسان د بیولوژیک تطابق په توګه وګڼل شي.

ځکه چې د یو فرد د زده کړې ټول وسایل د هغه د ارثي جوړښت پـه وسیله برابرېږي، ښوونه او روزنه نه شي کولای چې د یو فرد یا یو سړي په جوړښت کې کوم نوی شـی رامنځتـه کـړي، بلکې هغه یوازې کولای شي، چې د یو سړي پټو قواوو او یا بالقوه استعدادونو Latenal Potentialis تـه وده ورکړي.

## د ذهن او بدن اړیکې

د لاندې بېلا بېلو دلایلو له مخې مغز (Brain) او ذهن (Mind) یو له بل سره نژدې او نه بېلېدونکې اړیکې لري، لومړی د هغو ذهني ناروغۍ د اختلالاتو له کبله منځته راځي، چې په مغز کې رامنځته شوې وي، دویم د اناتومي له مخې اعصاب چې د حسي غړو څخه مغز تـه تللی دی، د عصب تحریکونه مغز ته لېږدوي او په دې توګه په ذهن کې احساس منځته راځـي او بیـا هـم بېرتـه دغـه عصبي تحریکونه د حرکي عکس العملونو لپاره د بدن نورو برخو او عضلاتو ته پرمخ ځي.

***درېیم:*** د مغز د ځېنو برخو له منځه تلل او زیان رسېدل په سلوکو یا کـړو وړو کـې ځېنـې بدلونونـه رامنځته کوي.

***څلورم:*** عمومي تجربې لکه تحریکوونکی، زهر او تبه په مستقیم ډول د مغز په حالاتو کـې بـدلون راولي او هم په شعور باندې اغېزه اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***پنځم:*** د مغز اندازه او جوړښت په عمومي توګه لوی مغز د لوړ ذکاوت ښکارندوی وي، خو په هر حال بیا هم د جوړښت ظریفوالی، د تکامل اندازه او د نورو اړوندو قشرونو وده یوازې د مغز د وزن په نسبت د ذکاوت سره زیاتې اړیکې لري.

## د انسان او نورو ژویو ترمنځ ورته والی

د بیولوژي له مخې انسان یو ژوی (حیوان) دی او هغه یو لوړ ژوی دی، خو د دې سره سره بیا هم د نورو ژوو سره د زیاتو اړخونو له مخې ورته والی لري.

***لومړی:*** د هغه د بدن اساسي برخې او د هغو شکل او ترتیب د ځینو ژوو لکه ایپ Ape او ګوریلا Gorilla سره ډېره نږدې ورته والی لري.

او د هغوی د وینو د رګونو، غدو، عضلاتو، اعصابو، حسي غړو، غاښونو او د ژوند او د بدن د نورو غړو ترمنځ نږدې تطابق موجود دی.

***دویم:*** د فزیولوژي له مخې د انسان د غړو دندې او د هغه د بدن د بېلا بېلو برخو عکس العملونه او فعالیتونه تر زیاتې اندازې د نورو ژویو سره ورته والی لري.

همدا ډول د انسان او نورو ژویو حسي غړو، عصبي سیستم او عضلاتو ترمنځ هماهنګي تر زیاتې اندازې یو شان ده او هم یې فزیولوژیکي پروسې لکه تنفس کول، د وینې دوران او میتابولېزم سره ورته وي.

***درېیم:*** د نطفې وده، د نطفې تشکیل او د هغې د ودې موده په انسان او نورو حیواناتو کې سره ورته وي.

د مثال په توګه حجره د جوړښت واحد دی او پروتوپلازم هم د هغه جوړونکي مواد دي، همدا شان د نطفې د دوو مرحلو یعنې د حجرې د وینې او تکثر څخه تېرېږي.

## په ښوونه او روزنه کې بیولوژیکي موخه

د چاپېریال سره تطابق د یو حیوان د بقا یا پایښت وسیله ده، خو په انسانانو کې د تطابق دغه پروسه نه یوازې په خپله په انسان کې د بدلون د راوستلو له لارې، بلکې همدا شان په چاپېریال کې هم د بدلون د راوستلو له لارې سرته رسېږي، نو په دې توګه د همدغه وروستي تطابق له لارې دی چې د چاپېریال په بدلون سره هغه د خپلو هدفونو سره سموي او همدغه شی په نورو ژویو باندې د انسان د ښه والي او لویوالي نښه نښانه ده.

## ولې انسان په لوړه او عالي توګه سره تطابق کوي؟

بشري موجود نه یوازې د خپل بیولوژیکي جوړښت له مخې، بلکې په هغه شان چې مخکې د نورو ژویو سره ورته وښودل شو، کولای شي چې په اغېزمن ډول سره تطابق وکړي، بلکې دغه قابلیت د ځینو هغو ځانګړو، فزیکي خصوصیاتو او مشخصاتو محصول دی، چې یوازې بشري انواع یا ډلو پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم یو چې د ښوونې او روزنې لپاره ارزښت لري، په لاندې ډول سره دي.
لومړی: د لاسونو ازادي، په نورو ژوو کې څلور پښې، ټولې د خوځېدو، تکیه کولو او ځینو نورو دندو لپاره په کار وړل کېږي، خو یوازې انسان دی چې د هغه دوه پښې د خوځېدو او تګ کولو لپاره په کار وړل کېږي او دوه لاسونه یې نور هم کولای شي، چې ډېر ظریف او نازک کارونه او ځانګړې دندې پرمخ بوځي، چې په دې توګه هغه کولای شي خپل لاسونه په بېلا بېلو لارو کې د یوې تنستې د پېیلو (ګنډلو) څخه بیا د یوې پیانو تر غږوولو پورې په کار واچوي.
په داسې حال کې چې نور ژوي دا کار نه شي ترسره کولای.
دوهم: دا چې د صریح او صحیح بیان لپاره غږیزه وسیله، غاښونه، ژبه، شونډې او ټوله خوله د اغېزمن بیان لپاره په ځانګړي ډول جوړ شوی دی، چې د بیان د دغو غړو د همغږۍ په وسیله انسان کولای شي، هغه یو زیات شمېر غږونه رامنځته کړي، چې بېلا بېلې معناګانې افاده کوي او همدا شان د لاسونو په مرسته هم مخابره ممکنه وي.
درېیم: انسان په عالي توګه وده میندلی مغز، د ژوو د بېلا بېلو ډولونو په قلمرو کې د ذکاوت اندازه د مغز د پېچلتیا او ودې سره په موازي توګه پرمخ ځي، چې په دې توګه د انسان په ګډون ټول فقاریه ژوي د شمزۍ Cerebro-Spinal System مشابه سیستم او مشابه برخې او تنظیم لري، همدارنګه د انسان مغز د نورو حیواناتو په پرتله د وزن او اندازې له مخې کوم ښه والی نه لري، بلکې هغه یوازې د غټ سیروم Cerebrom او په ځانګړي توګه د هغه د مخکینې لوب Lobe په اندازه وده ده، چې د انسان مغز د نورو ټولو مخلوقاتو څخه مشخص او جدا کوي.
څلورم: د ماشومتوب اوږده موده هیڅ کوم بل ژوی د زېږېدو په وخت کې د انسان ماشوم په توګه د خاموالي او بېوسۍ اوږده موده نه لري او هم په عین وخت کې د ماشومتوب دغه د بېوسۍ اوږده موده د بیولوژیکي جوړښت له مخې ډېره انعطاف منونکې ده او همدغه اوږده موده مرسته کوي، چې د یو ماشوم دغه بیولوژیکي ودې سره سم په ورو ورو د هغې نورې روزنیزې دندې هم پرمخ یوړل شي او هم یوه ټولنه د دې توان پیدا کوي، چې د ماشومانو د سیستماتیکې ودې او د ښوونې او روزنې لپاره ښوونځی رامنځته کړي.

## د ځوانۍ د وخت ماهیت او ارزښت

د ماشومتوب Chillhood او د ځوانۍ Adulthood ترمنځ یو څه وخت شته، چې په نوې ځوانۍ Adolescence نومول شوې ده، چې دا وخت هم په بلوغ سره پیلېږي، یعنې د انسان په ژوند کې هغه مرحله چې په هغې کې یو سړی د ماشوم د زېږېدلو توان پیدا کړي، بلوغ Puberty په ښځو کې د دولس کلنۍ په شاو خوا کې او په نارینه وو کې هم د څوارلس کلنۍ په شاوخوا کې منځته راځي او په ځوانۍ کې Maturity هم د یو رد هغه بشپړه بیولوجیکي وده او نمو ده چې په ښځینه وو کې د یوویشت کلنۍ په شاو خوا او په نارینه وو کې هم د پنځه ویشت کلنۍ په شاو خوا کې سرته رسېږي.
کله چې یو فرد د ماشومتوب څخه د لوی ځوانۍ په دوره کې ځوانۍ ته رسېږي، په هغه کې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی بیولوژیکي بدلونونه منځته راځي.

د هغه د اسکلیټ سیستم او بدني بڼه او جوړښت د یو ځوان په بڼه بدلون مومي، وینه او هډوکي یې کیمیاوي مرکبات بدلوي، غده کې یې بدلونونه منځته راځي، جنسي غریزې پخېږي او عواطف یې هم ټینګ او پیاوړې کېږي.

د دغه بیولوجیکي بدلونونو سره جوخت بېلا بېل تغیرات منځته راځي، چې د ښوونې او روزنې له مخې ډېرارزښت لري، د مثال په توګه هغه سلوکي ستونزې چې د قوي او پیاوړو عواطفو په وسیله په ځوانانو کې منځته راځي، د لارښوونې Gnidance د یو سیستماتیک پروګرام او د داسې نورو بدني او ټولنیزو فعالیتونو غوښتنه کوي، چې د هغوی په مطلوب ډول پوخوالی خپل وساتي، همدا شان په نورو ځوانانو، هلکانو او نجونو کې، نوي علایق او نوي تمایلات د لوستلو د نوو مادو او د زده کړې د نوو فعالیتونو غوښتنه کوي.

## د توپیر او تفاوت طبیعي قانون

د فردي توپیرونو حد او اندازه د تفاوتونو هغه عمومي قانون سره سمون لري، چې هغه هم د احتمال د نورمال قوس او یا هم د وېش نورمال قوس په نومونو یاد شوي دي، دا هم د دې معنی لري چې یو ځانګړی شخص او یا څو زیاتو مشخصاتو لپاره د Mean یا منځ Middle په شاوخوا کې د افرادو یوه مجموعه شته، چې په دې توګه په منځ Middle کې په سلو کې پنځوس وګړي تر زیاتې اندازې د یوه ګروپ د اوسط سره سمون خوري او په داسې حال کې چې په سلوک کې پنځوس پاتې نور د منځ Middle څخه په کمېدو وېشل شوي دي، د رسامی له مخې ۴۰٪ یا منځ یا اوسط ډول ګروپ کې شامل دي.

او ۲۳٪ له اوسط څخه د لاندې او د ۲۳٪ له اوسط څخه پورته او ۷۰٪ نور هم د دغو دواړو خواوو ته وېشل شوي دي.

د توپیر دغه قانون سره سم د دې امکان شته، چې د وګړو په یوه نه طبقه بندي شوي ګروپ کې د فزیک د ذهني او داسې نورو خصوصیاتو له مخې دغو دواړو ممکنه خواوو ته د افرادو د ممکن تناسب ځای وټاکو.

## فردي توپیرونه

په اروا پوهنې کې (فردي تفاوتونه) د ځانګړې سرلیک لاندې توضیح او تشریح کېږي، چې لوی لوی بحثونه پرې شوي دي.

د نړۍ د ټولو انسانانو داخلي جوړښت (مینه، محبت، احساسات، جذبات، تخیلات، شخصیت، سړیتوب، اخلاق او نور) او خارجي جوړښت (قد، قواره، د پوستکي رنګ، سترګې، پوزه، غوږونه او داسې نور) یو له بله سره توپیر لري.

په نړۍ کې هیڅ یو داسې انسان به نه وي، چې له بل انسان سره په داخلي او خارجي جوړښت کې سره یو شان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ډاکتر یوسف کریمي، روانشناسي اجتماعي) کې د فردي تفاوتونو په باب داسې وايي:
ژباړه: (د ځمکې پرمخ د نړۍ ټول مخلوقات، ژوندي، غیر ژوندي که هغه حیوانات وي او که نباتات وي، الله تعالی په یو ټاکلي اندازه او ښکلا سره پیدا کړي دي، د وراثت او محیط تاثیرات دي، چې د انسانانو داخلي او خارجي جوړښت یو له بله سره توپیر لري، د بېلګې په ډول د قد لوړوالی، وزن او ذکاوت د توپیرونو له جملې څخه ګڼل کېږي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونې او روزنې تاریخي بنسټ

## د ښوونې او روزنې د تاریخي بنسټ مانا او مفهوم

د ښوونې او روزنې تاریخي بنسټ په ټولیز پرمختګ کې د هغو واقعاتو په لاسته راوړنو پورې اړه پیدا کوي، چې پر زده کړه باندې اغېزه کوي او هم د نوي یا معاصرې ښوونې او روزنې د اسانتیاوو لپاره پسمنظر جوړوي.

همدا ډول هغه زموږ د ښوونې او روزنې د موسسو د تعبیر او تفسیر او ارزیابۍ او د هغو هلو ځلو او زیاتو کوښښونو راسپړلو لپاره لاره لټوي او اواروي، چې زموږ په اوسني معاصر روزنیز میراث کې په کار اچول شوی دی.

## غیر رسمي ښوونه او روزنه

د وحشت او بربریت په اوږده موده کې ټوله ښوونه او روزنه غیر رسمي وه، بشري زده کړه په سوچه توګه واقعاتو او پېښو په شان د ژوند یو طرحي بڼه وه، یوازې د چانس او تصادف په شکل بېخي په غیر شعوري توګه منځته راتله.

طبیعي چاپېریال په خام او نامعقول شکل پاتې و، ټولنیز پرمختګ هم په خپل ډېره ساده او ابتدایي حالت کې و، په عمومي توګه انساني ژوند په ډېرو ساده، ابتدایي او په وروسته پاتې حالت کې تېرېدلو، په دې توګه سره کوم پېچلي مهارتونه هم نه وه، چې ترلاسه شوی وای او نه هم کوم پېچلي رواجونه یا عنعنات وو، چې زده شوی وای او دا هم له دې کبله چې هغوی لا تر اوسه کومه وده او پرمختګ کړې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسمي ښوونه او روزنه

دا ښوونه او روزنه هغه وخت پیل شوه، کله چې وگړو د تولید ځینې هنري مهارتونه ترلاسه کړل. د ژوندانه د موادو او اړتیاوو ترلاسه کولو لپاره یې ابزار او وسایل په کار واچول او رامنځته یې کړل، کوچني گټور معلومات یې په لاس راوړل او په ټولنیزو او عقیدوي عادتونو یې پیل وکړ، چې دغه ډول لاسته راوړنې ارزښتناکې گڼل کېږي، خو د هغوی زده کړه، چانس او تصادف ته پرېښودل شوې وه او د هغوی په هکله ښوونه او تدریس هم په پوره احتیاط او دقت سره د ټولنې د ډېرو هوښیارو او یخو غړو په وسیله سرته رسېده.

ځوانانو ته په تشدد سره یو ځای زده کړه ورکول کېده او هم به مشرانو هرڅه چې سرته رسول په زور او کراری سره به یې عملي کول.

ترڅو د ټولنې د ځوانو غړو لپاره د دې زمینه برابره شي، چې د هغو د کار د کتلو په ترڅ کې یو څه ورڅخه زده کړي او دغه ډول ښودنه او روزنه د پېړیو پېړیو لپاره د وحشي او ځناورو قبیلو په منځ کې موجوده وه، ترڅو چې بیا په ښوونه او روزنه کې یوه بله مرحله رامنځته شوه.

## تاسیساتي ښوونه او روزنه

تاسیساتي ښوونه او روزنه د ابتدایي وگړو ترمنځ د ځینو مراسمو د ښوونې په بڼه پیل شوه، چې البته په دې وخت کې د ټولنیز پرمختگ یو داسې حالت ترلاسه شوی و، چې په هغه کې دغه شی ضروري او مطلوب گڼل شوی و، چې داسې معین وختونه وټاکل شي، چې په هغو کې دمخه ټاکل شوي روشونو له مخې ځوانان د ځوانۍ د ژوند د فعالیتونو او مسوولیتونو لپاره چمتو او اماده شي، چې همدا مراسم د همدې کار لپاره اماده او طرحه شوې وه، چې په ځوانانو باندې د ځوانۍ دا مسوولیتونه اغېزې وشیندې، دغه رابطه همدا ډول ټولنیز کنترول ته د ودې ورکولو او د ټولنې ترمنځ د وحدت او لا ټینگښت او پیوستون لا اغېزمنې وسیلې هم وگرځېدې او همدغه ابتدایي ښوونیزو مراسمو د ځوانانو لپاره په ټولنیز گټورتوب کې عمومي روزنه برابره کړه.

په دې وخت او زمان کې مذهبي فعالیتونه په قبیلوي ژوند کې کنټرولونکی عامل گرځېدلی و او هم له دې کبله اړین گڼل کېده، چې مذهبي عقیدې او هم له هغو سره یو ځای مراسم ساتل شوی وای.

نو، په دې توگه مذهبي لارښوونکی مجبور و، چې هغوی ته یې دا ښوونه کړې وای چې هغوی دغه مذهبي مراسم ترسره کړې وای، په دې توگه همدغه تاسیساتي ښوونه او روزنه چې د مذهبي قشر په وسیله پرمخ بیول کېده، د نن ورځې د ښوونځي لپاره مخکښه وگڼل شوه.

## ښوونځی

ښوونځی، د مذهبي مراسمو او جشنونو د عملي کولو په منظور د زده کوونکو د روزنې د هماغه پخوانیو مذهبي دندو د پراختیا او انکشاف پایله ده او هم په یو ټولنیز گروپ کې د مذهبي لارښوونو د ځانگړي موقف له مخې ژر تر ژره د هغه لارښوونې غیر مذهبي فعالیتونو ته هم لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړه.
د لیکنې په منځته راتګ سره مذهبي قشر هم د ښوونې او روزنې مسوولین وګرځېدل؛ ځکه چې مذهبي لارښوونکي داسې کسان و، چې هغوی په پوهه کې غوره لاس درلود او له دې کبله د ښوونې ځانګړې دنده د ټولنې له خوا مذهبي لارښوونکو ته وسپارل شوه، چې په دې توګه مذهبي لارښوونکي لومړني ښوونکي او هغه ځای چې ښودنه په کې کېده، لومړی ښوونځی وګڼل شو.

## قشري یا طبقه یي ښوونه او روزنه Class Education

د ډېرو لرغونو تاریخي وختونو څخه را په دې خوا ترمنځنیو پېړیو پورې د ښوونځي ښوونه او روزنه په مذهبي لارښوونکو Priesis او حاکمو طبقو پورې اړه درلوده، ښوونه په بشپړ ډول سره د مذهبي قشر په لاس او اغېزې لاندې وه.
په ځینو هېوادونو کې لکه هندوستان کې پوځي قشر ته یو ډول حرفوي ښوونه او روزنه ورکول کېده، په مصر کې په اعلی فنونو او هنرونو کې د صنعت او تجارت ساحو یو شمېر لارښوونکو ته یو څه روزنه ورکول کېده، په چین کې ښوونه او روزنه بډای طبقې پورې اړه درلوده چې ښوونځي تللو ته یې کافي وخت او پیسې درلودې او همدا شان د چین په ښوونځیو کې وګړي د حکومتي پراخو مدني خدمتونو د ازموینو لپاره چمتو کول، چې په هغو کې د بري یا لوړ نمرو اخستل د دولتي چوکیو د نیولو لپاره یو ضروري کار و.
په اتن کې ښوونه او روزنه د هغو هېوادوالو لپاره وه، چې د نارینه وګړو یو پر پنځه (۱/۵) یې احتوا کوله.
په روم کې ښوونه او روزنه د لوړو پوړیو طبقو لپاره د سیاسي ژوند د چمتووالي لپاره پرمخ بیول کېده.
په تورو دورو کې Dark Ages کې ښوونه او روزنه خپل پخواني او لرغوني دریځ یعنې یوازې د مذهبي طبقې د دندې لپاره راواړول شوه او د ۸۰۰م په پیل سره هلې ځلې وشوې، ترڅو ښوونه او روزنه د لوړو طبقو په واک کې ورکړي، په دې توګه حاکمانو په خپلو قصرونو کې ښوونځي تاسیس کړل، ترڅو درباریانو ته ښوونه او روزنه برابره کړي.

## پرګنیزه ښوونه او روزنه Mass Education

پرګنیزه ښوونه او روزنه د اتحادیو د هغو ښوونځیو په پیل سره رامنځته شوه، چې د منځنیو پېړیو د صنفي اتحادیو په وسیله د دوه طبقې د ماشومانو د روزنې لپاره تاسیس او منځته راغلي وه، همدا شان د منځنیو پېړیو د پرمخ تلونکو ښارونو دولتي مامورینو هم د ښار د اوسېدونکو د منځنۍ طبقې د ماشومانو د ښوونې او روزنې لپاره رامنځته کړې ده، په دغه ښوونځیو کې د مذهبي کسانو له خوا کنترول او تدریس کېده.
خو په هغو باندې د تعادل او د څار د صلاحیت لرونکي کنترول او غلبه زیاته وه او هم په عین حال کې په هغه وخت کې د کلیسا د ښوونځیو په نسبت دغو ښوونځیو زیاته دنیوي بڼه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپاړسمې پېړۍ د لومړیو وختونو کې پروتستانت تېز اصلاح غوښتونکي و، پروتستانت په دې عقیده و چې باید هر یو فرد د خپل ځان د نجات لپاره مسوول وي او له همدې کبله ضروري بریښېده، چې باید هر یو سړی د دې توان ولري، چې انجیل مقدس کتاب Bibble ولوستلای شي او تفسیر یې کړای شي، نو ځکه د همدې موخې لپاره د پروتستانت کلیساګانو محلي شخصي- ښوونځي رامنځته کړل، چې په هغو کې د دواړو جنسونو نارینه او ښځینه لپاره د لیکلو او لوستلو او مذهب درس ورکول کېده.

په جرمني کې هم کله چې لوترانیسم Lutheranism د رسمي مذهب بڼه غوره کړه، د کلیسا ښوونځي هم د دولتي سیستم په ښوونځیو پورې مربوط شول، چې د دولت له خوا تمویل کېده او د اشخاصو شمولیت هم جبري وګرځېده، په همدې وخت کې د کاتولیک کلیساګانو هم په خپله روزنیزه کړنلاره باندې نوی نظر وکړ او د خپلو روزنیزو هلو ځلو د خپلو عقیدې پرګنو ته د روزنیزو ګټو په ورپېژندلو سره پراخ کړل، په همدې وخت کې و چې د کاغذ د جوړولو پروسه کشف او هم د چاپولو اختراع رامنځته شوه او دغه چاره مرسته وکړه، چې لومړنی ښوونه او روزنه نوره هم پراختیا ومومي.

## د ښځو ښوونه او روزنه Women Education

د ښوونې او روزنې اسانتیاوو کې د ټولو طبقو د ښځو برخې اخېستل، یوازې په دې نړدې وختونو کې عملي شول او دا هم د هغو عنعنوي زړو عقیدو له مخې و، چې د ښځو موقف یې د نارینه په نسبت ټیټ ګاڼه.

د ډېرو لرغونو وختونو څخه را په دېخوا د ښځو ټولنیز موقف د یو مربي یا هم د یو ښکلا، د یوه عشق او یا هم د یو ظریف او نازک ملکیت په توګه و، چې باید مینه وربانـدې شوی وای او ساتل شوی وای، خو په یونان کې افلاطون د جنسونو ترمنځ د تبعیض نشتوالی رد کړ او د نارینه او ښځو دواړو لپاره یې یو ډول ښوونې او روزنې مفکوره تایید کړه.

په روم کې هم سربېره پردې چې ځینې کسانو عقیده درلوده چې ښځې او نر دواړه یو شان ذهني فعالیتونه لري، خو بیا هم د ښځو ښوونه او روزنه په لومړني ښوونځي پورې مربوط وه او یوازې د لوړو طبقو ښځو د لوړو زده کړو څخه ګټه اخېستلای شوای.

د عېسویت په لومړي وختو کې ښځې یوازې په کورنیو دندو پورې محدودې وې او حتی د پروتستانت ریفورم څخه وروسته هم د ښځو ښوونه او روزنه په کورنیو چارو پورې محدوده وه، خو یوازې د رنسانس په دوره کې د لوړو طبقو ښځو د دې توان پیدا کړ، چې د هغه وخت د لویو ښوونکو څخه زده کړه وکړي، همدا شان په شپاړسمې پېړۍ کې د ۱۷ او ۱۸ پېړۍ په نسبت د ښځو د ښوونې او روزنې په هکله ذهنیتونه ډېر سم او په زړه پورې و او دا هم یوازې د صنعتي انقلاب څخه وروسته و، چې ښځو وکولای شول، د ښوونې او روزنې د زیاتو اسانتیاوو څخه ګټه ترلاسه کړي او هم د شلمې پېړۍ د ښځو د حقوقو غورځنګ د دې زمینه برابره کړه، چې ښځې په مساوي توګه د نارینه وو په شان د یو ډول روزنیزو اسانتیاوو څخه برخمنې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د معيوبانو ښوونه او روزنه

پخوانۍ ټولنې د معيوبانو په وړاندې بې پروا وې او له دې کبله هغوی يو ناچاره بېوزله او له نظره لوېدلی قشر جوړېدو، چې په دې توگه د معيوبو لپاره ښوونه او روزنه د گټو په استثنا تر زياتې اندازې يوه بشري او انساني پرمختيا ده، د گټو لاره د ښوونې او روزنې په برخه کې مخکښ کار په ۱۵۷۸ کې د يوه هسپانوي په وسيله کشف شوه.

### نړيواله ښوونه او روزنه Universal Education

د عامه يا دولتي ښوونې او روزنې يو نوی او پراخ مفهوم د يو سياسي دولت هدفونو او دندو په هکله د اتلسمې پېړۍ د عقيدې په وسيله رامنځته شوه او په حکومتي چارو کې د سترو پرگنو پرخط اخستنې د زيات سواد او د زياتې پوهې غوښتنه کول او همدا ډول د عمومي انسانيت د محروميت لرې کولو نه يوازې د درېيو (3RS، يا لوستلو، ليکلو او شمېرلو ته اړتيا درلوده، بلکې د هغې ټولنيزې او فزيکي نړۍ پوهې ته يې هم اړه درلوده، چې په هغې کې يې ژوند کاوه، همدا ډول صنعتي انقلاب د ماشوم د کار او زحمت ستونزه هم رامنځته کړه او ورسره د ښوونځي د جبري کېدو د قوانينو پسې د ماشوم او کار قوانين هم منځته راغلل او په دې توگه ښوونځي ته د جبري شموليت کېدو او د ښوونې او روزنې سويې د پرمختگ وړتيا ومينده.

په ښوونځي کې په اجباري ډول شموليت او نورمالو او معيوبو ماشومانو همدا ډول دواړه کټگوريو، ښوونه او روزنه نړيواله، پراخه او عمومي وگرځوله، چې په دې توگه د عصري صنعتي نړۍ غوښتنو سره تخنيک زراعتي او حرفه يي ښوونځي منځته راغلل او دولتي يا عامه ښوونه او روزنه هم په عملي توگه حل او هغو ځخه ووتله.

ښوونه او روزنه د هغې ودې او پرمختگ د تاريخ سره ډېرې نږدې اړيکې لري، لکه په هغه شان چې هيڅ يوه پديده او يا يو شی د تاريخي مطالبو او څېړنو څخه پرته په ښه او بشپړه توگه نه شوای پېژندل کېدای، نو همدا شان د ښوونې او روزنې تور په کې او هم د پراکتيکي اړخونو وده او انکشاف د هغې د تاريخي پس منظر او تاريخي څېړنو څخه پرته نيمگړي او ناممکنه ښکاري.

د بېلگې په توگه که چېرې موږ وغواړو، چې د ښوونې او روزنې د پوهې، اصول پرنسيپونه او نظريو په هکله معلومات په لاس راوړو، موږ مجبور او مکلف يو چې له مېلاد څ خه مخکې د پوهانو او متفکرانو لکه سقراط، افلاطون، ارسطو او داسې نورو فيلسوفانو مفکورې او نظريې تر بشپړې مطالعې لاندې ونيسو.

يا هم که چېرې په خپل ټولگي کې د يو ماشوم يا کوچني د کړو وړو او يا په بله ژبه د هغه د هوښيارۍ او لټۍ يا تنبلۍ علت او عوامل پيدا کړو، موږ اړ يو چې د هغه د ژوند د تاريخي او د هغه د کورنۍ تاريخچې ته ژوره پاملرنه وکړو.

څکه چې په همدې برخه کې دلته داسې ويل شوي: «يو انساني فرد تاريخي محصول او د خپل وخت او د بشريت محصول دی، نو له همدې کبله د ده ماهيت هم د انساني تاريخ د بدلون او تکامل سره بدلون او تکامل مومي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښوونه او روزنه بنسټیزه اړتیا

## افغاني ټولنې ته د ښوونې او روزنې اړتیا

ښوونه او روزنه د هرې ټولنې یوه اړینه برخه ده او دا باید چې یوه غښتلې او فعاله لارښود وي. د اسلامي ارشاداتو پر بنسټ ښوونه او روزنه یو انساني حق دی او دغه حق حکم او عملیه باید د حکومت له خوا، د ټولنې او افرادو په ملاتړ پوره شي.

د تیرې جګړې په بهیر کې ډېری ماشومان، ځوانان او لویان له هر ډول رسمي او غیررسمي ښوونې او روزنې څخه بې برخې شوي دي. د افغانستان د دولت له اړینو دندو څخه یو دا دی، چې د ټولنې د ټولو سویو لپاره د افغانانو له دیني او ثقافتي ارزښتونو سره سم، د ښوونې او روزنې زمینې برابرې کړي.

افغانستان یو اسلامي هېواد دی. اسلام ښوونه او روزنه پر نارینه ؤ او ښځو فرض کړي ده؛ نو ځکه ضرور ده، چې د ښوونې او روزنې زمینې له ابتداء څخه تر بیخي جګو سویو پورې د ښځو په شمول ټولو خلکو ته برابرې کړي.

په اسلام کې د نارینه ؤ او ښځو تر منځ هېڅ ډول ښوونې او روزنې په کسبولو کې کوم توپیر نشته. (دمسلم) عربي کلمه په قرآن شریف کې پر نارینه ؤ او ښځو دواړو باندې دلالت کوي.

له بېلابېلو سرچینو څخه تر لاسه شوي احصایې ښایي، چې ښوونځي ته د تلو وړ په سلو کې نوي(8%) افغان ماشومانو ته د ښوونې او روزنې د زمینو د نشتوالي او له ښوونې او روزنې سره د علاقې کمښت له کبله هم د مهاجرینو په کمپونو اوهم په افغانستان کې هېڅ رسمي ښوونه او روزنه نه میسر کېږي.

د ښوونې او روزنې عملیه په افغاني ټولنه کې باید په کلیوالي سېمو کې ابتدائې ښوونځیو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړیتوب حق ورکړي او د ښوونې او روزنې دموجودو مؤسسولکه د کلیوالي ښوونځیو (د مسجد د سبقونو) ملاتړ وکړي. په عنعنوي لحاظ، ښوونه او روزنه په افغانستان کې د یو مرکزي نظام له خوا اداره کېدله. دا نظام د افغانستان په شان پرمختیایي ملکونو کې ډېر اغېزمن ثابت شوی دی، نو ځکه باید د ښوونې او روزنې د نظام اداره په یوې مرکزي ادارې پورې تړلې وي چې ټول درسي مواد لکه درسي متونه، لارښوونه او نور چاپ او توزیع کړي. مواد باید د افغانستان په دواړو رسمي ژبوپښتو او دری خپاره شي.

حکومت باید له متخصصانو سره دمشورې له لارې داسې پالیسي غوره کړي چې د ولس له غوښتنو سره سم یو ملي تعلیمي نصاب را منځ ته کړي. باید د افغانستان د هر ولایت په هر کلي کې لږ تر لږه یویو ښوونځی وي. د ښوونځي د جوړېدو ځای باید پخپله ولس وټاکي. د پخوانیو رژیمونو د تعامل پر خلاف باید دې ته پام وشي، چې د افغانستان په کلیوالي ښوونځیو کې لایق، لایق ښوونکي مقرر کړای شي.

**د افغان ماشومانو ضرورتونه**

افغاني ټولنه له یو ډېر بد حالت څخه د وتلو په حال کې ده. زمونږ بریالیتوب د داسې یوې فضاپه رامنځ ته کولو کې نغښتی، چې په کې زمونږ ماشومانو او زلمیانو ته د ممکنې ښوونې او روزنې بهترینه زمینه برابره شي.

د جوماتونو اساسي ښوونه او روزنه په لومړنۍ ښوونه او روزنه کې ستره ونډه لري، ځکه چې زمونږ جومات په لوستلو او لیکلو کې لومړی دیني تعلیمات ښایي. د جوماتونو په دې ښوونځیو کې واړه هلکان او وړې نجونې یو ځای درس وایي، قرآن شریف او نور اساسي دیني کتابونه لولي. دغه ماشومانو ته باید د محلي او ولایتي مقاماتو له خوا د ولس په ګډون د تعلیم د ادامې فرصتونه مساعد کړای شي.

زمونږ د لومړنۍ ښوونې او روزنې نظام اساسي بدلون غواړي. د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې د ښوونې او روزنې د یوې نوې پالیسۍ له غوره کولو څخه پرته خپل ګران هېواد بېرته نه شو جوړولای. د لومړنۍ دورې د ښوونې او روزنې درسي مفردات باید په ضروري توګه انسجام ومومي. د مضامینو یوه لړۍ ده، چې په عمومي توګه پر اسلامي تعلیماتو، ساینس، ادبیاتو، ریاضي، تاریخ، جغرافیې او نورو مشتمل وي، پر عملي او بشپړ میتود تدریس شي.

زمونږ راتلونکی تعلیمي نظام باید زمونږ د خلکو غوښتنو ته ځواب ووایي او زمونږ له تاریخ او ثقافت سره نږدې اړیکې ولري. زمونږ د ښوونځیو تعلیمي نصاب باید داسې احکام او مواد ولري، چې زمونږ زلمي زده کوونکي دخلکو د ژوندانه د کیفیت د ښه کولو په لاره کې د عملي ګامونو د اوچتولو وړ کړي.

په لومړنۍ دوره کې باید د قرآن شریف لوستل، دینیات، حساب، ژبه، لیکل، بدني روزنه او نور اساسي مضمونونه تدریس شي.

د اسلامي شریعت په رڼا کې له بین المللي معیارونو سره سم تنکیو نجونو ته باید د ښوونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزنې د امکاناتو په برابرولو کې خاص پام وشي. د دوی په خاصو مضمونونو کې باید کورنۍ پوهنه، ماشوم پالنه، روغتیایي تعلیمات او نور شامل کړای شي. دا به پر عمومي مضمونونو سربېره یوازې د ښځینه زده کوونکو لپاره وي. د ښځینه ښوونکو د اهمیت او زمونږ په ټولنه کې د دوی د ستر نقش له مخې باید دې ته خاص پام وشي، چې سویه یې له نارینه ښوونکو سره برابره وي.

**د دغو غوښتنو په بشپړولو کې د ښوونکي ونډه**

زمونږ د ښوونې او روزنې په ډګر کې باید داسې لایق او باکفایته ښوونکي مقرر شي، چې د علم معیار اوچت او زده کوونکي لوړو تحصیلاتو ته چمتو کړي. پخوانی رژیم به بیخي کمزوري ښوونکي په کلیوالي لومړنیو ښوونځیو کې مقررول.

ښوونکي یوازې د دې مسؤول نه دي، چې د شاګردانو تعلیمي سویه اوچته کړي، بلکې د ولس په غوښتنو او فکرونو باندې به د دوی د پوهېدلو سطحه هم لوړوي. ښوونکي باید د ولس په پرمختیایي فعالیتونو کې هم برخه واخلي او خلک هم برخې اخیستلو ته وهڅوي. په همدې توګه ښوونکي د تعلیمي نصاب په ښه کولو کې هم برخه اخیستلای شي. ښوونکي باید په خپله سېمه کې د ښوونکو د روزنې او د اړونده سمینارونو په ټولو فعالیتونو کې ونډه واخلي او څه چې زده کوي، هغه په خپلو ټولګیو کې تطبیق کړي. تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې ښوونکي باید په افغاني ټولنه کې د قومي، ژبنیو او توکمېزو (نژادي) ګروپونو ستاینه وکړي. دوی باید زده کوونکي په خپله مورنۍ ژبه کې له سیاسي او عملیې جارې پرمختیاو سره اشنا کړي او دغه کار هغه وخت سرته رسولای شي،چې د کتابونو او ورځپاڼو په لوستلو او دنړۍ د عامه خبرتیا د وسېلو په اورېدلو عادت وي.

د مسلکي ښوونکو کمی داسې یوه ستونزه ده، چې باید یادونه یې وشي. دغه ستونزه داسې لرې کېدای شي، چې د ښوونکو د روزنې تقویتي کورسونه، په خدمت کې داخل روزنیز کورسونه، د لوړو زده کړو د امکاناتو برابرول او د ښوونکو په روزنه کې د لوړو زده کړو د مؤسسو ونډه اخیستنه په پام کې وساتل شي.

**افغان ماشومان باید څه زده کړي؟**

د لیکنې عمده موخه دا ده، چې ښوونکي ماشومانو ته څنګه درس ورکړي چې د ځلمېتوب مرحلې ته رسېږي، نو د صادقو مسلمانانو په حیث له کار کولو سره بلد او دغه شان زده کړي، ښوونې او روزنې ته چمتو شوي وي.

د یو کار پر موخې له متیقین کېدو نه پرته هغه پیل کول د وخت ضایع کول دي. په نړۍ کې د خپل نوم او شهرت د ساتلو په خاطرباید وپوهېږو چې د افغانستان د بیا ودانولو لپاره ښوونې او روزنې ته د لومړیتوب حق ورکړای شي. مونږ به د ښوونې او روزنې لوړ کیفیت ته هېڅکله ونه رسېږو که د دولت او زده کوونکو د پلرونو او میندو تر منځ ګډه همکاري نه وي.

د ښوونې او روزنې د بیا جوړونې په نظام کې باید د ټولو خلکو حقوق په نظر کې ونیول شي. یانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان ټول خلک باید له هر ډول تعصب څخه پرته د دې چانس ولري، چې زده کړه وکړي.
د ښوونې او روزنې مانا د ټولنې ذهني، بدني او ټولنېزه پرمختیا ده. د ښوونې او روزنې له برکته د خلکو فزیکي ښکلا، ذهني، اخلاقي، ټولنیز او روحي اړخونه وده مومي او کولای شي، چې دخپل ثقافت، د کورنۍ په وړاندې د مسؤولیتونو، دکسب او کار د غوره کولو او د تفریح له وخت څخه د ګټې اخیستلو په باب مالومات تر لاسه کړي او د ولس یو ګټور او فعال غړی شي.
د لومړنیو یادو شوو ټکو پر بنسټ د ښوونې او روزنې کورسونه او مضمونونه په لاندې توګه تدوین او وړاندې کېږي:
د بدني روزنې او ورزشي پروګرامونه باید د ماشومانو له عمر سره سم داسې تصنیف شي، چې د ماشومانو د بدني ودې لپاره، د ژوندانه په بېلابېلو مرحلو کې ګټور ثابت شي.
د هنر، ښکلی لیک، روغتیا او رسم مضامین دې د دې له پاره وښودل شي، چې ماشومان د چاپېریال په ساتنه او ښکلا باندې وپوهېږي.
دیني مضمونونه دې په دې خاطر تدریس شي،چې د الله تعالی په وحدانیت او نورو اسلامي موضوعاتو وپوهېږي؛ ځکه چې ماشوم د دیني مضامینو پر پوهېدو له افرادو سره خپلې اړیکې او په ټولنه کې خپل مسؤولیتونه تشخیصوي.
د جغرافیې، تاریخ، تمدن او ټولنیزو چارو زده کړه له زده کونکو سره مرسته کوي، چې له خپل ثقافت، هېواد او نړیوالو سره اشنا شي.
په همدې توګه د ریاضي زده کړه له ذهني پراختیا سره مرسته کوي. د زده کوونکو منطق ورسره قوي کېږي او د پیچلو تخنیکي مسایلو درک او ورباندې پوهېدنه اسانه کوي.
افغاني ماشومان به نظري او عملي درسونه زده کړي، ځکه چې زده کړه د زده کوونکو په کړو وړو کې مطلوب بدلونونه راولي. زده کوونکي به هر مضمون د هماغه مضمون له هدفونو سره سم زده کوي.

### ورځنی ژوند او ښوونځی

د ژوندانه په بهیر کې د هر انسان اړتیاوې ډېرې دي. د ماشوم اړتیاوې ښوونځي ته تر تلو مخکې محدودې وي. کله چې ښوونځي ته ولاړ شي، چاپېریال او له نورو سره تماس یې پراخېږي. له دې امله یې اړتیاوې ډېرېږي. د بېلګې په توګه ماشوم په کور کې له مور او پلار وروڼو او خویندو او په کلي کې له ګاونډیانو سره نږدې اړیکې لري، خو ښوونځي کې له نوي چاپېریال، ټولګیوالو، مشرانو او نورو سره مخامخ کېږي. ماشوم په کور کې د کورنۍ له چاپېریال سره چې ځانته رسم او دوونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ازموينې وسيلې او د زده کړې د کچې پېژندل

ازموينه د زده کړې او دتدريس نه جلاکېدونکې برخه ده. ازموينه په ښوونځيو او دزده کړې په نورو موسسو کې د زده کوونکو دښوونېزو-روزنيزو پرمختګونو په اندازه کولو کې خورا مهم رول لوبوي. همدارنګه د زده کړې د موسسو ادارې او ښوونکي له ازموينوڅخه په ګټې اخېستنې په لاندې برخو کې مالومات لاسته راوړي او د هغې له مخې دزده کړې اوتدريس لپاره تر ټولوغوره شرايط رامنځته کوي.

- ✓ دټولګيو ډلبندي
- ✓ د استثنايې زده کوونکو پېژندل
- ✓ دزده کوونکو دپوهې دکچې لوړول
- ✓ درشتې اوحرفې په ټاکلوکې له زده کوونکو سره مرسته
- ✓ دښوونيز نصاب ارزونه
- ✓ دتعليمي پروګرامونو ښه کول

### د زده کړې په بهير کې د ازموينې دندې

ازموينه معمولآ دزده کړې اوښونيزې دورې يا کورس په پای کې زده کوونکوته دنومرو ورکول د يو بهير په توګه پېژندل کېږي. سره له دې چې زده کوونکو دنومرو ټاکنه د ازموينې دنده ده، خو د ازموينې د اخيستلو يوازينې لامل کېدای نه شي. د ازموينې عمده او اصلي موخه دزده کړې ښه کېدل دي. پردې سربېره ازموينه دښوونيزو پرېکړو په کولو کې هم مرسته کوي.

دتدريس په بهيرکې بايد ښوونکي او استادان له ځانه يوشمېر پوښتنې وکړي او وروسته د هغې په اړه پرېکړه وکړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي تر کومې کچې د زده کړو دتجربوترلاسه کولو ته چمتوالی لري؟
۲. په اړوند مضمون کې له زده کوونکو څخه زموږ تمه څه ده، چې څومره ژر لوست زده کولای شي؟
۳. د تدریس شوو توکو دکومې برخې لنډیز ګټور دی او کله؟
۴. کوم یو زده کوونکی انفرادي تدریس ته اړتیا لري؟
کوم زده کوونکي تر نورو ډېر پوه دي چې له پراخه پروګرام څخه برخمن شي؟
کوم زده کوونکي دې لوړ ټولګي ته بریالي شي؟
۵. کوم زده کوونکي دې وهڅول شي،چې یو مضمون دځپل اختصاصي رشتې په توګه وټاکي؟

ازموینه دپورته پوښتنو او د زده کوونکو په اړه د نورو رښتینو مالوماتو په رڼا کې له ښوونکي سره د پرېکړې په نیولو کې مرستندویه واقع کېدای شي. دبېلګې په توګه: یوه پلیزه ازموینه چې زده کوونکي له مضمون څخه د ګټه اخیستنې لپاره ورته اړتیا ولري، تر یوې کچې وټاکلای شي. خو دکورس په بهیر کې د ټولګي بېلا بېلې ازموینې په لاندې برخو کې زیات مالومات چمتوکوي:

۱. د زده کوونکو ډلبندي
۲. د زده کوونکو د ټولګیو ډلبندي کول
۳. د زده کړې دستونزو پېژندل او د هغه هوارول
۴. دهغوی انفرادي تدریس

په پای کې اصلي موخه دا ده،هغسې پرېکړه ونیول شي، چې په پورته برخو کې د زده کوونکو د ښې او زیاتې زده کړې لامل شي.

ازموینه پر زده کوونکو مستقیمه اغېزه لري او کولای شي، چې:

❖ زده کوونکي لا پسې وهڅوي.
❖ د زده کړې پایښت پراخ کړي.
❖ له زده کوونکو سره د ځان په پېژندلو کې مرسته وکړي.

## ازموینه د هڅونې لامل

ازموینه زده کوونکي هڅوي، چې ځانونو ته تعلیمي موخې وټاکي او د هغوی دترلاسه کولو لپاره هاند او هڅه وکړي. د ازموینو په رارسېدو د زده کوونکو فعالیتونه زیاتیږي او د لوستونو په زده کولو کې زیار کاږي. ښوونکي باید د ازموینو د پایلو په اړه له زده کوونکو سره خبرې وکړي اوهغوی کمزورو او قوي اړخونوته یې پام واړوي.

په متناسب ډول جوړې شوې ازموینې له زده کوونکوسره مرسته کوي چې:

۱. زیاتې زده کړې ته وهڅیږي.
۲. د غوښتل شوې زده کړې لور ته رهنمایي شي.
۳. د زده کړې د پایلو په اړه د پوهې او پرمختګ په اړه مهم او عیني شواهد چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ساتنه او لېږد

ازموینه د زده کوونکو د زده کړې هڅې د هغو هدفونو لورې ته بیایي، چې باید اندازه شي. په دې توګه د زده کړې د ساتنې او لېږد د یوې وسیلې په توګه کاریدلی شي. داسې ګومان کېږي، چې د پوهې د کچې د زده کړې په پرتله د مفهوم د درک، پلي کولو، تفسیر او د مفهوم د تعبیر زده کړه تر ډېره ساتل کېږي، ځکه د هغه پوهې د لېږد ځواک زیات دی.

که چېرته د یوې ازموینې پوښتنې، پیچلې وي او زده کړې اندازه کړي، باید د زده کوونکو پام ورته واړول شي؛ځکه دا راز پوښتنې د هڅوونکو پوښتنو په توګه په زده کوونکو کې دمفهوم د درک اود مفهوم دتعبیر اوتفسیر دپراختیا لپاره کاریدلای شي.

په دې توګه ازموینه په یادوبرخو کې بشپړوونکې دنده سرته رسوي اوپه زده کوونکو کې دزده کړې اغېز تلپاتې کوي.

## ازموینه ځان پېژندنې لامل په توګه

دښوونې اوروزنې له سترو موخو څخه یوهم په افرادو کې دځان پېژندنې د وړتیا پیداکول دي؛ ترڅو خپل ځان ښه وپېژني، خپلې وړتیاوې درک کړي، خپله راتلونکې ښه وسنجوي اوخپلې کړنې سمې وارزوي.

ازموینې او دهغې پایلې له زده کوونکوسره مرسته کوي چې:

١.دخپلوکړنو پرماهیت ځانونه سم پوه کړي

٢.خپلې نیمګړتیاوې درک اوله منځه وړلو ته یې هڅه وکړي

٣.په مختلفوبرخو کې دخپلې وړتیا ډګرونه وپېژني.

همدا راز مالومات چې له ازموینې څخه لاسته راځي، زده کوونکوته وخت ورکوي چې:

١. خپلوتحصیلي پروګرامونوته پلان جوړکړي؛

٢. د خپلې راتلونکې روزنیزې تجربې وټاکي؛

٣. دخپلو ارزونو وړتیاوو ته وده ورکړي.

ازموینه دتدریس د اغېزمنتوب په اړه مالومات چمتو کوي. هغه مالومات چې له یوې ازموینې څخه لاسته راځي، دتعلیمي عملیې دمختلفو اړخونو د ارزونې لپاره په کاریږي. پردې مالوماتو:

- ❖ تعلیمي موخې ټاکل کېږي؛
- ❖ درسي مناسب توکي ټاکل او ویشل کېږي؛
- ❖ دلا ښې روزنې لپاره د زده کړې تجربې پېژندل کېږي.

د ازموینې پایلې نه یوازې د زده کوونکو کمزورې اړخونه جوتوي، بلکې که د یوې ډلې د ازموینې پایلې د یو کل په توګه په پام کې ونیول شي، دتعلیم اوتدریس کمزوري ټکي هم څرګندوي. که چېرته په ازموینه کې دډېرې زده کوونکو پایلې ښې نه وي، کېدای شي په زده کوونکو کې نیمګړتیا موجوده وي، خوزیاترهداکېدای شي،چې ستونزه دتدریس په اصولو کې پرته وي.

ښایې ښوونکي دموخو دلا سته راوړلو لپاره داسې زیار ایستلی وي، چې لاسته راوړل یې زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکوته ناشوني وو، يا ښايې هغه دغوښتل شوو بدلونونو دراوړلو لپاره له ناغوښتلو شوو ميتودونو څخه ګټه اخيستې وي. په هرډول د ازموينې پوښتنوته دزده کوونکو ځوابونه او له ازموينې وروسته دهغې دپايلو په اړه خبرې اترې داسې حقايق زموږ مخې تهږدي، چې له مخېيې کېداى شي، راتلونکې لپاره ګامونه پورته شي.

## د ازموينې بنسټيز لاملونه

ازموينه دښوونې اوروزنې په ښه کولو کې ډېره مرسته کولاى شي. يوه ازموينه کولاى شي:

۱. ښوونيزو موخوته دزده کوونکو اومحصلانو پام واړوي.

۲. زده کوونکي هڅوي، چې د يوه مضمون دمنځپانګې پر يوې تاکلې برخې خپل پام متمرکز کړي

۳. دمضمون مهموبرخوته دزده کوونکو پام واړوي

۴. دزده کوونکو زده کړه وستايې.

۵. له زده کوونکو وغواړي، چې خپل لوست په ژوره توګه درک کړي،

٦. د تعليمي پرېکړو د نيولو لپاره باوري مالومات چمتوکړي

په زده کړه او تدريس کې دمثبت ځواک په توګه دټولګي دننه ازموينو دجوړولو اوکارولو پرنسيپونه:

۱- ازموينه بايد لاسته راغلي هغه زده کړهچې په څرګند ډول تعريف شوي او له ښوونيزو موخو سره همغږي وي، اندازه کړي.

اکتسابې ازموينه د زده کړې بېلابېلې پايلې اندازه کوي:

۱. دخصوصې حقيقتونو پوهه

۲. د اصطلاحګانو پوهه

۳. د مفهومونو او قوانينو درک

۴. دحقېقتونو اوقوانينو دپلې کولو وړتيا

۴. د فکري وړتياوو مختلفې بڼې (لکه، تجزيه(شننه)، ترکيب، قضاوت او ارزونه. )

يادونه:د اکتسابي ازموينې لومړى ګام د ازموينې دپوښتنوجوړول نه دي، بلکې دزده کړودپايلوپېژندنه اوټاکنه ده، چې بايد اندازه کړاى شي.

دزده کړېدپايلودټاکلولپاره دپړاوونو لړى(دزده کړې محصول):

***الف***- دمضمون دتعليمي موخوټاکل

***ب***- د زده کړېدعمومې پايلوله مخې دمضمون دتعليمي موخوبيان، (لکه، زده کوونکي دعمومې اصطلاحګانوپرماناپوهېږي. )

***ج***- د زده کړېدخصوصې موخو پايلې چې ښايې ترلاسه شي، دنوموړو موخو په کتار کې ليکل او بيانوول. دبېلګې په توګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱.اصطلاح په خپله ژبه راوپېژنئ
۲. د مانا له مخې د اصطلاحګانو توپیر وکړای شي، (مانا له مخې دهغوی سره پرتله کړئ. )
۳.اصطلاحګانې په سمو او منلو جملو کې وکارولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پرتله ایزې ښوونې او روزنې د پرمختګ مرحلې

**د پرتله ایزې ښوونې او روزنې د پرمختګ لومړنۍ مرحله**

د پرتله ایزې پیداګوژي لومړنۍ څېړونکي فرانسوي عالم مارک انتوان جولین (Marc Antoni Jullien)او، چې د (۱۷۷۵-۱۸۴۸) کلونو کې یې ژوند کاوه،نوموړي اول ځل په پرتله ایز ښوونه او روزنه کې شهرت ترلاسه کړ او د پرتله ایزې ښوونې او روزنېپه اړه تدبیر او مقدماتي نظریې د رسالې په لیکلو سره یې د لومړي ځل لپاره په (۱۸۱۷)کال کې د پرتله ایزې ښوونې او روزنې اصطلاح په لار واچوله چې د هغې وروسته دا اصطلاح د ټولو هېوادونو د پیداګوژي په اصطلاحاتو کې شامله شوه د کوم په پایله کې چې کولای شو نوموړي عالم د پرتله ایزې ښوونې او روزنې بنسټ اېښودونکی وبولو.

د پوهانو ترمنځ تربیتي مسائلو د حل لپاره یو داسې کمیسیون جوړول په کار دي، کوم چې وکولای شي د موادو، ښونیزو مطالبو،روزنیزو، موسساتو، د زده کړې میتودونه او په بېلابېلو اروپائې هېوادونو کې د کره شواهدو له لارې ټول او پرتله یې کړي، همدارنګه د ښوونې او روزنې د متخصصانو د روزلو یا اماده کولو لپاره ځانګړې ښوونیزې موسیسې جوړې شي او هم د تعلیم او تربیې مجله په مختلفو ژبو نشر شي او د دې سره سره باید د اروپا دعلمي او فرهنګي مرکزونو د استازو ترمنځ د مسائلو په تصویب کې په لیکلي بڼه اوسیستماتیک ډول د افکارو تبادله صورت ونیسي. د دې تر څنګ مذهبي او رسمي مکاتب هم تشکېل شي. د ۱۹پېړۍ په وروستیوکې د نړۍ په مختلفو هېوادونوکې د مشکلاتو د منځته وړلو او دتعلیمي موسیساتو د تکامل لپاره د پرتلیزې ښوونې اوروزنې ځینې نظریې او عملي اساسات وټاکل شو. د ښوونې او روزنې د سیستم د پرمختګ لپاره دبېلا بېلو هېوادونو پوهان د تجربو او د یوبل د پیداګوژۍ د مثبتو کړنو څخه ګټه پورته کوي. د۱۹پېړۍ په نیمایې کې د نړېوالو څېړنو موسیسې منځته راغلې، چې د موادو په ټولو ښونیزو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزنیزو موضوعاتو ته وده ورکولو کې یې په خپلو او نورو هېوادونو کې فعالیت کاوه. په روسیه کې هم د پرتلیزې پیداگوژۍ څېړنو پرمختګ وکړ، د روسیې پیداگوژي پوهانو (اوشینسکي) او (تولستوي) اثارو د خلکو پاملرنه ځانته راجلب کړه. اوشینسکي لازمه وګڼله چې دنورو هېوادونو د پیداگوژي د مثبتو تجربو څخه د روسیې په ښوونځیو کې عملاً استفاده وشي. مګر تولستوي د اقتباس د تعلیمي سیستم پر ضد پاڅون وکړ او نوموړي دا خبره په ډاګه کړه، چې مکاتب یوازې هغه وخت ښه کېدای شي چې وکولای شي، د خلکود ژوند اساسي قوانین وپېژني. تولستوي په ډېر فشار سره ښکاره کړه چې په روسیه کې د خلکو ښوونیز سیستم باید د خپله ځان پورې خاص موجود وي کوم چې د روسیې دخلکو د ملي او تاریخي ژوند سره مطابقت ولري؛ مګر دخارجي پیداگوژۍ څخه یوازې کولای شو د ماشومانو د پوهاوې لپاره طریقې راخپلې او عملي کړو. د۱۹پېړۍ په دوهمه نیمایي کې په عرب کې ملي موسیسې او وروسته په موزیمونو او انستیتوتونو کې نړیوالې او څېړنیزې موسیسې رامنځته شوې چې د خپلو او خارجي هېوادونو د احصایوي مطالبو او په سیستماتیک ډول د اطلاعاتي موادو جمعه اورې او بر رسي وکړه.

### د پرتلیزې ښوونې او روزنې د پرمختګ دویمه مرحله

دا مرحله د ۱۹۱۷-۱۹۴۵ کلونه په بر کې نیسي. د سرمایه داره ممالکو د پیداګولوژۍ عالمان په دقیق ډول په نورو ممالکو کې د مکاتبو پرمختګ ته متوجه شول چې د عمومي تعلیماتو پرمختګ د تحصیل د دورې لوړېدل، تعلیمي سطحې او مکاتبو عمومي پرمختګ او ښه یې د نظر لاندې ونیول. تعلیمي میتودونو ته وده او انکشاف ورکول د علمي تحقیقاتو د بین المللي سازمان په جوړېدلو په ۱۹۴۳ کال په کولمبیا پوهنتون کې د دارالمعلمین په جوړېدلو د امریکا په متحده ایالاتو کې د تعلیم او تربیې د کلنۍ مجلې په خپریدلو په اروپا او امریکا کې د علمي کانفراسونو او سیمینارونو په دایرولو خارج ته په سفرونو او بین المللي لیدنو سره د خارجي مکاتبو مطالعه زیاته د استفادې لا ندې ونیول شوه. او هم ریګي تانسي بورډ په ابتکار سره په ۱۹۲۵ ژنو کې بین المللي معارف جوړ شو. لاندې موضوعات د هغه د وظایفو څخه دي، کوم چې د بورډ په ذیمه واری کې سپارل کېږي. د نړېوال معارف په بورډ کې دغړو ممالکو تعلیماتو د وضعې په اړه د موادو جمعه اوري، د تعلیم او تربیې د نړیوالو روابطو د استقرار لپاره د ساتنې مخصوص ټول پوښتنې، د اثارو لیک او نشر، دسیمینارونو او مجالسو دایرول او غیر د لاندې نشریاتو څخه په دوامداره توګه خپریږي. همدارنګه دمعارف کلنۍ مجله په کولمبیا(د امریکا متحده ایالاتو کې)، په الماني، انګلیسي او فرانسوي ژبو تر۱۹۳۴ کلونو پورې په جرمني کې دپیداګوژۍ د نړېواله مجله نشر ته سپارل کېده. په اروپا او امریکا کې علمي کنفرانسونه اوسیمینارونه پراخه پیمانه دایریدل او د مختلفو ممالکو د تعلیمي سیستم سره د بلدتیا په منظور، مسافرتونو او د خارجي مکاتبو د مطالعې لپاره د افکارو تبادلې او د ملاقاتونو د تګ راتګ صورت نیوه او د مقایسوي تعلیم اوتربیې د تحقیقاتو مخصوص میتودونه وړاندې شول. د ۲۰پېړۍ په ۲۰ او ۳۰ کلونو کې د مقایسوي تعلیم او تربیې ځینې نظریې مسایل چاپ کېدل. لکه څرنګه چې امریکایې پروفیسور(کیند ل) په۱۹۳۳ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (د مقايسوي تعليم او تربيې په ډ ګر کې تحقيقات) په نوم اثر کې د مقايسوي تعليم او تربيې ميتودونو اومضمون اهميت د مطالعې لاندې نيولي دي او د تعليماتي سيستم په يو پلان کې انګلستان، فرانسه، جرمنې، اټاليا، روسيه او د امريکا متحده ايالات تشريح کړي دي.

## د پرتليزې ښوونې او روزنې د پرمختګ دريیمه مرحله

دپرتله يزې ښوونې او روزنې د پرمختګ د دريیمې مرحلې خصوصيات د۱۹۴۰ کال د وروستيو څخه بيا تر اوسه پورې په بر کې لري، چې د سياسي نړيوالې اوضاع د تغيراتو او د علم او تخنيک دچټکې پرمختيا په واسطه مشخص کېږي. په دې دوره کې د انستيتيوتونو او انجو ګانو خپل فعاليتونه زيات کړل،يو شمېر نوي نړيوال مرکزونه او ګڼ شمېر علمي تحقيقاتي موسيسې جوړې شوې. د تعليم او تربيې په مسايلو او فرهنګ په علم کې په ۱۹۴۵ کلونو د پاريس په ښار کې د ملل متحد سازمان يونسکو جوړ شو کوم چې لاندې مسايل او موضوعات يې بررسي کړل:
په مختلفو ساحو کې يې دتعليماتو د پرمختګ زمينه برابره کړه خصوصًا چې بايد د تخنيکي تعليماتو اړخ او تعليمي نصاب ته وده ورکول او لا غوره شي. هر څه د مخه د مخ په پر ودې هېوادونو سره مرسته وشي او د تعليم او فرهنګ د پرمختګ د پروګرامونو پواسطه اقتصادي او اجتماعي پرمختګونه لا ګړندي کړل شي. د طبيعي او اجتماعي علومو په ډګر کې بايد نړيوالې مرستې ملاتړ وکړي، د افکارو تبادله کوم چې فرهنګي او کلتوري هدف لري تشويق او تقدير کړي. معلوماتي مرکزونو سره مرسته وکړي، ترڅو ټول د عضو ټولو دولونو ته د علم او فرهنګ د تعليماتو په ساحه کې رسمي اسناد مهيا کړي.
يونسکو هغه مواد چې د پرتله ايزې ښوونې او روزنې په ډګر کې د څېړنو لپاره ګټه پورته کوي شواهد راټولوي، همدارنګه د نړۍ د معارف د ابښودلوپه منظور رهنماګانې او کالنامې په چاپ رسولې. د تعليم او تربيت په مسايلو او مشکلاتو او هم يې د مقايسوي تعليم او تربيې په مسايلو کې کنفرانسونه تشکېلول. ددې سره سره د پرتله يزې ښوونې او روزنې د نظري مشکلاتو بررسي د بوره نړيوالې يونسکو پواسطه سرته رسېدل. لکه څرنګه چې په ۱۹۵۱ کال د هامبورک په ښار کې د پيداګوژۍ انستېټيوت تاسيس شو او د انستېټيوت پر بنسټنامه کې د هغې فعاليتونه په لاندې ډول مشخص شويدي: د پرتله يزې ښوونې او روزنې په ساحه کې د نړۍ په سطحه پر بنسټي لورې تعليمي پروګرامونه کوم چې لوی کنفرانس يونسکو هغه په نښه کړي اماده او په طبع ورسېږي، پروګرامونه بايد د پيداګوژي د تجربو د تبادلې او د مختلفو ممالکو ترمنځ د ښه پوهاوي په منظور تهيه شي، خپل روابط د پيداګوژي پوهانو سره متداوم وساتو، تر څو چې مو د جهان په سطحه د انستيتيوت په فعاليتونو کې مساعدت وربښلې وي. د انستيتيوت دوهم نړيوال کنفرانس چې د لندن پوهنتون د پيداګوژي د انستيتيوت سره يو ځای داير شو، لاندې مشکلات د غور او بررسۍ لاندې ونيول شول:
د مقايسوي تعليم او تربيه د ښوونځي اصلاح کوونو د پلان اچونې د انستېټيوت په شباهت، مقايسوي تعليم او تربيې په معاصره نړۍ کې په عالي مکاتبو کې د مقايسوي تعليم او تربيې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضمون مطالعه، دنړيوال متقابل درک او همکارۍ په وده کې د مقايسوي تعليم او تربيې رول او هم د کنفرانس د ضرورياتو له مخې په ټولو عالي مؤسسياتو او پوهنتونونو کې د مقايسوي تعليم او تربيې د لکچرونو لپاره د مخصوصو همکارانو په ټاکلوسره د ديپارټمنټونو په جوړولو ټينګټيا وشوه،د مقايسوي پيداګوژيک کتنې بايد د وزارت معارف د پېژندونکو پواسطه، هغه متخصصينو په واسطه چې د مکتب د اصلاح پلان ګذاري کوي او هم د تعليم او تربيې د نړېوالو سازمانونو د همکارانو پواسطه صورت ونيسي، د مقايسوي تعليم او تربيې د مطالعې لپاره بايد د ملک څخه بهر يو معاش مشخص او د مختلفو ملکونو د مقايسوي نړيوال سازمانونه جوړ شول. لکه: د امريکې په متحده ايالاتو کې په ۱۹۵۶ کال د مقايسوي تعليم او تربيې جامع جوړه شوه. د نوموړې جامعې هدف دا و، چې په پوهنتونونو او کالجونو کې د مقايسوي تعليم او تربيې زمينه مساعده کړي، د مقايسوي تعليم او تربيې په ډګر کې د علمي تحقيقاتو لمن پراخه کړي، اثار او مقالې په نشر ورسوي، نوي مالومات په متقابل ارتباط د ټولو اجتماعي پديدو سره مطالعه او ارزيابي کړي، دمختلفو ملکونو د مقايسوي نمايندګانو تر منځ همکارۍ ته زيادت وروبښي يانې تحقيقات او د افکارو او اسنادو تبادله صورت ونيسي، د نړيوالو سازمانونو لکه د نړيوال معارف يونسکو بورد سره مرستې ته پرمختګ ورکړي. دا جامعه بعضې بخشونه لري کوم چې په هر کال کې کنفرانسونه او ناستې دايروي، مونوګرافونه، د رسالو مجموعې او د مقايسوي تعليم او تربيې په شرحه کې مجلې طبع کوي. په لندن کې د مقايسوي تعليم او تربيې په کال ۱۹۶۱ کې تاسيس شوه، چې وظايف يې په دې ډول دي: په تعليم او تربيې کې مقايسوي ميتود ته وده ورکړي،د مقايسوي تعليم او تربيې د اثارو د طبع او نشر لپاره زمينه مساعده کړي،د متخصصينو ليدنې او کنفرانسونه تنظيم کړل شي او په خارجي ممالکو کې د مقايسوي تعليم او تربيې د مرکزونو او ټولنو سره مرسته وکړي. د مقايسوي پيداګوژي په مضمون چې د عمومي پيداکوژي يو ښاخ دی، مهم خصوصيات يې دادي، چې پيداګوژي په عملي او نظري کچه يانې په اوسني دور کې د مطالعې لاندې نيسي او د هغه ارتباط د مشخصو تاريخي، اقتصادي، اجتماعي او سياسي شرايطو سره يو شمېر هېوادونه داسې بيانوي: مقايسوي پيداګولوژي د تعليم او تربيې په پروسه کې د نوي قانونمندۍ خبره منځته نه راوړي؛ بلکې د پيداګوژي د علم د تجربو څخه په استفادې اساسي مشکلات او د جهان په سطحه د قانونمندۍ او ودې (انکشاف) هدفونه د مطالعې لاندې نيسي. د پورتنې مطلب په نظر خصوصي وده او علمي تعليم او تربيه د نړۍ په سطحه مطالعه کوي. مقايسوي تعليم او تربيه د پيداګوژي د مقايسوي قانونمنديو او د خلکو (عامه) تعليماتو په ودې سره په مختلفو او مخ په پرمختګ هېوادونو کې د مطالعې لاندې نيسي او د تعليم او تربيې د نظريو د پرمختګ لپاره زمينه مساعد وي.

## دويمه برخه

د مقايسوي مطالعو د خصوصياتو له جملې څخه کولای شو، چې د موضوعاتو تحليل او تجزيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر کړو. په پخوا وختونو کې دا مسایل ډېر کم و، چې معمولا به ځینې تربیتي پدېدو څخه د یو هېواد په داخل او یا څو هېوادونو کې د مطالعې لاندې نیول کېدل، مګر کله چې مقایسوي مطالعو نړیوال اړخ د ځان کړ او د تعلیم او تربیې د مسایلو مربوط اجتماعي، سیاسي، اقتصادي او تکنولوژیکي خصوصا د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته ورته توجه وشوه او د اساسي تاریخي، اجتماعي،فرهنګي او اقتصادي مطالعوپه لازموالي او هم موثر قوتونه په هغه هېوادونو کومو کې چې د تربیتي نظامونو جوړولو ته اشاره وشوه او هم په دې ډول تحقیقاتو کې مقایسوي تعلیم او تربیې د محققانو او د اجتماعي علومو د پوهانو تر منځ د مشارکت احساس وشو. پس د بعضې پوهانو په عقیده مطالعه او په مقایسوي تعلیم او تربیې په قلمرو کې د بررسې وړ مسایلو طرحه کولای شي. مونږ ته د خپلې تعلیمي او تربیې مسایلو په لاپېژندلو کې د جالبو کشفیاتو د لاسته راوړلو کمک او لارښوونه وکړي.

الف:د مقایسوي مروجو مطالعو له جملې څخه کولای شي چې د یو یا څو اموزشي نظامونو د خصوصیاتو مربوط مسایل او موضوعات د یو نظام د مختلفو او یا هم مشابه خصوصیاتو سره بررسي او د جهان د ملکونو د اموزشي نظامونو سره مقایسه شي.

د دې قسم مطالعاتو مهم بحثونه کولای شي په لاندې ډول و اوسي:

۱. د زده کړې د نظامپالنې او تربیوي اصلاحاتو د تیریدو تاریخچه.

۲. د ښوونې او روزنې موخې

۳. اداري او تعلیمي تشکېلات او جوړونې.

۴. تحصیلي دورې ( ابتدایه،منځنۍ ،ثانوي او عالي).

۵. ښوونیز مضامین او پروګرامونه.

٦. دښوونکي تربیت( انتخاب،تربیت او وړاندې کول یا استخدام).

۷. د ښوونې او روزنې د مصارفو بودیجه او دتامینسرچینې.

۸. د لویانوزده کړه.

۹. تخصصي زده کړه ( کار زده کول،داخلي خدمت زده کړه یا تعلیمات ).

۱۰. روزنیزې څېړنې.

۱۱. تحصیلي ارزیابي او لوړوالي یا ارتقاع.

ب: د تعلیم او تربیې د اقتصاد اړوند موضوعات او مسایل (دتعلیم او تربیې ارتباط او اقتصادي پرمختګ) د اقتصاد د عالمانو د ډېر وخت راهیسې د انساني ځواک په تربیت کې د اقتصادي او صنعتي رشد او نمو لپاره د تعلیم او تربیې د اهمیت په اړه نظرونه څرګند کړي دي او ښوونه او روزنه یې د ملل د دارایۍ د زیادت له امله د مفیدې سرمایه ګذارۍ د عنوان لاندې ذکر کړې ده، یانې تعلیم او تربیه یې جامع ثروت په عنوان کې شامله یا داخله کړې ده. یو د هغه پوښتنو کومې چې د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د څېړونکو توجو ځانته را جلب کړې ده دا ده چې تعلیم اوتربیه د اقتصاد د پرمختګ سره څه رابطه یا اړیکه لري؟ د همدې سوال په رابطه د اقتصاد پوهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تعلیم او تربیې متخصصانو په یو لړ څېړنو لاس پورې کړ او نوبتي فصل یې د پرتله یزو مطالعاتو په مخ (د تعلیم او تربیې اقتصاد )په نوم خلاص کړي.

## په تدریس کې د میتود رول

په ښوونه او روزنه کې د ښوونکو لپاره یو مهم او د بحث وړ موضوع د درسي میتودونو سره اشنایې او د درسي موضوعاتو مطابق د مناسبو میتودونو غوره کول او ټاکل دي. د میتود اصطلاح د ښوونې او روزنې نه علاوه په نورو چاروکې هم د استعمال موارد لري. مثلاً په اقتصاد، سیاست، کرهنه، امنیت، دفاع او داسې نورو چارو کې. د مثال په ډول که چېرې وغواړو د یوې کرهنېزې پروژې څخه معقوله او موثره استفاده وکړو، باید د مختلفو طریقو څخه یوه مناسبه تګ لاره غوره کړو .په ښوونه او روزنه کې میتود، د زده کوونکو د تعلیمي او تربیتي ودې او انکشاف لپاره مهم رول لري؛ مګر دې ته باید متوجه شو، چې میتود په ښوونه او روزنه کې اصلي مطلب نه، بلکې د مطلب او هدف لپاره یو قالب او قاعده ګڼل کېږي.

مشهور انګلیسي فیلسوف فرانسس بیکن (۱۶۲۶- ۱۵۶۱ زېږدېز کال) میتود او اسلوب د یو څراغ سره مقایسه کوي او وایي " څېړونکي که چېرته د یو خاص او مشخص میتود او اسلوب لرونکي نه وي، هغه مسافر ته ورته دی چې د شپې په توره تیاره کې لار لټوي" نو له همدې کبله د هر علمي او تحقیقي عمل د سرته رسولو لپاره د میتود او میتودولوژي څخه کار اخیستل لازمي او ضروري ګڼل کېږي،چې په لاندې ډول یې توضیح کوو:(Methodoci ) د میتود اصطلاح د یوناني کلیمې څخه اخیستل شوې ده او مانا یې طریقه، روش او تګ لاره ده. د میتود لپاره مختلف تعریفونه ورکړ شوي دي، چې ځینې یې عبارت دي له: میتود د هغه منظمې طریقې او تګ لارې څخه، چې د یو علمي موضوع د زده کړې لپاره غوره کېږي. میتود د هغه منطقي اصولو او اساساتو د تعقیب څخه عبارت دی، چې هدف ته د رسېدو لپاره عملي کېږي. یا په بل عبارت میتود د هغه منظم او پېش بیني شوې منطقي جریان څخه عبارت دی، چې ښوونکي یې د زده کوونکو د تربیتي ودې او تعلیمي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره تعقیبوي. د میتود خاصیت د موضوع او مضمون په مقایسه د نسبي استقلال لرونکی وي. په دې مفهوم چې نه شو کولای د خپل ذهني تمایلاتو پر بنسټ په هر مضمون او موضوع کې د یو خاص او یوازېني میتود څخه کار واخلو، بلکې د مختلفو درسي مضامینو او موضوعاتو لپاره مختلف میتودونه شتون لري، چې د ضرورت په وخت کې باید ورڅخه کار واخیستل شي. د تدریس میتود د یو ښوونکي لپاره چې په هرځای او یا په هرمضمون کې درس ورکوي، د پوره اهمیت او ارزښت لرونکی وي. ښوونکي یوازې د تعلیمي پروګرام د عملي کولو مسول نه دي؛بلکې د یوې واقعي سازمان ورکونکي شخصیت په توګه د ښوونې اوروزنې د قواعدو او قوانینو په پلي کولو او د زده کوونکو د تعلیمي او تربیتي فعالیتونو په سازماندهي کې د ابتکاري، روحي او میتودوکي صلاحیتونو لرونکي وي. د تدریس عملیه په حقیقت کې د یو سلسله علمي حقایقو او مهارتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتقـال دی، چـې د ښـوونکي لــه خـوا زده کوونــکو تـــه صـورت نيسي ــ ددې دوه اړخيـزې عمليې (ښوونکې او زده کوونکي ترمنځ) په جريان کې چې کوم شی زمونږ توجه ځانتـه راجلبـوي، هغه ددرس موضوع او هدف دی، چې بايد پـه يوې نوې، معقولې او منل شوې طريقې بـانـدې تـر لاسه شي. دا غوښـتنه هغـه وخـت پـــه واقعـي ډول عمـلي کېـدای شي چـې د درسـې موضـوع او تـدريسي ميتود تـرمنځ اړيکه دښوونکي له خوا په نظر که ونيول شي. هر مضمون حتې هـره درسي موضوع د خاصو درسي ميتودونو لرونکـې وي. مـثلاً د ريـاضي د مضـمون دتـدريســي ميتـود لــه لارې نشوکولای چې د ژبــې دزده کړې پــه تدريس کې کار واخلو. هره علمي رشته د ميتودونـو د يوې مجموعې لرونکې وي،چې بايد دهغوی څخه د هغه علمي رشتې پـــه تـدريس کـې استفاده وشي. د ميتودونــو د يو ګروپ څخه د يو خاص علمي موضوع د تحقيق او څېړنې پـه منظـور کـار اخيستل د ميتوديک په نوم يادېږي.

د ميتودونــو موثريت يوازې د ښوونکي لپاره مطرح نــه دی؛بلکې زده کوونکـو لپـاره هـم پــه زړه پورې اهميت لري. پــه دې مانا چې ميتود پــه لــومړي قـدم کې ښوونکي سره مرسته کوي، تـر څـو خپل درسي اهداف په سم ډول انتقال کړي او پـــه دوهـم قدم کې زده کوونکـو تــه زمينـه مسـاعده وي، تر څو د زده کړې لپاره لازم اقدامات وکړي.

ښوونکي فعاليت ممکـن لکچـر، توضـيح او لوسـتلو بـانــدې محـدود وي، مــګر زده کـوونکي د تدريس پـه بهير کې بايـد واوري، ولـــولي او وليکـي، مسـايل يـو د بـل سره مقايسـه کـړي، خپـل فعاليتونه منسجم او په ازادانــه کارونو اقدام وکړي. لـه همـدې کـبله وينـــو چـې دزده کــــوونکو فعاليتونه د ښوونکي د فعاليت په مقايسه زيات وي او ښه ښوونکي هغه دی، چې دې مهم اصل تـه متوجه وي او شرايط داسې اماده کړي چې د فعاليت زياته برخه يې د زده کوونکو لـه خـوا سرتـــه ورسېږي. اما بايد وويل شي چې ښوونکي پـــه ټولګي کې نــه يوازې بايـد د يوليدونکي (مشـاهده کوونکي) شخص پـه تـوګه رول ادا کړي، بلکې ښوونکي بايد د زده کوونکو لپاره په ټولګي کې د يو واقعي لارښود په توګه عمل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میتودولوژيMethodology

میتودلوژي د دوو یوناني کلمو څخه مرکبه ده یانيLogy اوMethod کلمو، میتود مېتود پېژندنه او د علمي څېړنو په مانا راغلې ده .په ځینو تالیفاتو کې میتودولوژي د اصولو او میتودونو د منطقي او منظم تشکېل او مطالعې په مفهوم ذکر شوی دی، په حقیقت کې میتودولوژي د علم د هغه منطقي څانګې څخه عبارت ده، چې مقصد ته د رسېدلو لپاره لاره هواروي.

یا پــه بل عبارت میتودولوژي د ذهنیت پکار اچولو هغه منطقي فن څخه عبارت ده، کوم چې په علمي څېړنو کې څېړونکي د غلط فهمۍ څخه ساتي. د ځینو تعریفاتو پـه اعتبار میتولوژي د بشري علومو یوه څانګه ګڼل شوېده، چې د علومو د نورو مختلفو څانګو سره اړیکې لري. د ځینو منـابعو پر بنسټ میتودولوژي د میتودونــو او روابطو د زده کړې تیوریکي اسـاس ګـڼل شوی دی. په هر حال څېړونکي او پوهان د علمي څېړنو او مسایلو په حل او فصل کې د علمي قواعدو او مشخصو کړنـلارو د تعقیب او فکري نظم په مرسته خپل بحث او استدلالي قوي تـه تـر هغې پــورې دوام ورکوي، چې د ستونـزو نتایج تــرلاسه شي، کوم چې د میتودولوژي وظیفه مونږ ته راپه ګوته کوي. د ښوونې او روزنې په چوکاټ کې د میتود او میتودولوژي اصطلاحات زیات معمول دي، دا ځکه چې زده کړه درس او تدریس په حقیقت کې د یوې مشخصې او منظمې تګ لارې تنظیم او تعقیب ته اړتیا لري. د میتود او میتودولوژي اصطلاحات د علمي څانګو او مضامینو پــه اعتبار تقسیم بندي کېدای شي، د مثال پــه ډول د طبیعي علومو میتودولوژي د اجتماعي علومو میتودولوژي د ساینس او ریاضي میتودولوژي، د تاریخ او جغرافیې میتودولوژي او نور .همدارنــګه د میتود اصطلاح هم د علــومو او مضامینو پــه اعتبار نومول کېدای شي. مثلاً د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنيزو علومو د تدريس ميتود، د نظامي علومو د تدريس ميتود، د طبيعي علومو د تدريس ميتود، د ژبې د تدريس ميتود او داسې نورو له اغېزمنو او بنسټيزو عواملو څخه چې په ښوونه او روزنه په ځانګړي ډول په تدريس کې ډېر مهم بلل کېږي د درسي ټولګي مديريت دی. ډېرې طريقې او لارې چارې دي، چې دهغې درلودل ښوونکي ته ځانګړی اهميت لري. د درسي ټولګي مديريت د هغه مواردو له جملې څخه دی، چې ښوونکی او استاد يې د خپلې دندې د ښه او اغېزمن ترسره کولو لپاره ورته تر بل هر څه جدي اړتيا لري. د درسي ټولګي مديريت کولای شو د اغېزمنو عواملو او د تدريس د مهارتونو اصلي هسته وګڼل شي؛ ځکه چې د درسي ټولګي د ښه مديريت او زده کوونکو د تحصيلي پرمختګ تر منځ مستقيم او مثبت ارتباط شته. ټولګی چې په ښه ډول مديريت کېږي د زدکړې لپاره زده کوونکو ته بهترين فرصتونه برابريږي او د درسي ټولګي د مديريت څخه موخه د زدکړې لپاره د زمينو برابرول دي. د درسي ټولګي دمديريت او ښوونيزو فعاليتونو د په اړوند د ښوونکي پوهه او ليدلوری کولای شي زده کوونکو ته د ټولګي او ښوونځي چاپېريال په زړه پورې کړي. څرنګه چې په درسي ټولګي کې نظم او انضباط د تدريس يو اساسي رکن دی، نو د ښوونځي د هرې دورې ښوونکي او د پوهنتون استادان بايد دې چې د درسي ټولګي د مديريت د سبکونو او لارو چارو سره پېژندګلوي ولري، له دې پرته د زدکړې او تدريس جريان له ماتې سره مخامخ کېږي.

د ميتود او ميتودولوژي د مفهوم په هکله مو څه نا څه مالومات تر لاسه کړ، دپورتنی موضوع په مطابق کوښښ کېږي، چې د تدريس د ميتودونو د خصوصياتو او د هغوی څخه د لاښې ګټې اخيستلو په منظور مالومات حاصل کړو. د ميتودونو تشخيص او د هغوی څخه د ښې ګټې اخيستنې او معقول چلند د مضامينو په پرتله د ښوونکي کار اسان او د زده کوونکو علاقه د درسي فعاليتونو لپاره ژوندی کوي. د وخت په تيريدو سره او د ښوونې او روزنې د چټکې پراختيا پر بنسټ د درسي ميتودونو شمېر هم زيات شوی دې، چې په مجموعي ډول د هغوی تحليل او څېړل په کم وخت کې د امکان څخه بهر دی.

مګر، د وخت د تقاضا په پام کې لرلو سره دځينو مهمو او اساسي درسي ميتودونوڅخه په ډېره لنډه توګه يادونه کوو.که چېرې دتدريس عمومي کړنلارې ته ځېرشو، نو دا به څرګنده شي، چې تدريس له درېو حالتونو څخه خالي نه دی، يابه د شفاهي بيان په ډول وي، يا به د عمل له لارې وي اويا به د مشاهدې او ليدنې کتنې په بڼه وي. په دې اساس ويلای شو، چې دتدريس عمومي ميتودونه په درېيو ډولو ويشل کېږي، چې عبارت دي له:

۱دتدريس شفاهي(لفظي) ميتودونه.

۲ دتدريس عمليې(تجربوي) ميتودونه.

۳ دتدريس عيني(مشاهدوي) ميتودونه.

دتدريس د ميتودونو پېژندنه اود هغوی دسته بندي، ښوونکو او مدرسينو ته د ازموينې مساعدوي، چې مناسب ميتودونه دتدريسي موضوع دغوښتنې سره سم غوره او وټاکل شي. دتدريس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميتودونو په خوا کې دښوونکي د کار تجربه، پوهاوي او مهارت هم د ارزښت وړ دي. د درس پلان ګذاري چې دمنجمنت اوله دنده ده او د درسي ممدو موادو برابرول، د درسي موخو په لېږد کې پوره برخه او اغېزه لري.دتدريس ميتودونه چې پورته ترې يادونه وشوه، په نوروڅانګو ويشل کېږي، چې په لاندې ډول يې تر څېړنې لاندې نيسو:

Oral:١دتدريس شفاهي(لفظي) ميتودونهشفاهي دعربې کلمې(شفه)څخه اخيستل شوی دی. شفه په لغت کې شونډې ته وايي. په دې خاطر کوم درسي پروګرام چې بيان يې د الفاظو او کلماتو په مرسته کوم چې د شونډو په مرسته ادا کېږي او د تطبيق وړ دي، د شفاهي تدريس په نوم يادېږي. د تدريس کوم طرز او طريقه چې پدې درسي طرزالعمل کې پکار وړل کېږي، د شفاهي ميتود په نوم يادېږي. شفاهي درسي ميتود د زده کوونکو لپاره ډېر اهميت لري او د ښوونځيو او نورو ملکي او نظامې زدکړوپه اکثرو مضامينو کې د دې درسي مېتودڅخه ګټه اخستل کېږي.

ددې لپاره چې ددې ميتود څخه ښه او معقوله ګټه اخستل شوې وي، بايد لاندينو ځو ټکو ته زياته پاملرنه وشي.

١- د ښوونکي شفاهي او لفظي بيان بايد پر علمي اساساتو ولاړ وي. ښوونکي بايد د موضوعاتو، مطالبو، حقايقو، واقعاتو اوحکاياتو تفسير په واقعي او حقيقي ډول وکړي.

٢- په شفاهي تدريسي تګ لارې کې د مطالبو تسلسل بايد په نظر کې ونيول شي. د مطلب په تر لاسه کولو او عملي کولو کې د درسي پلان ترتيبول او جوړول د ښوونکي کار اسانوي او د درسي پلان په مرسته د درس د موخو د لاسته روړلو لپاره تدريسي مراحل په ښه ډول درجه بندي کېدای شي.

٣ - د ښوونکي شفاهي بيان بايد د زده کوونکو د ذهني او علمي سويې سره سم وړاندې شي، تر څو چې موضوع د زده کوونکو د فهم او پوهې جوګه شي.

۴- د مطالبو په لېږد کې بايد ښوونکي د ساده محيطي مثالونو، همدارنګه د ساده اړتيا وړ درسي ممدو موادو څخه کار واخلي.

۵-په شفاهي بيان کې د زده کوونکو د ابتکاري روحيې وده او انکشاف بايد په پام کې ونيول شي.د دې مطلب لپاره زده کوونکو ته د پوښتنې کولو زمينه برابرول او هغوی ته د موضوع په هکله د قضاوت اجازه ورکول ګټور واقع کېدای شي.

په ټولو درسي فعاليتونو کې، چې په هر طرز او طريقه وي، د درس د موخو، درسي منظم پروګرام او د کار پلان، وسايل او وخت د ښوونکو د پاملرنې او د پام وړ فکټورونو څخه شمېرل کېږي. د تدريس شفاهي ميتودونو مهمې برخې عبارت دي له:

١(دقصې ميتود: قصه په لغت کې خبر او حکايت ته ويل کېږي، کوم وخت چې درسي موضوع په قصو، قصوکې زده کونکوته وړاندې شي، دې ډول تدريسي طريقې او تګ لارې ته د قصې ميتود وايي.

دقصې ميتود د شفاهي تدريسي ميتودونو په کتار کې يو مهمه درسي طريقه ده، چې د کارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موارد يې په ټولو مضامينو کې د زده کوونکو لپاره زيات ليدل کېږي. زمونږ په اسلامي او افغاني کلتور کې قصه او حکايت يو خاص ځای لري، خلک د قصو او حکاياتو سره زياته علاقه او دلچسپي ښکاره کوي اوقصې ته په ځېر سره غوږ نيسي. د قصو په واسطه کولای شو د ژوند حالات، واقعات، ټولنيز مثبت او منفي کړنې په داسې ښه زده کوونکو ته بيان کړو چې له يوې خوا موضوع دوی ته ستړې کوونکي واقع نه شي او له بلې خوا دوی ورځخه د راتلونکې ژوند لپاره پند او عبرت واخلي. زده کوونکي په خاصه توګه ماشومان او تنکي ځوانان روحاً قصو او داستانونو ته زيات ارزښت ورکوي. د قصې ميتود د زده کوونکو د ذهني ودې، اخلاقي ارزښتونو او د شخصيت پرمختيايي بهير کې مهم اوستر رول لوبوي. د قصې ميتود د زده کوونکو د ژبني مهارتونو، تولنېزو روابطو او تاريخي مالوماتو په هکله په زړه پورې او موثر ثابت شوي دي. د دغه ميتود په مټ کولای شو، چې د زده کوونکو په شخصيت کې د الله جل جلاله پيروي، ايمانداري، صداقت، رېښتينولي، وفاداري، وطن دوستي، دينداري، د وطن د ګټو ساتنه او د ښو اخلاقو روحيه ژوندۍ وساتو او دغو ښو اخلاقو ته وده ورکړو اود اخلاقي او تولنېزو انحرافاتو په مقابل کې د زده کوونکو د تنفر قوه فعاله وساتو .

د قصې د ميتود په تطبيق او عملي کولو کې ښوونکي بايد لاندينېو ټکو ته پاملرنه وکړي:

۱. قصه او حکايت بايد واقعيت او حقيقت ولري. د دې مطلب څخه موخه دا ده چې، زده کوونکو ته بايد حتی الوسع کوښښ وشي چې قصه کتابي اړخونه ولري. ځينې داسې کېږي چې ليکوالان او داستان ليکوونکي دټولنې د اصلاح په منظور مضامين ترتيب او نشر ته يې سپاري.

دا ډول داستانونه بايد په داسې ډول ترتيب او تنظيم شي، چې رښتيا ته نږدې وي. عموماً بايد هغه قصې په کارېکولم کې شاملې شي، کوم چې حقيقت ولري.

۲. د قصې ويلو په وخت کې بايد ښوونکي د زده کوونکو په مقابل لورې کې ولاړوي. يانې ښوونکي په داسې ځای کې قرار ولري چې زده کوونکي د هغه حرکات او کردار د سر په سترګو ووينې.

۳. د قصې ويلو په وخت کې بايد د تمثيلي حرکاتو، اشاراتو او احساساتو څخه کار واخيستل شي، احساسات په دې مفهوم نه چې ښوونکي خپل اخلاقي ملايمت په قهر او غصې تبديل کړي، بلکې ښوونکي بايد د قصې ويلو په وخت کې په ځان کې دا ډول احساس راښکاره کړي،چې په خپله ښوونکي په دې واقعه کې شتون درلود.

۴ . د قصې په وخت کې بايد ښوونکي د ساده کلماتو او جملاتو څخه کار واخلي. يانې د تظاهر او ځان ښودنې څخه ډډه وشي او د زده کوونکود سويې سره سم ادبياتو څخه کار واخلي.

۵ . د قصې ويلو په وخت کې د ښوونکي لهجه او د اواز لوړ والی هم بايد په نظر کې ونيول شي. يانې د ښوونکي لهجه نرمه او د اواز لوړوالی يې په داسې ډول وي، چې ټول زده کوونکي د هغه اواز په عادي او نورمال ډول واوري.

۶. د قصې وخت هم د تصور وړ دی، چې بايد د زده کوونکو د ذهني او جسمي ودې مطابق

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشریح شي. مثلاً د لمړنیو دورو زده کوونکو لپاره د قصې ویلو وخت باید د ۵–۱۰ دقیقو په شا او خوا کې وي.

۷ .په قصې کې باید د خلکو عنعنات، کلتور، رواجونه اوعقاید په نظر کې ونیول شي. همدارنگه د قصې په ویلو کې باید د ضد او نقیص کلماتو د کارونې څخه ډډه وشي.

باېد یادونه وکړو، چې د قصې په میتود کې ځینې نواقص او کموالی هم لیدل کېږي. لکه؛

۱: قصه یوازې نظري اړخ لري.

۲: زده کوونکو ته په عمل کې برخه نه ورکول کېږي.

۳: عملي مهارتونه زده کوونکوته نه تدریس کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټولګي د اداره کولو تاریخچه

د درسي ټولګي مدیریت په عمومي ډول یوه اوږده مخینه لري. ممکن مبالغه ونشي که ووایو چې تاریخ یې د پیداګوژي له تاریخ سره یو ځای پیل شوی دی. له هغه وخته چې درسي ټولګي په کورونو،ښوونځیو، کلیساوو، جوماتونو او په اخر کې په رسمي بڼه په مدارسو یا هم رسمي ښوونیزو مراکزو کې تشکېل کېدل. نو ښوونکو به د ښوونې او تدریس لپاره درسي ټولګي د خپلې تجربې او سلیقې پر بنسټ مدیریت کول. ولې د درسي ټولګي د مدیریت د میتودونو او څرنګوالي په اړوند یې کومه مطالعه نه درلوده. ځکه چې د درسي ټولګې د مدیریت موضوع تقریباً یوه نوې موضوع ده. خو د لومړې ځل لپاره د کانین په وسیله په ( ۱۹۷۰) کال کې د ټولګي د مدیریت په هکله ډېره جامع او منظمه مطالعه ترسره شوه. مارزانو،(۲۰۰۳) (ترجمه، مرتضوي زاده، ۱۰۹:۱۳۸۶)

### د درسي ټولګي مدیریت

درسي ټولګی هغه ځای دی، چې په هغه کې هره ورځ ډېر شمېر زده کوونکي په ساعتونو کولای شي یو د بل ترڅنګ کېني، یو له بل سره اړیکې ولري او یو له بل څخه مطالب یا موضوعات زده کړي. په همدې خاطر یو شمېر نوي او تازه کاره ښوونکي، ددې موضوع په اړوند په ویره کې وي چې ددې تر څنګ چې له زده کوونکو سره صمیمانه اړیکې ټینګې کړي څه ډول وکولای شي درسي ټولګی مدیریت کړي؟ نو د درسي ټولګي کنترول یوله ډېرو اړینو او مهمو چارو څخه شمېرل کېږي؛ځکه چې د ټولګي اداره کول د زده کوونکو په پوهولو کې ښه او ډېره اغېزه لري، په دې مانا چې که یو ښوونکي د کنترول په مختلفو ډولونو پوه وي، نو په هر موقعیت کې به په ډېر بریالیتوب او اسانۍ سره خپل ټولګي په ښه توګه اداره کړي شي، کله چې ټولګي اداره او کنترول شي نو په اسانۍ زده کړه را منځته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درسي ټولګي مديريت د اغېزمنې زده کړې لپاره سريزه او يوه مخکيني اړتيا ده يا په بل عبارت په درسي ټولګي کې د برياليتوب بنسټ دی. په درسي ټولګي کې د اغېزمن مديريت او زده کړې لپاره د لازمو شرايطو د برابرولو لپاره پخپله ښوونکي بايد يو اغېزمن کس و اوسي، او د درسي ټولګي د مديريت کولو د مختلفو ميتودونو سره اشنايي ولري. لکه څرنګه چې زده کوونکي له خپل ښوونکي څخه تقليد کوي او د هغه لاره تعقيبوي نو ښوونکي بايد خپلو خبرو او کړنو ته متوجه وي .

خپلو افکارو ته پام کوئ، ځکه چې افکار په کليماتو بدلېږي خپلو کليماتو ته پام کوئ، ځکه چې کليمات په اعمالو بدلېږي. خپل اعمالوته پام کوئ، ځکه چې اعمال په عاداتو بدلېږي. خپلو عاداتو ته پام کوئ، ځکه چې عادات په شخصي ځانګړنو بدلېږي.

خپلو شخصي ځانګړنو ته پام کوئ، ځکه چې شخصي ځانګړنې په برخليک بدلېږي.

نو ښوونکي بايد خپلو( افکارو، کليماتو، اعمالو، عاداتو او شخصي ځانګړنو) ته پام وکړي ځکه چې زده کوونکي له هغه څخه تقليد کوي، اغېزمن ښوونکي هغه څوک دي، چې د سمو او مناسبو ميتودونو په نسبت چې په مختلفو موقعيتونو کې يې په کار اچوي په پوره ډول اشنايي ولري. (کالاهان و کلارک، ۱۹۹۰، نېکنامې، ۱۳۷۷) ښوونکي بايد د درسي ټولګي د مديريت په مختلفو ميتودونو کې تخصص او مهارت ولري، ترڅو وکولای شي اغېزمن تدريس او زده کړه را منځته کړي. د درسي ټولګي مديريت د زده کړې د تحقق لپاره د لازمو شرايطو اماده کول دي. د ټولګي اداره يا مديريت ( رئوفي، ۱۳۸۰ ) کې داسې تعريفوي: د ټولګي اداره له يوې مناسبې فضا څخه عبارت ده چې زده کوونکي په ډېره ارامۍ او نظم سره هلته زده کړه وکړي. يا هم د درسي ټولګي مديريت عبارت دی له ګڼ شمېر پلانونو او اقداماتو څخه چې ښوونکي يې په درسي ټولګي کې د زده کړې د اسانتيا او چټکتيا لپاره ترسره کوي .

ښوونکې بايد د خپل مضمون تر څنګ د ټولګي د ادارې په برخه کې هم پوره مالومات ولري؛ په مختلفو موقعيتونو کې د ډول ډول مهارتونو څخه کار واخلي؛ تر څو د خپلو زده کوونکو په سمه توګه کنترول وکړي او زده کوونکي د ټولګي حالت دبې نظمۍ خواته يو نسي.

يو شمېر ښوونکي مديريت او انضباط يو ډول بولي، خو اړينه ده چې ووايو مديريت او انضباط يو له بل سره توپير لري. انضباط د زده کوونکو ساکت او ارام توب او د ښوونکي خبرو ته غوږنيول نه دي. ځکه چې د ټولکي فضا بايد متنوع د دوستۍ او مينې څخه ډکه وي په داسې ډول چې هر زده کوونکي د ارامش احساس وکړي او له ټولګي سره تړاو ولري. انضباط د ښوونکي هغو شمېر کړنو ته ويل کېږي چې د زده کوونکو د اخلالوونکو کړنو مانع ګرځي هغه کړنې چې د ټولګي فعاليت له خنډ او تهديد سره مخامخ کوي. د درسي ټولګي مديريت د درسي ټولګي د انضباط په نسبت پراخ مفهوم لري. ځکه چې ترسره شوو مطالعاتو ته په کتود درسي ټولګي د مديريت څخه منظور د داسې شرايطو او موقعيتونو ايجادول دي چې ښوونکي يې د نظم او ارامش د رامنځته کولو د زده کوونکو د توجه د جلب کولو، د درسي فعاليتونو د تنظيمولو او د زده کړې په جريان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د زده کوونکو د ګډون لپاره مطلوبو او د نظر وړ موخو ته د رسېدلو لپاره برابروي.

## د درسي ټولګي د مدیریت موخې

یوازې د نظم راوستلو لپاره د درسي ټولګي اداره کول بې ګټې دي او د زده کوونکو د ارامولو لپاره د مدیریت د فنونو څخه استفاده کول هم سم کار نه دې. نو پوښتنه داده چې د درسي ټولګي د مدیریت موخه څه ده؟ د درسي ټولګي د مدیریت موخه داده چې په درسي ټولګي کې د نظم او ارامش د رامنځته کولو سربېره یو مثبت او د خوښیو ډک درسي ټولګی یا چاپېریال ولرو. په درسي ټولګي کې د نظم او ترتیب شتون خپله هدف ندی؛ بلکې درسي ټولګی باید په داسې ډول مدیریت شي چې ډېره زده کړه پکې و شي. د درسي ټولګي بله مهمه موخه داده چې زده کوونکي د خپلو کړنو د مدیریت څرنګوالی زده کړي.

## د درسي ټولګي د مدیریت پر وړاندې پراته خنډونه

ښوونکی باید د منظمې او ارامې فضا د رامنځته کولو او ساتلو لپاره هغه عوامل وپېژني کوم چې د زده کوونکو د بې نظمۍ او ښوونیزې فضا د مختل کېدو سبب کېږي او د زدکړې-ورز دکړې فعالیتونه له خنډونو سره مخامخ کوي.

ددې پرځای چې دزده کوونکو کړنې کنترول کړئ ښه داده چې مخکې له مخکې نه مناسب اقدامات وکړئ څو د بینظمۍمخه ونیول شي.

د زده کوونکو د بې نظمۍ لاملونه کولای شو مختلفو ابعادو ته په پام طبقه بندې کړو:

۱: د زده کوونکو اړوند لاملونه ( فردي توپیرونه )

۲: هغه لاملونه چې ښوونکي پورې اړه لري.

۳: هغه لاملونه چې په ټولګي او د ښوونځي په فضا پورې اړه لري.

۴: د زده کوونکو کورنۍ ځانګړتیاوې ( خصوصیات )

۵: ټولنیز عوامل.

د زده کوونکو د بې نظمۍ د علتونو پېژندل او د هغې د مخنیوي لپاره هڅې، د درسي ټولګي د مدیریت کولو باعث کېږي.

### ۱ *.په ښوونکي پورې اړوند لاملونه*

دا لامل د یو ښوونکي د تدریس په تګلاره، ظاهرې وضعیت، کړنو او خواصو پورې اړه لري. یانې که ښوونکي د ښه شخصیت خاوند، د تدریس په مختلفو طریقو پوه، د ارواپوهنې په برخه کې هم پوره مالومات ولري او پر خپلو ستونزو باندې په بشپړه توګه برلاسی وي زده کوونکي به په ډېر شوق او نظم خپل درس ته متوجه او هېڅکله به بې نظمي ونه کړي. همدارنګه که د تدریس د مختلفو میتودونو، تربیتي، زده کړې او ودې ارواپوهنې په اړوند د ښوونکي د اطلاعاتو کچه کمه وي، ددې باعث کېږي چې په درسي ټولګي کې نظم او انضباط له نیمګړتیاوو سره مخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربېره پردې د ښوونکي شخصيت هم کولای شي د ټولګي په مديريت کې بنسټيز رول ولري. په هغه ځای کې چې زده کوونکي له ښوونکي سره علاقه نه لري، شايد انضباط نه وي. کله چې ښوونکي د تدريس د مختلفو ميتودونو په اړوند مالومات ونه لري او د هرې موضوع متناسب ميتود ونه کاروي، نه يوازې د زده کوونکو د زده کړې لپاره لازم شرايط نه شي برابرولی، بلکې د درسونو د زده کړې لپاره د زده کوونکو نه مينه او بې ميلې لا پسې زياتوي او روښانه ده کله چې زده کوونکي د زده کړې لپاه علاقه ونه لري نه شي کولای د ټولګي نظم او انضباط وساتي.

### ۲. په زده کوونکو پورې اړوند لاملونه

د بې نظمۍ ځينې لاملونه چې په زده کوونکو پورې اړونديږي دا دي: جسمي او روحي ناروغی، د زده کړې لپاره د انګيزې او علاقې نه درلودل، د ښوونکي لارښوونو ته اهميت نه ورکول، د ښوونځي او ټولګي قوانينو او مقرراتو څخه بې خبري، د مطالعې مشخص او منظم پلان نه درلودل، کم خوبي، ستړيا او نور هغه لاملونه دي چې په ټولګي کې د زده کړې پر وړاندې د بې نظمۍ لپاره زمينه برابروي.

### ۳ .د ټولګي په فزيکي فضا پورې اړوند لاملونه

د ټولګي فزيکي وضعيت رڼا، چوکۍ،پاکۍ، ميز، مناسبه تخته، مناسبه هوا، تودوونکې او سړوونکي وسايل او داسې نور هغه عوامل دي چې د ټولګي په مديريت کې مهم رول لري. د ټولګي فزيکي فضا کولای شي هم د مديريت په تامين او هم د مديريت پر وړاندې د خنډونو په ايجادولو کې مهم رول ولوبوي او د زده کړې مانع شي. د ټولګي فضا نه يوازې داچې په فزيکي چاپېريال پورې نه محدوديږي، بلکې په عاطفې فضا پورې يانې د ښوونکي او زده کوونکي يا زده کوونکو په روابطو پورې هم اړونديږي. نو يو ټولګي بايد له عاطفي پلوه مناسب حالت ولري او د ښوونکي او زده کوونکي تر منځ بايد دوستانه اړيکې شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ټولګي د مديريت سبکونه

د ټولګي د مديريت سبکونه توپير لري. ښوونکي کولای شي د ښوونې او روزنې د موخو، د زده کوونکو د پوره پېژندنې او درسي فضا په پام کې نيولو سره مختلف سبکونه تجربه کړي. په ټوله کې درسي ډوله سبکونه شتون لري چې عبارت دې له:

***الف : پر دموکراسی ولاړ مديريت***

دا د ټولګي د مديريت کولو يو ډېرښه ميتود دی؛ځکه چې زده کوونکي له تحصيلي اړخه ډېر پرمختګ کوي او څومره چې د ښوونکي او زده کوونکو ترمنځ ښې اړيکې او درناوی ولري په هماغه اندازه زده کړيالانوته درس مهم او د پام وړګرځي هغوی کولای شي د خپل ښوونکي څخه په يوه ازاده فضا کې د درس په هکله پوښتنې وکړي، نظر وړاندې کړي، وړانديز وکړي، بحث وکړي او د خپلې پوهې کچه لوړه کړي. ددې ترڅنګ دوی خپله د ټولګي په مديريت کې مرسته وکړي. د ښوونکي په لارښوونه په فعاليتونو ګمارل کيږي، په دې ډول ټولګيو کې د زده کوونکو او ښوونکو تر منځ ګډ تفاهم شته وي او انضباطي ستونزې ډېرې نه رامنځته کيږي.

***ب: پر عدم دخالت ولاړ مديريت***

په دې ډول ټولګي کې د ښوونکي د اداري موخې مشخصې نه وي او ښوونکي د ښوونېزو او روزنېزو موخو په ترسره کولو کې نيمګړتيا احساسوي. د تدريس او ټولګي د مديريت لپاره امادګي نه لري، زده کوونکي ازاد پرېږدي، کوم کار چې يې زړه وغواړي سرته يې ورسوي او هر کار د دوی په خپله خوښه وي. همدارنګه په دې ميتود کې د مشخصو موخو د نشتوالي او درسي ټولګي د مديريت د ضعف په خاطر زده کړه کميږي، نو په همدې خاطر تر ټولو بد ميتود همدا ميتود دی.

***ج : استبدادي يا زور زياتی مديريت***

هغه ښوونکي چې په درسي چارو کې له استبدادي مديريت څخه کاراخلي زده کوونکي په شديد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول کنترولوي او محدودوي. په دې ډول مدیریت کې زده کوونکي د پوښتنې کولو اجازه نه لري، ټول تصمیمونه د ښوونکي پر غاړه وي، زده کوونکو ته ډېر احترام نه کېږي، زده کوونکي د هېجان او اضطراب دلرلو په خاطر د مسوولیت احساس نه کوي او چندان زده کړه صورت نه نیسي. هغوی دښوونکې په حضور کې د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره هڅې کوي، ولې کله چې ښوونکي نه وي هېڅ فعالیت او کوښښ نه کوي. په داسې حال کې پر دیموکراسۍ ولاړ مدیریت کې زده کوونکي هڅې کوي چې خپلې چارې په سم ډول ترسره کړي. (شریعتمداري، ۱۳۸۲).
په دې میتود کې ښوونکي د مدیریت په برخه کې اصلي رول لوبوي؛ نو په دې سره ښوونکو ته لازمه ده چې د مدیریت د میتودنو په اړوند مالومات ولري او که د درسي ټولګې دمدیریت کولو په اړوند پوره مالومات ونه لري د تحصیل پرېښودل، د ټولګي د غیبت، غم او افسردګي، د ښوونکي پر وړاندې د زده کوونکو دمقاومت، د زده کوونکو تر منځ د رفاقت د نه شتون او د درس او زده کړې سره د علاقې په نه درلودلو کې ډېرې ژورې اغېزې لري. روښانه خبره ده چې په درسي ټولګي کې د ښوونکي د رهبرۍ څرنګوالی، ددې غبرګونونو په رامنځته کېدلو کې بنسټیز او عمده رول لري. لنډه داچې دا ډول اداره د هغې ادارې برعکس ده چې په دموکراسۍ ولاړه وي او زده کوونکو ته پکې ارزښت ورکول کېږي او زده کړه په اسانۍ سره صورت نیسي. په دې ډول اداره کې زده کوونکي د ښوونکي سره علاقه نه لري. زده کوونکو ته، ښوونځي او لوستنځي د علاقې وړ نه وي، نو دوی نشي کولای په لازمه توګه ښوونې ته لاسرسی ولري او په درسونو کې پرمختګ وکړي.

## د درسي ټولګي په مدیریت کې د اغېزمنو ښوونکو ځانګړنې

اغېز لرونکي ښوونکي هغه دي، چې په مناسب او مستقیم یا غیرمستقیم ډول هغه موخې چې په زده کوونکو پورې اړوندې دي، تعقیبوي. اغېزمن ښوونکي باید په خپلو چارو کې د اغېزمنتوب د تر لاسه کولو لپاره لاندې ځانګړنې کسب کړي،تر څو وکولای شي درسي ټولګی په ښه او سم ډول اداره کړي. اغېزمن ښوونکي هغه ښوونکي دي چې په ټوله کې لاندې ځانګړنې لري:
۱: اغېزمن ښوونکي خپل زده کوونکي د هغوی د زده کړې سبکونه او طریقې، د ضعف او قوت ټکي او د هغوی پوهه او مهارتونه پېژني او پوهېږي چې زده کوونکي په کوم ډول کولای شي چې ښه زده کړه وکړي.
۲: اغېزمن ښوونکي په پوره ډول امادګي لري، پر درسي موضوع پوره حاکمیت لري او په پوره دقت سره پلان جوړوي.
۳: اغېزمن ښوونکي هغه دي چې له خپلو زده کوونکو سره پېژندګلوي ولري او د تدریس په مختلفو طریقو او مهارتونو پوه وي.
۴: اغېزمن ښوونکي خپل زده کوونکي په عملي کارونو مشغولوي.
۵: اغېزمن ښوونکي په لومړۍ ورځ خپل انضباط او کنترول زده کوونکوته ښيې او د زده کوونکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې پروايي پايلې هم ورته په نښه کوي تر څو له لومړيو ورځو د دوی پام درس ته را وګرځوي.
۶: اغېزمن ښوونکي خپلو زده کوونکو ته ډېر درناوی کوي ترڅو دوی هم همدا احساس په ځان کې غښتلی کړی.
۷: اغېزمن ښوونکي خپل ټولګي په ښه ډول اداره کوي. زده کوونکي پوهېږي چې کومې دندې بايد ترسره کړي، زده کوونکي خپل فعاليتونه ترسره کوي ځکه چې ښوونکي په اوله ورځ خپل قوانين او مقررات ټاکي او د نامناسبو کړنو پايلې ورته اعلانوي. ټول فعاليتونه يې واضح او روښانه وي.
۸: اغېزمن ښوونکي نه يوازې د زده کوونکو کارونه اوفعاليتونه مشخصوي، بلکې دا هم مشخص کوي چې ولې او څه ډول بايد کارونه تر سره کړي. (د کړنو او فعاليتونو د ترسره کولو دلايل او منطق روښانه کوي او زده کوونکي متقاعد کوي).
۹: اغېزمن ښوونکي د زده کوونکو فعاليتونه په دوامداره ډول تر نظارت اوڅارنې لاندې نيسي او په دې جريان کې دزده کوونکو کارونه ارزوي او هغوی ته په فردي ډول د ترسره شوو دندو په اړوند فيډبک ورکوي او دقت او هڅه کوي چې ښه کار ته ښه بدل ورکړي.

## د درسي ټولګي د مديريت طريقې (کړنلارې)

ښوونکي د ټولګي د ښوونېزو موخو، چاپېريال، عاطفي شرايطوپه هره دوره او هر ټولګي کې د زده کوونکو پېژندګلوي ته په پام سره، د درسي ټولګي د مديريت لپاره د خپلو تجربو او مطالعاتو څخه په ګټې اخيستنې سره د خاصو طريقو او لارو څخه ګټه اخلي، چې په دې برخه کې يوشمېر طريقې وړاندې کوو چې په لاندې ډول دي:

### *پوره امادګي*

ښوونکې بايد نه يوازې دا چې په موضوع حاکم وي بلکې د ورځنيو اطلاعاتو څخه هم پوره مالومات ولري او د دې ترڅنګ له روحيې، جسمي او صحي اړخه هم تدريس ته چمتووالي ولري؛ سربېره پردې ښوونکي بايد هغه رشته چې تدريس کوييې پکې پوره تخصصي او اپډېټ شوي مالومات ولري او د علم او ټکنالوژۍ دپرمختګ متناسب خپلو مالوماتو ته پراختيا ورکړي.

### *د فرصتونو څخه ګټه اخيستل يا د شرايطو سره مطابق تدريس کول*

دتدريس پر مهال ممکن يو شمېر اتفاقات را منځته شي د بېلګې په ډول: د واورې اوريدل، سيلاب راتلل، زلزله او نور. څرنګه چې دا ډول پديدې د زده کوونکو لپاره ناڅاپي وي، نو ښوونکي کولای شي همدې اتفاقاتو ته په کتو سره خپلو درسي موضوعاتو لومړيتوب ته ورکړي او همدې موضوع ته په پام سره موضوع وټاکي او تدريس وکړي. چې په دې ډول سره زده کوونکي د عيني پديدو سره اشنا کيږي. ښوونکي په ټولګي کې د تنوع په را منځته کولو او نوې موضوع په وړاندې کولو سره کولای شي د ټولګي فضا د ستړيا له حالت څخه وباسي او ټولګي ته تازګي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښي ورکړي.

***د ټولګي د قوانينو ټاکل***

په ټولګي کې د قوانينو ټاکل د ټولګي په کنترول او د ښوونکي په اغېزمنتوب کې بنسټيز رول لري. که په لومړيو کې قوانين و نه ټاکل شي زده کوونکي د ټولګي وضعيت د خپلې ګټې او خوښې په لور او د ښوونکي د نا خوښۍ په ډول تعينوي. نو د ټولګي د کنترول او ښې ادارې، د تدريس د وخت څخه د ښې استفادې او د کال په اوږدو کې د احتمالي ستونزو د را ولاړېدو د مخنيوي لپاره لازمه ده، چې ښوونکي د ښوونيز کال په لومړيو کې مخکې له دې چې درسي ټولګي ته دننه شي خپلو تجربو او هغه اطلاعاتو ته په کتو چې د زده کوونکو په اړوند يې لري، خاص قوانين او مقررات فهرست کوي او د دې لپاره چې له ياده يې ونه وځي، په يوه پاڼه (کاغذ) کې يې وليکي او په لومړنۍ درسي ناسته کې يې زده کوونکو ته اعلانوي او د زده کوونکو او ځان ترمنځ يوه دوه طرفه هوکړه ليک منعقد کوي، په داسې ډول چې زده کوونکي د ښوونيز کال يا هم يو سمستر تر پايه پورې هغه قوانين رعايت کړي. په ابتدايه دوره کې بايد د درسي ټولګي اصول او قواعد د کال په لومړيو ورځو کې د زده کوونکو په اختيار کې ورکړي. مطالعاتو ښودلې ده چې ښوونکي بايد خپل انضباطي سياست اعمال کړي او په دې برخه کې بايد ثابت قدمه و اوسي. په دې ډول سره زده کوونکي، د ښوونکي د مستقيم نظارت او دخالت پرته کولای شي مناسبې کړنې ترسره کړي. د زده کوونکو د اخري برياليتوب د دلايلو څخه يو هم د درسي ټولګي د قوانينو او مقرراتو څخه پيروي کول دي. د يادولو وړ ده چې په مثبته ژبه د قوانينو ټاکل ددې باعث کېږي، چې زده کوونکي د ښوونکي سره علاقه پيدا کړي او په درسي فعاليتونو کې په فعال ډول ونډه واخلي. چې په دې توګه د درسي ټولګي مديريت خپله تامين کېږي.

**د ټولګي د قوانينو او مقرراتو نوملړ**

***په مثبته ژبه په منفي ژبه***

- پر خپل وخت ټولګي ته حاضر شئ.
- ټولګې ته بايد ناوخته رانشئ.
- په امادګې سره درسي ټولګي ته دننه شئ.
- له امادګی پرته ټولګي ته مه دننه کېږئ.
- د ټولګي نظم او انضباط وساتئ.
- په نظم او ترتيب او ارام ډول له ټولګي څخه ووځئ.
- چې له ټولګي څخه وتئ منډې مه وهئ.
- له خبرو کول مخکې، لومړی اجازه واخلئ.
- له اجازې پرته خبرې مه کوئ.

بايد په پام کې ولرو چې وضح شوي قوانين او مقررات بايد دومره ډېر نه وي، چې د زده کوونکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړې دفعاليتونو مخه ونيسي؛بلکې دقيق، روښانه او د انعطاف وړ وي. په داسې ډول چې زده کوونکي وپوهيږي په درسي ټولګي کې کومې کړنې منل کيږي کومې کړنې منع دي.يانې کوم کارونه کولای شي او کوم کارونه نه شي ترسره کولای.

## د کړنو د تغير لارې چارې

د کړنو دتغير څخه منظور د زده کوونکو د کړنو د اصلاح په موخه د زده کړې د ارواپوهنې د اصولو او طريقو څخه استفاده کول دي. ددې لارو چارو لويه موخه، د مطلوبو ښوونيزو او ټولنيزو کړنو د ترسره کولو لپاره د زده کوونکو لارښونه او د نامطلوبو کړنو له منځه وړل دي. (سيف، هغوی و نه رټې او نور اقدامات چې نامطلوبې پايلې لري کم کړي. يو شمېر ښوونکي چې د ( کړنو دتغير) دميتودونو څخه بې خبره وي، له منفې لارو څخه استفاده کوي لکه تنبيه، له ټولګي څخه د زده کوونکو اخراجول او داسې نور. هغوی تل د زده کوونکو د نامطلوبو کړنو څخه شکايت کوي، اما هېڅ وخت له ځانه پوښتنه نه کوي،چې ولې زده کوونکي نامطلوبې او نامناسبې کړنې ترسره کوي؟ شايد اصلي لامل يې د ټولګي په اداره کې د ښوونکي نيمګړتيا او ضعف وي. د رفتار د تغير ميتودونه ډېر دي اما يو ميتود يې چې ډېر اغېزمن دی د اشباع ميتود دې.

• ***د لومړنۍ درسي ساعت ارزښت***

کله چې ښوونکي ټولګي ته دننه کيږي لومړی بايد د خدای پاک نوم ياد کړي، سلام واچوي وروسته د زده کوونکو له حاله ځان خبر کړي او په لنډه توګه ځان زده کوونکو ته ور وپېژني. د اړتيا پر مهال خپل مشخصات لکه نوم، تخلص، مدرک، تحصيلي ځانګه او د تحصيل ځای او داسې نور په تخته وليکي. وروسته له دې لازمه ده، چې په ډېر غور او فکر سره خپل درس پيل کړي. ځکه چې يو ښه پيل کولای شي په ټولګي کې د ډېرو ستونزو او بې نظميو څخه مخنيوی وکړي؛ نو لازمه ده چې ټوله انرژي په کار واچوي او په لومړي درسي ساعت کې په اعلی ډول درس ورکړي د ښوونيز کال تر پايه به بريالي وي. ښه خبره داده چې په لومړۍ جلسه کې د زده کوونکو سره رسمي چلند وشي او وروسته بيا د هغوی سره صميمي چلند غوره شي. په دې ډول سره د زده کوونکو په ذهن کې يو تصوير ايجادوي چې هغوی فکر کوي دا يو مقتدر، ماهر او مسلط ښوونکي دي. ځکه چې زده کوونکي د لومړنۍ جلسې څخه وروسته د تاسو د کار په اړوند قضاوت کوي. په همدې خاطر لومړنۍ جلسه کولای شي په ټولګي کې يوه داسې فضا را منځته کړي١٣٧٦) ددې ميتودونو څخه باخبري ددې باعث کيږي تر څو ښوونکي عصباني نه شي. زده کوونکي له ټولګي څخه ونه باسي چې اغېزه يې په ټول کال او يا سمستر کې د زده کوونکو په ذهن کې باقې پاتې شي. د ټولګي بريالي اداره تر ډېره په هغو اصولو او اقداماتو پورې اړه لري چې په لومړۍ جلسه کې مو تعين کړي او عملي کړي مو دي. د يو کال په اوږدو کې د ټولګي د ادارې او کنټرول په اړوند د ښوونکي برياليتوب او شکست په لومړنۍ جلسې پورې تړاو لري. که په لومړنۍ جلسه کې مو وښودله، چې يو بريالی ښوونکي يې، په حقيقت کې مو د خپلو زده کوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ذهنونو کې يوه مثبته روحيه ايجاد کړي، که د کال په اوږدو کې له کومې ستونزې سره مخ هم شي نو زده کوونکي د لومړۍ ورځې تصوير په ذهن کې لري او تاسو بيا هم د بريالي ښوونکي په توګه مني او د يو ضعيف ښوونکي په توګه تاسو ته نه ګوري، بلکې د يو قوي او اغېزمن ښوونکي په سترګو درته ګوري.

**• د زده کوونکو د نومونو زده کول**

د درسي ټولګي د مديريت يوه ډېره ساده او اسانه لار زده کوونکو د نومونو زده کول دي. کله چې د زده کوونکو نومونه زده کړې هغوی تاسو ته د يو ځېرک او هوښيار ښوونکي په سترګو ګوري او بې نظمې نه کوي پوهېږي چې استاد هر څه ته متوجه دی. کله چې زده کوونکي ته په نوم غږ کوي په حقيقت کې يوه عاطفي فضا ايجادوي او په دې صورت کې زده کوونکي ځان ته اجازه نه ورکوي چې د ټولګي نظم له منځه يوسي او کله چې د هر زده کوونکي نوم زده کوي په دې مانا چې هر يوه سره علاقه لري چې په دې صورت کې د بې نظمۍ په نوم د کومې پديدې رامنځته کېدل په ټولګي کې ډېر کم امکان نه لري. کله چې د زده کوونکو شمېر زيات وي دهغوی د نومونو زده کول ګران کار دی، خو درانه ښوونکي د لاندې لارو چارو څخه په ګټې اخيستنې کولای شي چې ډېر ژر د خپلو زده کوونکو نومونه زده کړي:

۱ . له زده کوونکو څخه وغواړي چې هر يو په انفرادي ډول خپل ځان معرفي کړي.

۲ . کله چې زده کوونکي ځان معرفي کوي، بل څه ته پام مه کوئ؛ بلکې يوازې د زده کوونکي نوم ته پام وکړئ او اماده و اوسېږئ. وروسته د زده کوونکي نوم په لوړ اواز تلفظ کړئ. د بېلګې په ډول ستا نوم محمد طاهر خپلواک دی؟

۳ . په دې پړاو کې تصوير سازي وکړئ او د زده کوونکي نوم د هغه چا سره چې تاسو يې پېژنئ په خپل ذهن کې يې تصوير جوړ کړئ او دهمدې نظر وړ کس او زده کوونکي تر منځ يوه ذهني رابطه ټينګه کړئ.

۴ . د زدکوونکو د نومونو د ژر زده کولو لپاره د هغوی د نومونو د ليست څخه ګټه واخلئ.

۵. د امکان په صورت کې د زده کوونکو څخه وغواړئ چې په څو لومړيو اونيو کې په ثابت ځای کې کيني.

۶. د ليدلو ثابتې نښې لکه: ابي سترګې، طلايې سترګې، غټه پزه، غنچه شونډې، تور کالي او نورو له لارې کولای شي د زده کوونکو نومونه زده کړئ.

۷. له هر زده کوونکي څخه وغواړئ چې د تختې مخې ته راشي او نورو ته ځان معرفي کړي. البته دا کار د ډېر شمېر لرونکي ټولګي لپاره مناسب نه دی ځکه ډېر وخت نيسي.

۸. زده کوونکو ته ووايئ چې په کاغذ خپل نوم وليکي او په خپل ميز يې وچسپوي.

۹. ښوونکي دې هڅه وکړي چې په هر ورځ کې ديو قطار زده کوونکو نومونه زده کړي.

۱۰. له هر زده کوونکي وغواړئ کله چې نظر ورکوي او يا پوښتنه ځوابوي اول دې خپل نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي وروسته دې نظر وړاندې کړي.

**• زده کوونکو ته د مطالعې د صحیح طریقو او لارو چارو ښودل**

د هر کار د ترسره کولو لپاره په ځانګړي ډول د مطالعې او زده کړې لپاره ځانګړې طریقې شته دی، چې د زده کوونکو سره په بریالیتوب کې مرسته کوي. ډېر شمېر زده کوونکو د مطالعې په صحیح طریقې نه دي زده او نه پوهېږي،څه وخت، چېرته او څه ډول باید مطالعه وکړي. د نړی په پرمختللو ټولنو کې د مطالعې صحیح میتودونه په ښوونیزو مراکزو کې د مختلفو درسونو او موضوعاتو ترڅنګ زده کوونکو ته درس ورکول کېږي. چې په دې سره ډېر زده کوونکي د لوړ استعداد څخه برخمن وي او ډېره مطالعه کوي، ولې که د مطالعې په سمو طریقو پوه نشې، نو نشي کولای د خوښي وړ پایله لاسته راوړي. دا زده کوونکي کله چې په ټولګي کې د ښوونکي د پوښتنې سره مخ کېږي،نو پرخپله حافظه فشار راوړي اما بیا هم نشي کولای د پوښتنې ځواب پیدا کړي؛ نو غواړي د پوښتنې د ځواب لپاره له ټولګیوالو څخه مرسته وغواړي، چې همدا کار د دې باعث کېږي چې په ټولګي کې شور ماشور جوړ شي او ښوونکي د ټولګي اداره او کنترول له لاسه ورکړي، نو د ټولګي د مدیریت له طریقو څخه یوه هم داده چې زده کوونکي د مطالعې له سمو طریقو سره اشنا کړل شي او وهڅول شي تر څو ددې طریقو څخه کار واخلي.

**•په درسي ټولګي کې د ښوونکي ښه رویه**

ښه رویه او ښه اخلاق کینه له مینځه وړي، انسانان یوبل ته نژدې کوي، زړونه یو له بل سره تړي او د ټولګي فضا تازه او د خوښیو څخه ډکوي. د تاسو او زده کوونکو تر منځ د قوي عاطفي اړیکو ټینګښت د محبت او دوستۍ د دوام او ثبات باعث کېږي. هر اغېزمن ښوونکي باید یو خوش اخلاقه، ورین تندي لرونکی، عاطفي او مهربانه، د رواني سلامت یا روغتیا لرونکي او انطباق منونکی شخص وي. تل پر شونډو موسکا ولري، دخپل عصبانیت او عصبي کېدو مخه ونیسي، له زده کوونکو سره صمیمي ولې قاطع چلند وکړي او په پوره ډاډ عمل وکړي، اما ښه داده چې د زده کوونکو سره د اندازې نه زیات صمیمیت او نژدېوالي څخه اجتناب وکړي، ځکه ځېنې وخت ډېر صمیمیت د زده کوونکو د لار ورکی او ښوونکي د ستړیا او پښېمانۍ سبب ګرځي.

**• د مانا لرونکو ګړنو ډیزان**

په درسي ټولګي کې د ستونزو د را ولاړیدو د مخنیوي د لارو چارو څخه یوه هم داده، چې مانا داره فعالیتونه ډیزاین او په کار واچول شي. مانا لرونکي کړنې د زده کوونکو علاقه زیاتوي او په ټولګي کې د بې نظمۍ مخنیوی کوي. مانا داره فعالیتونه هغه فعالیتونه دي، چې د زده کوونکو علایق، تفکر او د زده کوونکو امادګي یې او وکولای شي د زده کوونکو پر پرمختګ اغېزه وکړي.

**• د فرصتونو برابرول**

یو ترکیې متل دی، وایي: «خوب، خوب راوړي.» ددې پربنسټ یو شمېر وایي: ((زدکړه، زدکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي» نو په همدې خاطر لازمه ده چې په ټولګي کې فرصتونه ایجاد شي، ترڅو هر زده کوونکی په درسي ټولګي کې بریالیتوب او زده کړه تجربه کړي. د زده کوونکي د بریالیتوب تجربه، کېدای شي، د ټولګیوالو سره دمرستې او یا د یو انفرادي کار په ترسره کولو سره حاصل شي. بریالي ښوونکي داسې فعالیتونه تنظیموي، چې نه ډېر سخت او نه ډېر اسانه وي؛ بلکې هغه فعالیتونه چې انګېزه پارېدونکې او په هغه کې د بریالیتوب امکان ډېر وي طرحه کوي.

***• زده کوونکو ته د لازم پیدبک (اصلاحي نظر) ورکول***

زده کوونکي اړ دي چې د خپلو کړنو د پایلو څخه خبر شي، ځکه چې دا خبرتیا ددې باعث کېږي،چې د خپل بریالیتوب په هکله قضاوت وکړي او له هغوی سره مرسته کوي څو د خپل بریالیتوب لپاره معیارونه ډیزاین کړي او ددې معیارونه د پوره کولو لپاره لازمې هڅې او کوښښونه وکړي.

***• په تصمیم نیولو کې زده کوونکو ته ونډه ورکول***

زده کوونکي اړ دي چې د خپلو کړنو په اړه چې ترسره کوي یې، اختیار ولري. د درسي ټولګي د مدیریت ضعف او د زده کړې لپاره زده کوونکو ته ونډه نه ورکول، په زده کوونکو کې دا احساس را منځته کوي،چې د خپلې زده کړې اختیار نه لري. په دې مواردو کې زده کوونکي د ښوونکي د اوامرو مطیع ګرځي او د زده کړې لپاره انګېزه له لاسه ورکوي. ددې وضعیت د له منځه وړلو لپاره یوه لاره داده، چې ښوونکي زده کوونکو ته فرصت ورکړي، ترڅو پخپله د تجربې لارې د زده کړې ستونزې تعین کړي. که زده کوونکي پر دې باور وکړي، چې د ټولګي په فعالیتونو او تصمیمونو کې مهم رول لري، د زده کړې لپاره به ډېره انګېزه پیدا کړي او د بدو کړنو او بې نظمیو کچه به راټیټه کړي.

***• پر ټولګي مداومه څارنه***

د درسي ټولګي په اداره او کنترول کې یو اغېزمن عامل دادی، چې ښوونکي د ټولو کړنو په اړوند چې په ټولګي کې ترسره کېږي،خبروي. ددې کار لپاره دا ډېره مهمه ده چې څه ډول د ټولګي ټولې کړنې تر څارنې لاندې ولري؛ نو په همدې خاطر پام وکړي، چې لیدنه او څارنه مو د زده کوونکو ترمنځ په عادلانه ډول وویشي. ستاسو د څېرې حالت کولای شي، په زده کوونکو ډېره اغېزه وکړي. له ټولو ستونزو سره سره چې له ځان سره یې لري، بیا هم په (مهربان ډول زده کوونکو ته وګوري). لیدل په دوه ډوله دي: لیدل او کتل یا لیدنه او کتنه. لیدل یو غیر ارادي فعالیت دی. مونږ ټول شیان وینو، که وغواړو او که ونه غواړو هر هغه څه چې زموږ په وړاندې شته هغه وینو، خو یوازې هغه څه مو په یاد پاتې کېږي، چې په ارادي ډول او پوره دقت سره مو ورته کتلي وي، نو په دې سره په ټولګي کې هڅه وکړئ، چې د خپلې لیدنې او کتنې څرنګوالي ته پام وکړئ؛ ځکه چې زده کوونکي د درسي مطالبو یوه برخه د ښوونکي د سترګو داړېکو له لارې زده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پايله کې په هره اندازه چې ښوونکي د ليدلو او کتلو مهارت ولري، په همغه اندازه په تدريس کې برياليي دي. په يا د ولرئ، چې زده کوونکي متوجه دي، چې ښوونکي کوم کس يا کومو کسانو ته ډېر ګوري. له همدې خاطره په هغوی کې د حسادت حس تحريک کېږي او د يو شمېر کړنو په ترسره کولو سره د ټولګي مديريت له خنډونو سره مخامخ کوي. ويل کېږي،چې ښوونکي په شا کې هم سترګې لري، دا ددې نه سرچينه اخلي، چې هغوی نه يوازې تيز ليدونکي دي او قوي تمرکز لري؛ بلکې د هغوی بدني تحرک زيات دی. (فونتانا، ۹۷۶) که ښوونکي د ټولګي پر اوضاع واکمن وي او په ټولګي کې يې هر ډول خوځښت تر نظر لاندې وي، په دې صورت کې د زده کوونکو د بې نظمی د رامنځته کولو د فرصت مخه نيول کېږي. ځکه که زده کوونکي احساس وکړي، چې ښوونکي د هغوی ټولې کړنې تر څارنې لاندې لري او په ټولګي کې د درس په جريان کې په زده کوونکو اغېزلري؛ نو په دې حالت کې زده کوونکي نشي کولای، چې بې نظمي را منځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښوونیز درسي نصاب

ښوونیز او روزنیز منل شوي سیستم د یوې پرمختللې او مهذبې ټولنې بنسټ جوړوي، داسې یو سیستم چې له هر ډول سیاسي لاسوهنو پاک وي او د هېڅ سیاسي ګوند، ډلې اوخوځښت زېږنده نه وي او نه په کوم ځانګړي شخص پورې تړلی وي، د ولس د غوښتنو او اړتیاوو ځواب ویونکي او رښتیني استازیو یا د ملت په فکر او هوډ جوړ شوی وي. تر ټولو لویه او لومړۍ غوښتنه او اړتیا د واقعیتونو درک کول او د زده کوونکي اړتیا او وړتیا ده، چې هېڅکله او په هر ډول شرایطو کې باید له پامه ونه غورځول شي.

همدا راز ښوونیز درسي نصاب باید د ملي وثیقې ښکارندوی وکړي نه د کومې شخصي او سیاسي مفکورې، هغه څه چې د ولس او خلکو غوښتنه ده او ورته اړتیا لري، د هغوی نظرونو ته د احترام په سترګه وکتل شي.

د اسلامي ارزښتونو، د ټولنې د ملي یووالي او د مینې او محبت په ارزښتناکو تورو پیل شوی نصاب وي، څو د دغې سپېڅلې خاورې د ګلالیو بچیانو ذهنونه د اسلام پالنې، انسان پالنې او هېواد پالنې په موخه وروزي، د نیکمرغۍ او سوکالۍ خوا ته یې روان کړي، له نوي ساینس او ټکنالوژۍ سره یې بلد او د نړۍ له سیالانو سره یې سیال کړي، د خپلې خاورې په ارزښت یې پوه کړي او بالاخره له خپلو اسلامي مقدساتو، هېوادني دود، ملي ارزښتونو او دستور څخه په هر اړخېز ډول خبر واوسي په پردیو شومو دسیسو او نغوتو باندې ونه غولیږي.

که په هېواد کې تیر دیرش کلن ناورین ته لږ ځېر شو، پرته له دې چې د چا یا هم کومې ډلې او سیاسي تنظیم پلوي وکړو دا به راته څرګنده شي، چې زموږ ملي نصاب په ګوندي اوسمتي نصابونو وېشل شوي و.

هرې ډلې او هر تنظیم به د خپلې خوښې اوسیاسي مفکورې پربنسټ نصاب رغاوه او په دغه بهېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د پوهنې بنسټ هم لکه د هېواد د نورو اقتصادي، ټولنیزو او بشري بنسټونو په څېر ګډوډ شوی و. د مرکزي ښوونې او روزنې سیستم یو شان نه و او له بېلو بېلو ښوونیزو سیسټمونو څخه ګټه اخیستل کېده، ښوونیز نصاب نه یوازې یو شان (متوازن) نه و، بلکې زیات شمېر نصابونه په قسمي ډول د پلي کېدو وړ ګرځېدل، همدغه وجه وه، چې زموږ هېواد یې له لویو لویو بدبختیو سره لاس او ګریوان کړ، زیاتره ښوونځي د اوږدو جګړو په ترڅ کې یا له منځه ولاړل یا هم ډېر زیانمن شول. زیات شمېر تجربه لرونکو او مسلکي ښوونکو د ناوړو شرایطو له امله معارف پرېښود چې تر اوسه پورې لا د دغو بدمرغیو لوګي ورک شوي نه دي.

په تیر لنډ تاریخ کې د هېواد دننه او بهر د هجرت په ټاټوبي کې هم له دې نا خوالو سره مخ وو، همدا راز بهرنۍ خیریه او ښوونېزې مؤسسې په خپل ځای کې پاتې راغلي دي، له غربي، اروپایې، امریکایي ښوونیزو مؤسسو او ادارو سربېره عربي او اسلامي ادارو هم خپل رسالت زموږ د هېواد د اړتیاوو پر وړاندې سم تر سره نه کړ.

*دلته غواړم یوازې څو بېلګې د لږ وضاحت لپاره وځېړم:*

کېدله: نصاب هغه څه دي، چې ماشوم او نوی نسل روزي او له یوې لسیزې وروسته یې د خپل هېواد د خدمت لپاره چمتو کوي، نو زده کوونکي باید تل داسې وروزل شي، چې له ټولو مخکې د اسلام د سپیڅلي دین د اساساتو او ورسره په څنګ کې د خپل هېواد د غوښتنو ځواب ویونکی ځوان جوړشي. یوه بله د یادولو وړ خبره دا ده، چې د اسلامي مفاهیمو او هېواد د خدمت او ملي ارزښتونو تعبېر باید سم انځور شي، ناسم وړاندې کېدل یا د خپلو موخو لپاره یې کارول درست نه دي. دا سمه ده، چې اسلامي اساسات او د اسلام مقدس دین ته ژمنتوب اساسي غوښتنه ده، همدا راز د هېواد خدمت او چوپړ هم پر ولس حق دی، خو د دې مانا دا نه ده، چې د نصاب په برخه کې منل شوي نړیوال معیارونه یا د اروا پوهنې او ځان جوړونې هغه اصول له پامه وغورځول شي، چې په دې برخه کې منل شوي دي.

د اسلام مقدس دین له افراط او تفریط څخه پاک دین دی، هر څه یې په خپل ځای او په ځانګړې بڼه او شمېر لازم کړی دی، که څوک د یوې میاشتې فرضي روژې په ځای یو کال روژه نیسي یا هم د ورځې په ځای شپه او ورځ روژې نیولو هوډ کوي، دا کړنې نه دا چې له دین سره مینه او اخلاص ښیې، بلکې دین یې ردوي. همدا راز که د هېواد مینه او ارزښتونه دومره حد ته ورسېږي، چې له انسان لار ورکوي یا یې د ژوند اساسي برخه ګرځوي دا هم ناسم تصور دی.

دبېلګې په توګه که د لومړنۍ مرحلې زده کوونکي ته د هېواد ملي ارزښتونه، یا مجهول المعنې موضوعات لکه تروریزم، بشري نړیوال حقوق او میثاقونه، نړیوالې اړیکې او دوستې او په درسي کتابونو کې ځای کړل شي، ددې په ځای چې ددې زده کوونکي په ذهن کې د هېواد مینه پیدا شي، د لومړنۍ مرحلې اصلي موخه چې لیک او لوست دې ترې پاتې او تل به په فلسفي او نا محسوسو مفاهیمو د هغه ذهن ولاړ وي.

بله لویه ستونزه زموږ د هېواد په دې لنډ پړاو کې د نصاب اړوند د انډول نه ساتل دي، هر چا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې ډلې ته چې ددې ولس د پوهنې واګې په لاس کې ورغلي دي هغه د خپل ذوق يا خپل محروم شوي موقف او حق د عکس العمل په پايله کې ښوونيز نصاب د خپل فکر له مخې چمتو کړي دي. که د کومې ډلې يا شخص ښوونځی يا مکتب خوښيده، نو يې د خپل واک په درشل کې هر څه له ښوونځي زار کړي، ښې ودانۍ يې ورته جوړې کړي، د پوهنې ټوله بوديجه يې د کتابونو او نورو درسي توکو په برخه کې لګولې ده، په مقابل کې که د چا مدرسه او ديني مدارسو نظام خوښ وو، نو د هغه په وړاندې د معارف مانا هر څه مدرسه کول يا ديني مرکزونه جوړول دي. په تيرو لسيزو کې به د مجاهدينو په ښوونيز نصاب کې هر مثال د تورې، بارودو، روسي مړو شمېر او د مرميو يا ګولېو پېر وو، ان تر دې چې د رياضيکي معادلو د حل پر مهال به سړي فکر کولو چې ګواکې د عسکري فرقې په منځ کې تمرين کوي. همدا راز د خلقيانو او پرچميانو درسي بېلګې اوتمرينونه به د اشرارو د نيولو، وطن، کوراو کاليو پيدا کولو او د بزګرانود خدمت او نوي پيدا شوي کمونيستی د خورولو او ستاينې موضوعات وو. همدا لاملونه وو، چې تر ننه د مکتبي او طالب تر منځ واټن موجود دی، لومړی يې ځان مهذب او متمدن بولي او هغه بل ته په دې نظر ګوري، چې بايد يوازې تر حجرې او محرابه پورې اړوند خپلې ټولې چارې سمبال کړي او د ژوند په نورو برخو کې د خبرو کولو يا نظر ورکولو هېڅ حق نه لري. په مقابل کې دا دويم ډول زده کوونکي لومړي ته د يو عادي او له اسلامه د نه پوهېدونکي شخص په سترګه ګوري ان تر دې چې مکتب يا ښوونځي د ځينو ديني عالمانو په اند په اسلام کې يوازې مباح عمل بلل کېږي، چې ورتلونکي يا د دې ډول تعليم تر سره کوونکي يوازې ګنهګار نه بولي او اهميت ته يې هېڅ اړتيا نه ويني، چې پورتنې دواړه ډول نظريې د ښوونېزو نصابونو د غير متوازنو او نا سمو پاليسيو زېږندنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونيز درسي نصاب چوکاټ

***د تعليم موخه***

د زده کړې موخه يوازې د مادي امکاناتو يا دندې لاسته راوړل نه دي، بلکې د انساني تکامل او په نړۍ کې د واقعي انسان په توگه د ژوندانه تيرول او لوړو خويونو ته رسېدل اساسي موخه ده، څو انسان وکولای شي د همدې پوهې په مټ د خپل ځان، کورنۍ، کلي او ولس لپاره د انسانيت او بشريت د هستۍ اصلي خدمت جوگه او الهي خلافت په سمه توگه ادا کړلای شي.

همدې ټکي ته په پام بايد ښوونيز نصاب او نظام داسې چمتو شي، چې زده کوونکي په دې پوه او قانع شي، چې تعليم او زده کړه د ورځنيو امکاناتو او مادياتو د لاسته راوړنې وسيله نه، بلکې د انساني قيادت او خدمت جوړونې اصلي موخه ده، چې په دې سره د ورځنيو اړتياوو پوره کول او مادي امتيازات لاسته راوړل يوه عادي او حتمي چاره ده.

***اسلامې معتقدات او ارزښتونه***

اسلام د ژوندانه يو هر اړخيز نظام دی، چې په هره برخه کې د انسان او بشريت ټولې نېکمرغۍ او پرمختگونه پکې نغښتي دي.د سوداگرۍ، کار، کسب، ټکنالوجۍ او د ژوندانه په نورو برخو تل ټينگار شوی او هڅونه يې هم شوې ده، خو له ژونده اصلي موخې ته چې اسلامي ارزښتونه او معتقدات دي، هر څوک او د هرې کته گورۍ خلک رابلل شوي دي او دوی ټول اړ دي چې دې موخې ته ژمن وي. له همدې کبله بايد په ښوونيز نصاب کښې د (ديني ښوونې) تر عنوان لاندې يوازې په څو لنډو او محدودو موضوعاتو بسنه و نه شي، بلکې د هرې برخې او هرې موضوع اړوند مفردات له ځانه سره ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جلا (غیر مختلط) تعلیم**

هره ټولنه او معاشره خپل خپل عادات او ځانګړي اصول لري. افغاني ټولنه هم د بشریت د یو نظام په توګه خپلې ځانګړنې، اړتیاوې او غوښتنې لري، چې باید له پامه و نه غورځول شي. دا چې په فطري توګه نر او ښځه د جلا جلا موخو لپاره پیداشوي، نوځکه یې ښوونیز نصاب اونظام باید د هغو دواړو د ژوند د اړتیا او وړتیا پر بنسټ د جلا جلا تعلیم په بڼه چمتو کړل شي. سالم چاپېریال او د نظام چلوونکي د سم او سالم چاپېریال برابرول او د نظام چلوونکو صلاحیت او صالحیت د ښوونیز نصاب تر اهمیت کم نه دی، که درسي معیار لوړ، ښه او باکیفیته هم وي، خو د مدیر، استاذ، سرښوونکي او نورو کارکوونکو کرکټرونه او همدا راز د ښوونځي او ټولګیو ماحول په ټوله مانا د زده کوونکي په ژوندانه کې جوت تاثیر لري، چې ښه اثر یې ښه او بد یې سلبي اثر لرلای شي.

په لنډه توګه ویلای شو، چې ښوونیز نصاب باید د لاندینۍ ستراتېژۍ په پام کې نیولو سره جوړ شي:

۱. ښوونیز نصاب باید د اسلامي مقدساتو او دیني اړینو زده کړو اړتیاوې پوره کړي.
۲. ښوونیز نصاب باید د ټولنې د اړتیاوو د پوره کولو ضامن وي.
۳. په ښوونیز نصاب کې باید له ملي افتخاراتو او غوره عنعناتو څخه په زړه پورې یادونه وشي.
٤. په ښوونېزه برخه کې باید انکشاف متوازن وي، هسې نه چې د یوه ښوونځي زده کوونکي له پرمخ تللو کمپیوټرونو څخه استفاده وکړي او بل ښوونځی د اسمان تر چت لاندې په لوخه ځمکه زده کړې وکړي.
۵. د مسلکي نارینه او ښځینه ښوونکو شتون د ښوونې د پیاوړتیا له اساسي لاملونو څخه دي، همدا راز د د کافي درسي موادو شتون اړین دي.
٦. نصاب باید سیاسي نه وي، په دې مانا چې هر نظام او هر حاکم ګوند یې د خپلو مفاداتو او ښېګڼو لپاره را وڅرخوي لکه په اوسنیو ځینې نصابونو کې (د طالب د واکمنۍ توره دوره، تروریزم او داسې نورو الفاظو کارول) ځکه دا رنګه پاروونکې الفاظ د ټولنې په منځ کې نفرت، کرکه او د زده کوونکي مسیر بل لورې ته اړوي.
۷. له تعلیمي مرکزونو څخه باید سیاسي ګټه پورته نه کړل شي، لکه په ښوونځي یا پوهنتون کې د انتخاباتي حلقو جوړول یا د کوم کاندید په اړه هلته غونډې ترسره کول.
۸. د واحد، پر مخ تللي او هر اړخېز ښوونیز نصاب شتون د یوې پرمخ تللې ټولنې لپاره لومړۍ اړتیا ده.

## د ښوونیز نصاب عمده موخې

۱- د ښوونځیو د زده کوونکو په اسلامي روحیه روزل، د اسلام د سپېڅلي دین په بنسټونو پیاوړتیا، د اسلامي پوهې پراختیا چې نه پکې زیاتی وي او نه پکې کمی او بنسټ یې هم قرآني پوهه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدصلی الله علیه وسلم سنت وي. د الله جل جلاله پېژندلو په موخه د ځان پېژندنې د روحیې شتون، په لوی الله جل جلاله او دیني ارزښتونو باندې د عقیدې پربنسټ د وګړو د شخصیت پیاوړتیا په دې مانا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او خلک یې هم ټول مسلمانان دي او د خپل ژوند ټولې چارې به د اسلامي ارزښتونو مطابق پر مخ بیایې.

۲- په هېوادنۍ مینه د زده کوونکو روزل، یانې زده کوونکو ته د هېواد پالنې روحیه ورکول، د هېواد جوړول، سمسورول او د زړه له تله له خپل هېواد او له خپلو خلکو سره مینه لرل خپل خلک خپل ځان ګڼل.

۳- زده کوونکي په داسې لارو چارو روزل تر څو په راتلونکې کې د هېواد په کچه ورځخه ښه کادري په ځان متکي کارپوه علمي او مسلکي شخصیتونه جوړ شي، چې په راتلونکي کې د خپلې ټولنې او د خپل هېواد د مظلومو او بېچاره بچیانو درد ته درمل شي.

۴- د ښوونیز نصاب مفردات او د مضمونونو شمېر داسې جوړول، چې اړتیاوو ته ځواب ووایي او د زده کوونکي د تعلیمي کچې څخه لوړ یا همدومره ټیټ نه وي، چې دمعیاري تعلیم مخه ډب کړي. همدا راز د نورو هېوادونو د مطلق وارداتي نصاب څخه ډډه کول د تدریسي بهېر ماهیت د تدریس بهېر په ماهیت کې درې فکتورونه شامل دي، فعالیت، موقعیت او منابع یاسرچینې دي، محتوا هغه اصول او مفاهیم دي چې په یو درسي پروګرام او قالب کې وړاندې کېږي، زده کوونکي په مطالعې، تحلیل او دښوونیزې محتوا هدف پلی کوي، دهر درس محتوا یو ځانګړی جوړښت لري دغه جوړښت د معلم د تدریسي طریقې او د فعالیت ډول سره ټاکل کېږي، اصولاً دښوونیزې محتوا اصول په تعین شوو اهدافو ولاړ وي، که چېرې تعین شوي اهداف ددرسي موادو په اصالت اوپه علمي حقایقو ولاړ وي،باید یوه ثابته محتوا په ټول هېواد کې تدریس شي، په داسې حالت کې ښوونکی دابتکار او عمل ازادې څه ناڅه به دمحتوا په انتخاب او جوړښت کې ونه لري، هغوی باید فردي توپیرونه چې هر ډول وي د ثابتو طریقوله لارې ټولو زده کوونکو ته وړاندې کړي اوپه سمو لارو سره لاس پرې پورې کړي او کوښښ وکړي، چې ټاکل شوي اهداف پلي کړي، داسې محتوا چې زده کوونکو ته خفه کوونکي وي او هغوی د ټولګي او ښوونځي د چاپېریال څخه بلې خوا بیایي.

که چېرې په برعکس ډول ټاکل شوي اهداف دزده کوونکو په هر اړخېزه وده ولاړ وي دزده کوونکو علاقې او اړتیاوې او توانایي به دهغوی دښوونېزو فعالیتونو په محور کې ځای ونیسي او ښوونکي به زیات خلاقیت او ابتکار په خپل تدریس کې ښیي.

بلکې د فکر روزنه او د زده کوونکو هر اړخېزه وده به دتوجه وړ وي او ښوونځي به دواقعي ژوند سره همغږي شي او زده کوونکي به دښوونځي دلـرلو او فعالیتونو څخه خوند اخلي، په داسې کړنو کې ددرسي محتوا دټولو ښوونېزو کوښښونو سره دنقشې او طرحې مطابق چې زده کوونکي خپله د هغه په تنظیم او ټاکلو کې برخه اخلي اوهغه موقعیتونه چې د زده کوونکو تر منځ همکاري ایجادوي ګڼل کېږي ددې ټولو پروګرامونو توپیر لومړی ډول دادی، چې په داسې پروګرامونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله نوعه (دتدریس محتوا) زیات نظري اړخ لري او دهغې یادول به تحمیلي او د (نمرو مصرفول) وي، په داسې حال کې چې پروګرام د زده کوونکو په هر اړخېزه وده متکي وي اوفعالیتونه په ګډه توګه سرته ورسېږي او زده کوونکي عملاً د مسؤلیت ویستلو طریقه او هم په ژوند کې دهمکارۍ طریقې یادې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تدریس په هکله نظریې

دې څو وروستیو لسیزو کې دتدریس په برخه کې د پاملرنې وړ نظریې وړاندې شوي دي ددې نظریو دجملې څخه کولای شو، د تنسیون نظریه(۱۹۸۰م)، د تدریس دمفهوم او مانا په هکله اسکاندورا (۱۹۷۷م)، د تدریس نظریې او جوړښت په باره کې د لاندې نظریه ۱۹۷۶م او نور افراد چې د تدریس څرنگوالي په باره کې دکوچنیانو د تدریس لپاره چې د ماشومانو روزنځای لپاره په کار دی، اشاره شوې ده، لدې نظریو څخه یې ځینې گانېه، اودېک ۱۹۸٤م کال کې څېړنې کړي دي.

ټولې د تدریس په باره کې وړاندې شوې نظریې په یو ډول یو بل سره توپیر لري، مگر سره له دې توپیرونو کولای شو ټولې په یو لوی چوکاټ کې سره یوځای او واحده نظریه او موندنه چې ټولو نظریو ته د پوهېدلو وړ وي وړاندې کړو.

یو کړل شوې نظریه کولای شي دښوونکو او درسي پروگرام جوړونکو لپاره گټوره وي او هغوی د نورو نظریو سره د مخامخ کېدنې یو ځای والی ونه لري ملگرتیا کوي.

## تدریسي نظریې

دتاریخ په اوږدو کې د بشر د پوهې او معارف لپاره ټولې علمي نظریو، تحلیل، برابرول او ټولنیز شکل ترسره شوی او وړاندې شوی و، د نظریه کار پوهان خپلې ټولې نظریې په درې بنسټیزو علومو لکه: طبیعي علوم، انساني علوم او ټولنیز یا اجتماعي علومو له مخې پېژني.

ښوونه اوروزنه هم د یوې پوهې په شکل کارولو لپاره دخپلواک هویت او نورو علومو سره تړاو لري لکه: طبیعي علوم، فلسفه، فزیولوژي روانشناسي او جامعه شناسي، ټولنیز پېژندنه.

د تدریس نظریې هم په یو شکل د ښوونې اوروزنې نظریو لاندې متاثره او دهمدې معرفتي پوهې نظام لاندې ذکر شوي دي دطبیعي علومو بعضې نظریه وړاندې کوونکي دښوونې او روزنې نظریو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدې وجې پاملرنه اوتوجه کوي،چې باید لري دعلمې نظریو برخه یې نه ګڼي اوپه دې باور دي، چې علمي نظریې باید د وړاندې شوو معقولو ارزښتونو او ترجیح ګانو څخه خالي وي هغوی د نظریې کړنې چې توصیف پېش بیني او هغه څه شي چې شته د هغې تثبیت ښکاره والی کوي او درپېژني او د نظریې په عینېت تاکید کوي.

کانت ۱۹۵۲م په یوه تاریخي څېړنه کې دا روښانه کړېده چې عملي نظریې چې په عینېت سره تاکید کوي صحیح کار نه دی ورکړی دخپل لېدلورې او نظر لپاره نظریه جوړونه په ځانګړې ډول د ډېرو نورو موضوعاتو او پېښو لکه: نور، تودوخه، دمادې او کثافت بقا او انرژې په برخه کې تشریح کړي دي او وايي، چې د نور نظریه د طوفاني څپو له لارې اوله بله پلوه طوفان د ذراتو څخه تصور شوی دی، لدې څخه یې هر یوه نظریه د تجربې په لړ کې کولای شي چې د یوې نظریې کړنه دخپل ځانه ښکاره کړي، همدا ډول د تودوخې او د مادې د بقا د قانون انرژې حالاتو کې هم دا ډول شتون لري او دا خپله بیا یو ډول تناقص دی. (کانت ۱۹۵۲)

نو دلته د نظریو تناقص یا ټکر علمي نظریې له منځه وړي یانې نفې کوي یې نن ورځ هم د علمي طریقو منطقې او عملي تجربو د عینیت ځای نیولی دی.

ټولې علمي نظریې متکې په ذهني تحلیل باندې په پایله او نتیجه کې نشي کولای په عیني ډول دنړۍ توصیف کوونکي وي.

تدریس نظریې ټول هغه کلمات یافته تعریفونه دي، چې منطقې مفاهیمو، قضایاؤ او جوړښتونو سره تړاو لري، چې د تدریس دچلند څخه یو منظم لید وړاندې کوي، دغه نظریې له یوه لورې توصیفي موندنو راټول شوو علمي حقایقو ته توجه لري له بله پلوه د روزنېزو لارو موندلو او کړنو لپاره تجویز لري، کېدای شي د یوې طرحې له لارې چې دوه لورې لري په ښه ډول وکولای شي د تدریسي نظریو جوړښتونو څخه په ځانګړي ډول هغه د یو کړل شوي یا وحدت یافته تدریس نظریې تحلیل او واضحه کړي. دطرحې افقي بعد دمطالعاتو او تحقیقاتو ښکارندوی دی، چې د ورښوولو او یادولو په برخه کې صورت نیسي، دغه مطالعات په خپله په درې برخو: توصیفي، تجوېزي او لارښوونې یا لارو سره چې د ماهیت طریقو، څېړنو له نظره یو بل سره توپیر لري، ویشل کېږي.

## د تدریس کړنې

تدریس یوه ساده او لنډه خبره او پېښه نه ده؛ بلکې په پوره ډول یو پیچلی فعالیت دی، چې په ښوونیز چاپېریال کې رامنځته کېږي،که چېرې درسي ټولګي چاپېریال یو کوچني ښوونیز نظام په شان تصور کړو دښوونکي تعامل دزده کوونکو سره دې ته تدریس وايي، چې په هغې کې یو سلسله معلوماو هدف لرونکي فعالیتونه شامل وي، تدریس دهغې ونډې پر اساس چې لري یې ډېر نور اثار که هغه د ښوونځي دننه نظام کې وي او که بهر کې په خپل ځای پرېږدي، چې هغې ته داخلي کړنې او بیروني کړنې د تدریس وايي؛ اګر که چېرې د داخلي اوبهرنی کړنو دقیق تفکیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښېلوالی په تدریس کې دهغې دمتقابل تاثیر له مخې چې په یو بل یې لري څه اسانه کار نه دی.
بعضې دښوونې او روزنې کار پوهان دانګېرنې ایجادوي اوهم دزده کوونکو په پوهولو دعدم تعادل ایجاد متقابل عکس العمل یا غبرګون دنوو اطلاعاتو ترلاسه کول، ذخېره کول، دنوي اطلاعاتو اصلاح، داطلاعاتو او معلوماتو انتقال، کنترول، دلارښوونو اوتحول د تدریس داخلي کړنې او کړنو بولي همداډول فرهنګي، ټولنیز، اقتصادي، سیاسي بیا جوړونې او د کار تخصص کېدل، د تدریس بهرنیيا بېرونې کړنې بولي او ذکر کول که ډېرې ددې کړنو څخه په دقیق شکل تجزیه او تحلیل شوې نه ده کولای شي د پاملرنې وړ وي د ښوونکو لپاره په تدریس کې د تدریس د کړنو پېژندنه په ځانګړي ډول داخل کړنې کولای شي، په ګمان، لیکنه، دښوونکو د کړنې په ډول نسبت په ښوونېزو او د ورښولو موقعیتونو په جوړښت او یادولو کې ډېر موثر وي.
که چېرې د تدریس کړنې په ښوونځي کې د داخلي تغیر شوي تعامل محصول وپېژنو، دا پوښتنې مطرح کېږي،چې دښوونکي ونډه پدې کړنو کې څومره او څه ډول ده؟
آیا هغه کړنې چې ذکر شوي یوازې د ښوونکي او زده کوونکو دتعامل محصول دی؟
آیا هغه عوامل چې د ټولګي څخه بهر دداسې کړنو په قوي کېدو اویا ضعیف کېدو کې ونډه لري؟
دمثال په ډول: که چېرې یادول او تحول د تدریس یوه کړنه وپېژنو، دغه ډول تغیریوازې په ټولګي کې رامنځته شوي دي ایا نور عوامل غیر د تدریس نه په داسې تغیر او تحول کې موثر دي؟
په یقیني ډول ډېر شمېر عوامل د تدریس په کړنو کې د قوت او یا ضعف له مخې تاثیر لري او موثر دي که چېرې روزنېزې نظریې او څېړنې یوازې د ښوونځې داخلي عواملو پورې محدود شي ډېرې هغه کړنې چې د تدریس څخه بهر دي او د موثرو عوامل تړاو او یوځایوالی به د تدریس په لړ کې د بې پروایۍ او غفلت ځای ونیسي.
د تدریس د کړنو د تاثیر او اهمیت په دلیل چې د یادولو په لړ کې یې لري. دې سره خوا کې د خبرو اوږدولو څخه ځان ساتل یوازې په تحلیل او توصیف سره په داسې کړنو اکتفا شوې ده.

### د تدریس داخلي کړنې

دانګېزې ایجادول: دیادولو اوښوونې په برخه او لړ کې یو دډېرو مهمو عواملو څخه دیادولو لپاره دانګېزې شتون دی، ترهغه وخته چې زده کوونکي دیادولو لپاره انګېزه ونه لري دزده کړه ایزو یا ښوونېزو فعالیتونو څخه ګټه اخیستل به یو عبث کار وي.د تدریس لومړنۍ کړنه باید دیادولو لپاره دانګېزې ایجادوي دانګېزې ایجادولو لپاره باید زده کوونکی د ښوونکي سره یوځای په فعالانه ډول په ښوونېزو پېښو کې مشارکت وکړي او دمسایلو او مشکلاتو په حل کې عملاً مالومات ترلاسه او دخپل فکر جوړښت وړاندې کړي، نه داچې یوازې د یوې ثابت قالب او طریقې پر بنسټ په خپلو ساتنو کې زیاتوالی راولي، چې په دې صورت کې دیادولو لپاره به کومه انګېزه ونه لري.
له نیکه مرغه زیات زده کوونکي په طبیعي ډول دڅېړنې حس لري او څېړنې سره مینه لري، ښوونکی باید پدې برخه کې داسې زمینه برابره کړي، ترڅو دغه حساس او علاقه قوي او وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمه نده چې ښوونکی زده کوونکي تند، چالاکه او زر غبرګون ښوونکی کړي ځکه دا کار به دبدو بدتر وي.
یوازې هغه شی چې باید سرته ورسېږي، دادی چې د هغه کار څخه چې هغه زده کوونکي کم عقل او کم ذهن لټوي د هغې نه پرهېز وکړي.
متاسفانه ډېر ښوونکي د تدریس په لړ کې یې لري، چې داسې کړنو ته توجه اوپاملرنه وکړي د زده کوونکو څخه داانتظار لري، چې چپ پاتې شي او دپوښتنو په ځای دستورونه اجرا کوي. په نتیجه کې د ځېړنې او طبیعي پوښتنو ځای په کړنو او بې ارادې شکل کار وشي او زده کوونکي بې ارادې شکل څه یاد کړي چې په هغې کې دوی د پوښتنو او ځوابونو څخه صرف نظر کړي دی او یوازې دا چې د معلم پوښتنو ته ځواب ووایي په داسې چلند کې احتیاط د ځېړنې او پوښتنې ځای نیسي او فکر کولو ځای د یاداشت او نورو افکارو منلو ځای نیسي، کله چې د درس موضوع په حقیقي یا عیني ډول او جزمې سره وړاندې کېږي، شک نشته چې بې تفاوتي اوپه زور پرې کار کوي دیادولو لپاره د انګېزې ځای ناستی شي. شی د خپل پېژندنې په جوړښت او بیا رغونه باندې اقدام وکړي.

### *د تدریس غبرګونونه*

په پورته مواردو کې نه محدودېږي؛ مګر د مخکې څخه دمطلب د اوریدلو مخنیوی په همدې اندازه اکتفا کوو؛ لیکن ښوونکو او دښوونېزو اروا پوهانو ته داتوصیه کېږي،چې پدې برخه کې تحقیق او معاینه وکړي. د تدریس د کړنو پېژندنه نه یوازې داچې د ښوونکو په فعالیت کې ګټوره ده؛ بلکې د ښوونېزو موادو په تولید او کارونه، د تدریس موقعیت او د زده کوونکو د فعالیت په ډول کې ډېره موثره وي.
د تدریس دمختلفو کړنو پېژندل به د ښوونکي دنده دښوونېزو او روزنېزو فعالیتونو په لړ کې درنده او سخته کړي. معلم به داسې کار وکړي چې دهغه دنده به یوازې داطلاعاتو انتقال او د هغې ذخېره کول دزده کوونکو په ذهن کې نه وي؛ بلکې باید د زده کوونکو د فکر لپاره مناسب موقعیت ایجادول او د هغې د بیارغونې لپاره تغیرول دي او په خپل موثر تدریس سره به ښه با اخلاقه او ویښ زده کوونکي او خلک تربیه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تدريس کې د اغېزمنو لاملونو نظريې

که چېرې د تدريس د درسي پروګرامونو دشروع نقطه اوهم د يو تبادلې په شکل راکړه او ورکړه په ډول دښوونکو او زده کوونکو ترمنځ علمي د حقايقو په څېړلو سره وپېژنو، ډېر حساس موقعيت دی کولای شي، چې داهدافو د تحقق اويا د نه تحقق سبب شي، د ښوونکي تصميم او هم د زده کوونکو سره متقابل غبرګون هغه عوامل دي چې کولای شي د زده کړه ايزو پېښو په نتايجو باندې ژوره اغېزه وکړي.

مګر د تدريس چلند يوازې دښوونکو د تصميمونو د تاثير لاندې نه دی؛ بلکې نور ډېر شمېر عوامل شته، چې له هغې جملې څخه اداري او سياسي تصميمونه دې دغه چلند محدود کړي او دهغې په پايلو تاثير ولري، د درسي پروګرامونو بعضې کارپوهان د تدريس په موقعيت موثر عوامل څېړلي دي او د هغې څخه يې چوکاټ او ټولنيز ډول راغونډ کړی دی، چې د فکتورونو چوکاټ په نوم هم يادېږي. دغه فکتور د ښوونېزو پېښو د محدودکولو ښودنه کوي.

(ليندګرين ۱۹٤۱) په تدريس موثرو عواملو په باره کې يوه څېړنه کړې ده، چې د هغې نتيجې تر يوه حده کولای شي، د تدريس په چلند کې تصميم نيولو د ښوونکو لپاره رهنما او لارښود وي. هغه فکتورونه او د درې ډوله سره ويشل دي، هاديډلې، د فکتورونوچوکاټ او دتدريس د چلند ماهيت ډول دی.

***هادي لارښوونې ډلې***

دغه ډلې هغه ښوونکي دي، چې دهغوی لپاره درسي پروګرام او طريقې برابر او طرحه شوي دي د لاندګرن په باور ښوونکي نشي کولای، بې له زده کوونکو ځانګړنو پاملرنې ته د درسي پروګرام په طرحه او اجراء کولو اقدام وکړي، ځکه د زده کوونکو فکر او ټولنېزې کړنې او اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیاوې د ښوونکي ارادې تابع نه دي البته داسې هم نده، چې ښوونکي څه وغواړي، باید هغه سرته ورسوي، بلکې داپه دې مانا ده چې ښوونکي د تدریس په چلند کې د زده کوونکي علاقې، وړتیا، علمي تجربې او وړتیا د هغې د پېژندنې روښته پاملرنه وکړي. ښوونکي باید پاملرنه ولري، چې دهغوی تکوین لوری، د رشد مرحلې، دعقلي او جسمي لحاظه ثابت نه دی. په همدې سبب هغه کولای شي، دروغو او سالمو طریقو په مرسته د کار بېرته ترلاسه کول په زده کوونکو کې زیات کړي. ددې مسایلو پېژندل نیوونکي ته د تدریس په چلند کې او هم د هغې لپاره د طریقو او لارو په جوړولو او نیولو کې او ښوونېز درسي فعالیت کې مرسته کوي.

### د فکتورونو چوکاټ

دلیندګرین له نظره درې ډوله فکتورونه شتون لري، چې یو بل سره متقابل تاثیر او تړاو لري، لومړی ډله هغه فکتورونه دي، چې د تدریس عیني اهدافو سره تړلي دي.
د تدریس په چلند کې باید د مختلفو تقویت کوونکو څخه استفاده وشي، ترڅو زده کوونکي د نظر وړ قابلیتونه او وړتیاوې یادې کړي، پدې کړنه کې د زده کوونکو رفتار کړنې کوي ښوونکي باید په چاپېریال کې د لاسوهنې او د مختلفو تقویت کوونکو نه په استفادې سره د زده کوونکو کړنو ته شکل ورکړي د تدریس چلند د رفتارګرایانو له کتنې او لیدلورې څخه لاندې شیان پکې شامل دي:

١. د تدریس دمطلوبو قابلیتونو پېژندنه او درفتاري کړنو نتیجې پېژندنه.
٢. د درسي ټولګي یا کلاس د فعالیتونو طرحه دپروګرام دانتقال په مقصد او هم تنظیم شوو کړنو اهدافو ته لاسرسی.
٣. هغه ارزښت موندنه په هغه ازمایښتونو سره چې په مدارکو ولاړ وي او هم د رفتار او کړنو اهدافو تحقق او وړتیا ته لاسرسی.

دوی نظریې طرفداران باور لري، چې رفتاري اهداف ښوونکو سره مرسته کوي ترڅو هغه څه چې د زده کوونکو څخه انتظار کېږي، په سم ډول ترلاسه کړي او کولای شي داسې یو پروګرام او پلان طرحه کړي چې موخېتحقق پکې تصریح شوی وي، که څه همدغه عیني او رفتارې اهداف کولای شي دفعالیتونو لورې او هدف په تدریس کې ښوونکو ته روښانه کړي، دهغوی خلاقیت، ابتکار او نرموالی د تدریس او چلند په برخه کې محدود کړي او همدارنګه دانتخاب فرصت، ابتکار، خلاقیت او درشد خوند او دخپل ځان غرورله زده کوونکو څخه هم واخلي.
دویمه ډله ددې فکتورونو څخه هغه دمحتوا دمختلفو برخو تنظیم او پرلپسې والی دی. د تدریس محتوا باید هغه ډول تنظیم او تسلسل پکې راوستل شي چې یوبل تقویه کړي، دمحتوا تنظیم او تسلسل د درسي پروګرام په جوړولو او تیارولو کې مهمه مسئله ده، ځکه د ښوونکي د تدریس کاریدنه او هم د زده کوونکو دیادولو په ډول کې ډېر موثر دي، درې اصلي مدارک دمحتوا د تنظېم لپاره شتون لري، چې عبارت دي ملاومت، دوامداروالی، پرلپسې والی.
د ملاومت د مدارکو یا د زده کړې د محتوا د عمومي اصلي عناصرو تکرار دی د مثال په ډول: که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې ټولنيز علوم يو هدف په زده کوونکو کې په خپلواکه ډول د هغوی د کړنو تصويب وي، دغه مفهوم بايد د درس په مختلفو برخو کې دتکرار او تاکيد لاندې ونيول شي.
پرلپسې والی دويم اصلي مدارک په محتواکې دی. پرلپسې والی د دوامداره سره اړيکه لري؛ مګر د دوامداره نه هم وراخوا دی، پدې سبب چې په دوامداره توب کې درسي محتوا يو اصلي عنصر په کلونو په هماغه صورت او بې له پاملرنې په پراخوالي ددرک او فهم د مهارتونو کې او نور دنقل وړ عواملو کې تکراريدای شي په هغه صورت کې چې يو بل پسې والي د يو سازمان شوي مدارک په شکل او يا د يادولو د فعاليتونو په اهميت د پراخوالي او د زده کړې د محتوا د غني کولو او د عمق له مخې تاکيد لري.
دغه موثر قوانين د تدريس په موقعيت کې هم دا ايجابوي،چې دنظر وړ توپيرونو پر بنسټ د پرمختګ تحصيلي نمرې زده کوونکو ته تعين کړي.

***د تدريس د چلند ماهيت***

د تدريس د ماهيت چلند کې درې فکتورونو محتوا شامله ده. فعاليت او موقعيت، منابع يا سرچينې دي، محتوا هغه اصول او مفاهيم دي، چې د يوې درسي پروګرام او قالب کې وړاندې کېږي، زده کوونکي په مطالعې، تحليل او د ښوونيزې محتوا هدف محقق جوړوي، د هر درس محتوا يو ځانګړې جوړښت لري. دغه جوړښت د معلم د تدريسي طريقې او د فعاليت ډول مشخص کوي.
اصولاً دښوونيز محتوا اصول په تعين شوو اهدافو ولاړ وي، که چېرې تعين شوي اهداف د درسي موادو په اصالت اوپه علمي حقايقو ولاړ وي، بايد يو ثابته محتوا په ټول هېواد کې تدريس شي، په داسې حالت کې ښوونکی د ابتکار او عمل ازادې څه ناڅه به د محتوا په انتخاب او جوړښت کې ونه لري، هغوی بايد پدې چې فردي توپيرونو يو ډول د ثابتو طريقو سره وي ټولو زده کوونکو ته وړاندې کړي او په صحيح طريقو سره په لاس پورې کولو او يا ناسمو سره کوښښ کوي، چې تعين شوي اهدافو ته تحقق وربښي، داسې محتوا چې د زده کوونکو ته خفه کوونکې وي او په عين حال کې چې هغوی د ټولګي او ښوونځي دچاپېريال څخه بل خوا اړوي.
که چېرې په برعکس ډول تعين شوي اهداف د زده کوونکو په هر اړخېزه ودې ولاړ وي د زده کوونکو علاقې او اړتياوې به دهغوی دښوونېزو فعاليتونو محور ځای ونيسي او ښوونکي به دزيات خلاقيت او ابتکار د خپل تدريس په تار کې ښودنه وکړي او يا به هم په هماغه خپلو ساتندويه کارونو ختم نه شي.
بلکې د فکر روزنه او زده کوونکو هر اړخېزه وده به د توجه وړ وي او ښوونځي به د واقعي ژوند سره هماهنګ شي او زده کوونکي به د ښوونځي د لرلو او فعاليتونو څخه خوند اخلي، په داسې کړنو کې د درسي محتوا دټولو ښوونېزو کوښښونو سره د نقشې او طرحې مطابق چې زده کوونکي خپله د هغه په تنظيم او تعين کې برخه واخلي او هغه موقعيتونه چې د زده کوونکو يو بل سره همکاري ايجاد کړي اطلاق کېږي. ددې ټول پروګرامونو توپير يا دا چې د ښوونېزو پروګرامونو اول ډول دادی، چې د تدريس محتوا زيات نظري اړخ لري او د هغې يادول به تحملي او د نمرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرفول وي په داسې حال کې چې پروګرام د زده کوونکو په هر اړخیزه ودې متکي وي او فعالیتونه په مشترک ډول سرته ورسېږي او زده کوونکي عملاً د مسؤلیت ویستلو طریقه او هم په ژوند کې د همکارۍ طریقې یادې کړي.

**دویم فکتور** ماهیت د تدریس په چلند کې فعالیت دی. فعالیت یا ښوونېزې پېښې چې دا د ښوونکي او زده کوونکي ونډه ښوونیز چاپېریال وي، پدې صورت کې معلم باید د تدریس خاصو اصولو او قواعدو نه پیروي وکړي او د خپل ځانه ځانګړې غبرګون ښکاره کړی او د زده کوونکو سوالونو ته ځوابونه ووایي او هغوی هم باید داسې مشابه انتظار ولري؛ مګر که چېرې ښوونکي د لارښود او مشاور ونډه ولري، پدې صورت کې باید هغوی په لټه، څېړنې او پوښتنو مجبور کړي او د هغو سرچینو ته هغوی تشویق کړي، چې خپلو سوالونو ته ځوابونه په شخصي ډول پیدا کړي.

په محتوا سربېره د فعالیت ډول تر یو حده د ښوونکي د تدریس د تګلارې په لړ کې تعین کوونکي، د زده کوونکو شخصي روابط هم د هغه عواملو څخه دی، چې د ښوونکي په تدریس کې موثر وي او د تصمیم نیونې په طریقو اثر غورځوي. که چېرې زده کوونکي د تدریس په چلند کې هېڅ ډول روابط او یا تعامل د یو بل سره ونه لري، پدې صورت کې په غیر فعاله ونډه ولري او ښوونکي به یوازې داطلاعاتو اود نظر وړ پوهې انتقالونکې وي، د زده کولو فعالیتونو د تصمیم مربوط یادول شخصاً د ښوونکي له لورې معین کېده او زده کوونکي به دا انتظار ولري، چې دستورونو څخه پیروي وکړي. ددې برعکس درسي فعالیتونه په ډله ایز او شریک شکل سرته ورسېږي.

**دریيم فکتور** په تدریس ماهیت چلند کې امکانات او ښوونېزې سرچینې دي. دسرچینو او امکاناتو څخه مقصد ټول هغه تجهیزات دي، چې د تدریس لپاره لازم دي، ترڅو ښوونکي لازم مهارت دمنابعو او امکاناتو ترسره کولو ونډه ترلاسه کړي.

دښوونېزو امکاناتو شتون او نه شتون او هغې ته جوړښت ورکول په صحیح ډول هغوی نشي کولای، د ښوونکي څخه د موثر او فعال تدریس انتظار وکړای شي؛ اګر که یو ښه ښوونکی په محدودو شرایطو کې کولای شي، موثر وي پدې کې شک نشته، چې د ښوونېزو تجهیزاتو او فضا مناسب والی د ښوونکي په تدریس ډېر موثر دی، دوه ښوونځي په تصورکړئ.

په لومړۍ کې په پراخه ټولګیو سربېره مناسبه ښوونېزه فضا لرونکې وي او هم ښوونیز تجهیزاتو، دغونډو ځایونو، ارام ځایونو، کتابخانه، دورزش لوبغالي ولري او دویم ددې برعکس تنګ او تیاره ټولګي، زاړه فرشونه، زده کړه ایز تجهیزات نه لري او هم د لوبو ځمکه او کتابخانه نه لري ایا پدې دواړو کې به ښوونیز فعالیتونه یو ډول صورت ونیسي او ایا ښوونکي او زده کوونکي به دواړو محیطونو کې په یو شکل او اندازه وکولای شي خپل ښوونیز او روزنېز فعالیتونه وړاندې او ترسره کړي، هغه ټولګي کې چې د زده کوونکو ناستې لپاره کافي نه وي، هېڅکله ښوونکی نشي کولای په ارام فکر باندې تدریس وړاندې کړي، حتی تر ښوونځي په خلاصه فضا کې او هغې ته کتنه کولای شي، د زده کوونکو او ښوونکو په روحیه او تدریسي کیفیت او یادولو موثر وي، د تدریس

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلند ماهیت په برخه کې دهغې په تړاو دنورو عواملو سره په ځانګړي ډول دفکتورونو چوکاټ تحقیق لاندګران۱۹۷۲ د زده کوونکو په یو روزنځای کې تقریباً ۱۷ نه تر ۱۸ کاله عمر یې لري، کړېوي.په دوه برخو لارې موندنه او ژورتیا موضوع سرته رسولې وه دضرورت وړ ترلاسه شوې موضوعګانې پدې تحقیق کې دوه پوښتنو په واسطه یوه د ښوونکو سوالنامې په شکل او بله د زده کوونکو سوالنامې په شکل اوهغه مشاهدې راټولې او تجزیه او تحلیل شوي دي.

دښوونکو پوښتنلیک چې اطلاعات پکې راټولوي لکه: د ټولګي د ادارې څرنګوالی، پروګرام جوړونه، د تدریس طریقه، د تدریس نه د ښوونکي درک او فهم، تصمیم نیونه، بېرته کتنه کې درسي پروګرام د تجربو پر بنسټ حاصلوونکی وي او هم د زده کوونکو د سوالنامې او اطلاعاتو د ټولګي د هغو کړنو په برخه کې او هم د هغې کتنه نسبت ښوونکو ته درسي موضوعات او هغه تکلیفونه چې وړاندې کوي او د لایلو د انتخاب او نور درسي موضوعات چې وړاندې کوي یې په ژوره مطالعه کې هم اته ټولګي د درس چې ۵۷ ځلې وکتل شي او تقریباً ۱۱۰۰ روزنېزې کړنې مشاهده او ثبت شوې دي.

لاسته راغلي اطلاعات، تجزیې او تحلیل په مقصد د هادي ډلو د زده کوونکو په برخه کې درې نورو ډلو سره ویشل کېږي یایانې لوړ ذهني توانایې متوسطه او ټیټ طبقو سره ویشل کېږي.

داطلاعاتو تجزیه او تحلیل دا په ګوته کوي او ښودنه کوي،چې هادي ډلې په خپلو لوړو ذهني قوي اوهم په ټیټو قوو هادي ډلو سره اوهم په متوسط ډلو کې د ذهني ډلې سره برابر کړي دي.

دمشاهداتو څخه لاسته راغلي اطلاعاتو تحلیل او تجزیې کې د ذهني قوې د ډلو د سطحې او مشارکت په تدریسي فعالیت کې هم ځای نیولی دی. یانې په هغه هادي ډلو کې چې لوړ ذهني قوه لري، میزان او ښوونیز موضوعاتو کېفېت، سوال او ځواب په ټولګي کې، دپیش بیني وړ ځوابونه او تدریس مثبته فضا لوړوالی او تدریس اکثراً په غیر مستقیم ډول صورت نیسي او بالعکس ډول نامطلوبه کړنه او مقررات او حاکم انضباط چې په ټولګي حاکم وي کموالی راولي، لاسته راغلو نتایجو مطابق ښوونکی خپله د تدریس طریقه او محتوا د هادي ډلو پر بنسټ تنظیم کوي.


په ټولو هغه نتایجو کې چې د اطلاعاتو تحلیل او تجزیې او هم د هغه وړاندې شوو فرضیو څخه چې لاسته راغلي دي د اساسي فکتورونو د چوکاټ تړاو یانې محدودونکي عوامل او د تدریس چلند تاثیر لري؛ مګر متاسفانه دغه نتایج تحول او پرمختګ بیا په مفهومي چوکاټ کې منځته راوړي او تحلیل هم دڅرنګوالي او شکل نیولو په برخه کې تړاو او طریقه چې د فکتورونو چوکاټ په تدریسي چلند کې تاثیر پرې ابښی دی، نه وړاندې کوي. کېدای شي اصلي ضعف دا وي، چې دتحلیل او تحقیق په لړ کې د چوکاټ مفهوم او درسي پروګرام مفهوم یو څه د یو بل څخه بېل او جدا شوی نه وي او تقریباً موثر عوامل او د فشار عوامل چې هر یو دواړه د تدریس په لړ کې تصمیم نیونه تعین کوي یو شان اخیستل شوي دي.

بله دا چې چوکاټ او درسي پروګرامونه د تدریس دجوړښت په لړ کې کافینه دي او هغه عوامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ښوونکي دندې تنظیموي او لوری ورته ټاکي لکه: ارزښت موندنې نظام، نمره ورکول او ددې نور مثالونه د توجه او څېړنې لاندې نیسي، اخري نکته دا چې داسې څېړنې او تحقیقات نشي کولای، د تدریس عمومي نظریو او د هغې د کړنو څخه په ټولنه کې صحیح او سمې نتیجې لاسته راوړي. ځکه دښوونې او روزنې داخل کړنې بې ټولنیز حاکم فلسفي ارتباط څخه چې په ټولنه حاکم دی تحلیل او وڅېړل شي.لاندې طرحه دفکتورونو تړاو او چوکاټ د هادي ډلو او تدریس چلونه ماهیت په ښه طریقه سره ښایي:




*د تدریس دچلند ماهیت* *دفکتورونو عوامل چوکاټ*

دغه نمونه او طرحه دهادي ډلو دفکتورونو چوکاټ او د تدریس چلند ماهیت ښودنه کوي.
دلیندګرین نظریې ته په کتنې سره محدودونکي عوامل کولای شي ډېر شمېر وي، چې دهغې څخه ډېر د ښوونکي په کنترول کې نه وي؛ بلکې حتی د هغې څخه بعضې د هغه د خبرتیا قرار لري، دغه عوامل معمولاً د اقتصادي جوړښتونو ټولنیزو او سیاسي کارونو د ټولنو څخه سرچینه نیسي او کولای شي،هغه په درې موثرو ډلو فشار عوامل، تنیموونکي عوامل او موثر عوامل سره ویشل کېږي، فکتورونه لکه درسي پروګرام ښوونیزو اهدافو د تدریس موثر عوامل دي؛ ځکه ښوونیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهداف او ډولونه یې دمحتوا جوړښت او تسلسل په خپل وار سره د ښوونکي په تدریس تاثیر لري، په غیر متمرکز ښوونیز نظام کې ښوونکي قادر وي تریوه حده دغه ډول عواملو تاثیرات راکم کړي او درسي پروګرام اهداف دهغې موقعیت او ضرورت زده کوونکو ته انتخاب او جوړښت ورکړي. اداري دستګاه او فکتورونو چوکاټ هغه عوامل دي، چې د تدریس چلند دفشار لاندې نیسي او معمولاً د تدریس بهرنې کړنې تعین کوي،چې هغه د ښوونکي د ارادې نه بهر تصمیمونه دي او هغه نشي کولای، دهغې په تغیر او تحول کې چندان ولري، په همدې دلیل هغې ته دفشار عوامل وایي. کېدای شي،ددې عواملو دعیني شکلونو څخه دمدیریت ډول هادي ډلې د تدریس وخت نومونه واخلو، چې د ښوونکي فعالیتونه د تدریس په لړ کې محدودوي.
دریېمه ډله د تاثیر عوامل په تدریسي چلند کې قوانین او اداري مقررات دي لکه د یو قانون په شکل او اداري برخې ارزښت موندنې نظام داستخدام قوانین او وړتیاوې چې د ښوونکي او زده کوونکي څخه یې انتظار کېږي، دغه عواملو ته بیا تنظیمونکي عوامل د تدریس په لړ کې وایي؛څکه ښوونکي باید خپل ځان ددې سره هماهنګ کړي. په هر حال دغه عوامل یانې موثر عوامل، فشار عوامل، تنظیم کوونکي عوامل، تعین کوونکي او د تدریس په چلند کې د ښوونکو فعالیت ته لورې ورکوونکي دې؛ اګر که ډېر ښوونکي نشي کولای پدې عواملو کې لاسوهنه وکړي. دهغې دقیق پېژندنه کولای شي،د تدریس موقعیت ته بهبودي وروبخښي.
په زده کړه کې پېژندنې، ټولنیزې نظریې کارول ټول پوهېږو، چې د شناختي، اجتماعي نظریو معرفي کول او د هغوی استعمال په زده کړه کې مهم رول لري. له هغه ځایه چې په شناختي، اجتماعي نظریاتو کې پرشناختي جریانونو، داخلي او خارجي عواملو په متقابل تاثیر باندې تاکید شوی دی، نودغه نظریات په زده کړه کې زیات اهمیت لري.
څرنګه چې د زده کړېد پروسې موخه په زده کړه کې د زده کوونکو سره مرسته کول دي، نو دالګو یا (نمونه) ګېرې څخه کولای شو، د تحصیلي او حرکتي مهارتونه په زده کړه کې استفاده وکړو. دغه لاسته راوړنې د ټولنیزو ارواپوهانو د تایید وړ و ګرځېده او ددې سبب شو چې د زده کړې په بهېر کې نوموړې نظریې د نورو نظریو څخه جلا شي.
بندورا د دوه اړخېز موجبیت یانې د فردي او محیطي عواملو پروسه او همدارنګه هر هغه څه چې د رفتار سبب کېده د (هم پیوسته ) پروسو په نوم یې یاد کړه. شناختي، اجتماعي نظرېه ورکونکي پدې باور دي چې انسان د نورو د رفتار دمشاهدې په وسیله هغه رفتارونه یادوي او هغه شخص چې د مشاهدې لاندې نیول کېږي. د سر مشق یا (الګو) په نوم یادېږي.
کېدای شي مشاهده یې زده کړه د تقلید متضمنه وي او یا نه وي، څکه چې زده کړه یوه مشخصه او واحده موضوع نده بلکې ټول هغه فعالیتونه او کړنې چې مونږ یې د ژوند په اوږدو کې ترسره کوو د زده کړې د تجربو څخه سرچینه اخلي او مونږ مختلفې درسي او غېرې درسي موضوعګانې زده کوو. له هغه ځایه چې د ښوونې موخه زده کړه ده، نو پدې اساس لازمه ده، چې شناختي، اجتماعي نظرېې او د هغه د استعمال په هکله مطالعه وکړو، څکه چې زده کړه مختلف ډولونه لري، نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې اساس تربیتي موخې هم مختلفې دي. بناءً پدې فصل کې شناختي، اجتماعي نظریې او د هغوی استعمال په زده کړه کې درپېژنو.

## د ویګوتسکي د پېژندنې ټولنیزې نظریې نه کار اخستل

***الف)*** د درسي برنامو له نظره: له هغه ځایه چې ماشومان ډېری د چاپېریال، شاوخوا او د ټولنې د فرهنګي عواملو سره د تعامل په پایله کې زده کړه کوي، نو پدې اساس باید درسي برنامې داسې طراحې شي،چې په دوی کې تعامل ته تقویت ورکړي.

***ب)*** د زده کړې له نظره: ډېری ماشومان د لویانو د مناسبو لارښوونو پر بنسټ هغه کارونه ترسره کولای شي،کوم چې په یوازېتوب سره نشي کولای،چې نوموړي کارونه ترسره کړي، نو ددغه اصل په نظر کې نیولو سره که چېرې د ماشوم سره مرسته د اړتیا د سطحې سره متناسب وي، نو دغه زده کړه موثره دي. د لویانو مرسته او همکاري د ماشومانو سره نه یوازې دا چې فوري پایلې له ځانه سره لري؛ بلکې په راتلونکې کې د ماشومانو استقلالیت ته هم لاره هواره وي. نو پدې اساس صحیح تدریس د شاګردانو د بالقوه رشد لپاره موثره او د لاندې ځانګړتیاوو لرونکې دي:

۱- دماشوم چمتوکول د زده کړې لپاره


۲- دهغه مناسبو قدمونو پېژندل چې باېد په راتلونکې کې یې پورته کړی شي.

۳- دهغوی د بالقوه رشد د توانایي لپاره منظمه طریقه اختیارول.

***ج)*** د ارزیابي او سنجش له نظره: د ارزیابۍ یا اندازه ګېرېې طریقې باید په داسې ډول وي، چې وشي کړای، د شاګردانو بالقوه رشد وټاکي او همدارنګه د نوموړې نظریې د اصولو سره مطابقت ولري.

## د دوه اړخیزو کړنو لاملونو نظریه

بندورا د انسان په رفتار باندې د چاپېریال د یوه اړخیزې تاثیر ګذارې نظریه رد کړه او پر ځای یې د دوه اړخیز موجبیت نظریه یې مطرح کړه یانې هغه پروسه چې د فردي، محیطي عواملو او همدارنګه ټول هغه څه چې د رفتار باعث کېده د ( هم پیوسته) پروسو په نامه یې یاد کړ.




په شناختي، اجتماعي نظریه کې هم رفتار او هم محیط د تغیر وړ وي او همدارنګه محیط د رفتار اصلي ټاکوونکې ندي، د مثال په توګه: جنګجو ماشومان انتظار لري، چې نور ماشومان دده پر وړاندې عکسل العمل وښایي دغه انتظار ددې سبب کېږي،چې د ماشوم رفتار تهاجمي شي، نو په پایله کې نور ماشومان دده د رفتار په مقابل کې له ده نه زیات پرخاشګرانه ځواب ورکوي او ددغه ماشوم لومړنی انتظار تقویت مومي.

لکه څرنګه چې چاپېریال او شرایط انسان ته شکل ورکوي، نو انسان هم موقعیتونه انتخابوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نورو باندې اغېزه کوي او هم له نورو اغېزمن کېږي. د بندورا په عقيده انسان نه په هغه مقام کې دی، چې د چاپېريالي عواملو په وسيله کنټرول شي او نه داسې ازاد دي، چې بغير له چاپېريالي اغېزو څخه چې څه وغواړي ترسره يې کړي؛ نو پدې اساس د انسان رفتار يوازې د هغه د محيط سره د تماس په پايله کې ټاکل کېږي،چې بندورا هغه د دوه جانبه موجبيت په نامه يې ياده کړه.

بندورا په شناختي نظريه کې د رفتار په ټاکلو کې داخلي او خارجي عواملو په تعامل باندې تاکيد کوي، ددې نظريې پر اساس انسان په چاپېريال باندې يو فعاله او تاثير ګذاره موجود دی؛ مګر په عين حال کې په قانوني توګه د محيط د تاثير لاندې دی. پدې ترتيب فرد او محيط پر يو بل باندې متقابلې اغېزې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تدریس د مفاهیمو تحلیل

د تدریس اصطلاح که څه هم دتربیتي علومو په متونو کې دامفهوم کله کله اشنا په نظر راځي. ډېر ښوونکي او مدیران د درسي پروګرامونو په ډېر مهارت سره د هغې دمانا او صحیح ماهیت سره اشنایې لري. د تدریس دمفهوم څخه مختلف برداشتونه کولای شي. د هغې په کتنه نسبت نورو ښوونکو ته او هم د هغوی د ښوونکو د کار کولو په شان په هغوی مثبت یامنفي تاثیر غورځوي، څنګه برداشت د تدریس د مفهوم کلمې څخه کولای شي، ډېر مختلف د لایل ولري. د هغې ډېر مهم د پوهې د بنسټ ضعف دی. بل اختلاف او هم د ښوونکو د تربیت د نظریو څخه ناسم او مختلف برداشت دی. کله کله ګډوډې او ناسموالی د تربیتي مفاهیمو په درک کې تر دې حده وي، چې ډېری کارپوهان ښوونکو او زده کوونکي دغه برخې مفاهیم لکه: پالنه، زده کړه، تدریس او حرفه یادونه یو ډول تصور او مانا کوي او د یو بل پرځای یې کاروي. دغه مفاهیم اګر که ممکن نه دي په بعضې مشترکو وجوهاتو چې یو بل کې نغښتي وي، ولري، اصولاً دغه مفاهیم بیا جدا او خپله ځانګړې مانا لري.

(پالنه او یا تربیت) دا یو دوامداره او منظم جریان دی، چې هدف یې دجسماني پېژندنې، اختلاف، او ټولنیز ډول وده ده چې په کلي او ټولنیز شکل یو هر اړخېزه وده ده د زده کوونکو د شخصیت لپاره د ترلاسه کولو او درک د انساني پوهې سره او هم د هغه لارو چې ټولنې ته د منلو وړ وي او هم مرسته ده. د هغه زده کوونکو د استعداد غوړولو لپاره. (سیف ۱۳۷۹، ۲۸)

ددې تعریف پر بنسټ پالنه یو نظام دی، هغه نظام چې د هغې اساسي کار د خلکو د استعدادونو غوړول او تربیت دی، چې هغه لارې او کارونه ټولنې ته دمنلو وړ وي ترلاسه کړي او د هغې ارزښتونو ته متعهد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردې چې دتربيت د نظر خاوندان ددې کارونو څخه وراخوا هم دنورو کارونو کېدل د پالنې لپاره قايل دي او پدې باور دي چې د ټولنې د منل شوو اخلاقو او رواجونو او ارزښتونو منل يو فرد ته د پالنې يو ډېر پخوانى ليد لورى دى، د دې کارونو په ځاى تربيتي نظام بايد د پېژندلو د مهارتونو وده لکه: انتقادي فکر، د ډله ايزو مهارتونو او ارزښتونو تحليل، دخپلو کړنو په قانون کې ځاى ورکړي، ترڅو خلکو لپاره په ټولنه کې زمينه برابره کړي. (ميلر ۱۳۸۳،۱) (مکدونالد) او د هغه همکاران پدې باور و، چې درې کلتوري قوې په ټولنه کې شتون لري، چې بايد تربيتي نظام دهغې استمرار برابر کړي دغه درې قوې عبارت دي له:

- آزادي
- ډېرو ته ميلان
- مشارکت.

د هغه په نظر په يو بډايه تربيتي نظام کې افراد بايد په يوه ځانګړي اړخ نيونه کې په ازاد ډول لټون وکړي، نو خپلو يادو شوو شيانو ته يووالى ورکوي او په لوړ لورې ګام اخلي.

د ذکر شوو مفاهيمو تحليل او کړنې چې مشخص شوي هېڅ ډول نشي کولاى پالنه په هغو ماناو سره لکه: زده کړه، تدريس او حرفه زده کړې سره يو وپېژندل شي پالنه يو کلي مانا لرونکې کلمه ده، چې کولاى شي نور مفاهيم د هغې په داخل کې ځاى ورکړو، د ښوونې مفهوم او مانا په خلاف، پالنې روزنې يو نظام نه دى؛ بلکې ښوونه هغه فعاليتونه دي، چې هدف لرونکي او له مخکې څخه طرحه شوي وي، چې د دې مقصد او هدف يې د هغه موقعيتونو او فرصتونو برابرول دي، چې د يادولو کار په يو روزنيز پروګرام نظام کې اسانه کړي او چټکتيا ورکړي. په همدې سبب زده کړه د روزنې لپاره يوه وسيله ده نه خپله روزنه زده کړه يو مشخص او دقيق طرحه شوى فعاليت دى له همدې وجې د هغې هدف ډېر دقيق، ډېر مالوم او دپالنې نسبت ته ډېر زر هدف ته رسوونکى دى، زده کړه امکان لري، د ښوونکي په حضور او بيا د ښوونکي د حضور څخه د فلم د لارې، راديو او تلويزيون او نورو رسنيو له لارې صورت ونيسي.

د تدريس مفهوم هغه برخه زده کړه ايز فعاليتونه چې د ښوونکي په حضور کې د يو ټولګي دننه رامنځته شي اطلاق پرې کېږي.

(تدريس) د زده کړې يوه برخه ده. همدا ډول زده کړه بيا يو سلسله منظم فعاليتونه دي، چې هدفمند او له مخکې څخه طرحه شوي وي، په بر کې نيسي، چې هدف يې د يادولو لپاره مطلوب شرايط جوړول او رامنځته کول دي.

هغه برخه زده کړه ايز فعاليتونه چې د رسنيو په وسيله او بغير د ښوونکو د حضور نه د زده کوونکو ترمنځ صورت نيسي. په هېڅ وجه دې ته تدريس نه شو ويلاى، په همدې وجه زده کړه د تدريس په نسبت عامه مانا لري. په بل عبارت کولاى شو، ووايو هر تدريس زده کړه ده، ولې هره زده کړه امکان لري تدريس نه وي، د تدريس په تعريف کې څلور ځانګړنې شتون لري، چې هغه عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښوونکو او زده کوونکو ترمنځ د تعامل شتون.

۱. د مخکې له مخکې څو تعین شوو اهدافو پر بنسټ فعالیت ترسره کول.

۲. موقعیت اوامکاناتو ته په کتنې سره منظمه طرحې.


۳. د یادولو لپاره د فرصتونو او سهولتونو ایجادول.

په همدې سبب په یو طرفه او خپرو فعالیتونو سره ښوونکي امکان لري، په زده کوونکو کې تغیر راولي. دې ته هم تدریس نه ویل کیږي، همدارنګه د هغه ډول زده کړه ایز فعالیتونه لکه: د فلم، تلویزیون، کتاب او نورو رسنیو څخه چې صورت ونیسي؛ اګر که په یادولو سره تمام شي، ددې په دلیل چې هغه متقابل کړنې یا تعامل چې د ښوونکو او زده کوونکو ترمنځ نشته، بیاهم ورته تدریس نه شو ویلای.

نتیجه دا چې ښوونکي باید ټولو هغو شرایطو ته په کتنې سره دا مالومه کړي چې هدف د تدریس څخه څه شی دی، کوم قابلیتونه باید په زده کوونکو کې وپالل شي، ترڅو دهغې پر بنسټ زده کړې لپاره محتوا انتخاب اوهغې ته مناسب فعالیتونه طرحه شي.

دحرفې یادونې مفهوم ددې مانا نسبت روزنې، زده کړې او تدریس ته ډېر محدوده ده. ددې هدف دروزنې په خلاف دشخصیتونو داستعدادونو غوړیدل او وده نه ده؛ بلکې کار یادوونکو ته دضرورت وړ مهارتونو او فنونو یادولو په مقصد د یو کار یا شغل سرته رسوي. په معینه حرفه کې دي لکه: د ښوونکي تربیت، دوره او نورې زده کړه ایز قسمونه چې فني او حرفه یي وي، د هغې هدف د پالنې د اهدافو او غرضونو ترسره کول نه وي او هم ټولو زده کړه ایزو او تدریسي اړخونو ته شامل نه وي؛ بلکې مقصد یې پراخوالی، کتنه، پوهه، مهارت نمونه جوړونه چې د شخص په اړه وي او هغه د مناسبو کړنو سرته رسول وي.(استامرز ۱۹۷۵،۱)

له دې وجې صرف یادونه کولای شو، یو کوچنی برخه د روزنې، زده کړې او حتی د تدریس چې هدف یې د تخصصونو او مشاغلو لپاره د افرادو تربیت دی، وپېژنو په واقعیت کې حرفه یادونه یو لږ لنډ وخت لپاره یادول دي، چې هدف یې صرف په یوه معینه حرفه کې د افرادو تیارول دي، چې البته کولای شو، د ښوونکي په حضور او یا غیاب کې صورت ونیسي. لاندې نقشه او طرحه د تدریس، روزنې، زده کړې او حرفې یادونې رابطې او اړیکې ښې طریقې سره ښودنه کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د تدريس دمفهوم تحليل دمختلفو لورو څخه مختلف ماهيت او مانا لري دهغې څخه بعضې يې د ښوونكو لخوا زده كوونكو ته دمستقيمو علمي حقايقو بيان بولي او يوه بله ډله يې بيا د ښوونكي او زده كوونكي ترمنځ په ټولګي كې د درس په محتوا كې تعامل او تبادلې په شكل تعريف كوي، يو شمېر د ښوونې او روزنې متخصصان وايي: هغه موقعيت او اوضاع او احوال چې زده كوونكو ته يادول جريان اسانه كړي. تدريس عبارت له تدريس څخه دى.

د ښوونې او رونې عالم (اسميت) په پنځه ډوله تدريس باوري دى.

۱. توصيفي.

۲. موفقيتي

۳. ارادې

۴. رهنمايي

۵. علمي

د(اسميت) په نظر توصيفي تدريس تعريف د رواجي اومعمول له مخې تاكيد لري، لدې اړخه تدريس عبارت دى له: د ښوونكي لخوا زده كوونكو ته دپوهې صريح او مستقيم بيان دى ډېر محدود دى.

پدې تعريف كې د تدريس مفهوم كه څه هم صحيح او روښانه دى؛ مګر ډېر محدود دى، يانې تدريس يې د ښوونكي او زده كوونكو له اړيكې (ارتباط) او خبرو كولو له مخې پوهې او مهارت كې محدود او توصيف كړى. د دغه تعريف له اړخه په درسي ټولګي كې خبرې كول د تدريس د ډېرو مهمو طريقو څخه شمېرل كېږي او داسې كتل كېږي، چې رواجي يا نسبتې مانا د تدريس نشي كېدلاى دقيقه او جامع دى.

د تدريس په تعريف كې دموفقيت، بريالیتوب، دوه مفهومه، تدريس او نقشې يادولو تعين شوې او نه جداكېدونكې شكل لري، پدې مانا چې د تدريس عمل صورت نه وي نيولى.

داچې يادونه رامنځته شوې ده، همدا ډول تعريف د تدريس څخه هم لكه په اصطلاح يادونه او ور يادول دي، چې دتربيتي علومو په متونو كې ډېر كتل كېږي. يانې كه چېرې ديادونې په لړ كې ورزده كول ښوونكي ته تدريس شي نو يادول به صورت ونيسي. بيا هم نشي كېدلاى، تدريس په داسې يو فعاليت باندې اطلاق شي، لكه اخيستل او خرڅول، د تدريس دبرياليتوب مانا لپاره ښه واضحه كوونكې بېلګه ده.

دلومړي تدريس عبارت له دې مانا څخه دى، چې كه چېرې اخيستونكي نه وي او توكي تبادله شي يانې څه شى ندى خرڅ كړى په پايله كې د ښوونكو د فعاليتونو څخه وروسته زده كوونكو څه شى ندى ياد كړى. كولاى شو ووايو چې تدريس بېخې صورت نه دى نيولاى.

د تدريس كارولو عمل سره د زده كوونكو شتون تحقيق او يادولو مانا راپيداكوي. ددې كتنې پر بنسټ د تدريس كتنه يوازې دمالوماتو انتقال نه دى بلكې يو تعامل د ښوونكو او زده كوونكو ترمنځ دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې د ارتباط اړیکې په اوږدو کې تاثیر رامنځته نه شي، نو په حقیقت کې اړیکه نده نیول شوې، داسې تعبیر اگر که ډېر ښکلی او ښه وي؛ ډېر فکر او ژورتیا ته ضرورت لري، ځکه یادول یوازې د تدریس محصول نه دی او هر وخت او هرځای حتی یې له ښوونکي څخه امکان لري رامنځته شي، له بله پلوه ښوونکی د زده کوونکي د ټولو یادونو مسؤل نه دی. همدارنگه هغوی په ټولو هغو تغیراتو چې په تدریس سره راځي تاثیر لري کنترول نه لري او داسې مکمل کنترول او واک په دې شته موقعیت کې امکاني نه دی؛ مگر ددې تعریف ښې ځانگړنې دادي چې ښوونکي گمارل، د زده کوونکو فعالیتونه او یادول په یو ډول سره منظم کوي او جوړښت ورکوي، چې پایله یې په یادولو سره سرته ورسېږي، دداسې کړنې پر بنسټ ښوونکي باید خپل کوښښ ته د زده کوونکو دتغیر په لور سوق کړي، ځکه دخپل کار په سرته رسولو کې کوښښ د هغه د کار پای یو کار دی.

د تدریس په اداري مفهوم کې یو عمل دی، چې هدف یې د ښوونکو دموقعیت او باور په برخه کې د هغه دکارونو او پېښو اهمیت سره تړاو لري. په بل عبارت نور نو تدریس یوازې چې د ښوونکو فکري نظام نه دی؛ بلکې دهغوی کړنې چې دمخکې څخه د موخو په تعین سره لارښوونه او مشخص کېږي، د تدریس په لړ کې د زده کوونکو فکري نظام د تفکر طریقې او دیادولو مهارتونه په مختلفو برخو کې هم د همدې اهدافو پر بنسټ شکل نیسي.

له دې امله تدریس ته کتنه په مانا او د هدف د معلوموملو لپاره د یو ارادي فعالیت، فکر، د ښوونکو باور او هم د زده کړې د اجراء کوونکو لپاره ډېر داهمیت وړ دی. پدې دلیل چې هغه زده کړه ایز فعالیتونه چې جوړښت ورکوي اوهم لوری ورکوي د ښوونکو کتنه او باور د ورزده کولو او یادولو په برخه کې دې تدریس ته کتنه دارادي اړخه کولای شي یوه موثره ونډه په علمي روزنې ولري، ځکه که چېرته د ښوونکو باور د تدریس د مهمو عواملو څخه وگڼو، نو د ښوونکو د روزنې مرکزونه باید د خپل فعالیتونو اهداف او اساس د تدریس مهارتونو څخه مخکې دشکل ورکولو پر محور فکر او باور وکړي. هغه موقعیت منځته راوړي، چې فکرونه او صحیح باورونه په صحیح علمي تجربو سره فکري ښوونکو ته لوری ورکړي.

دطرز او طریقې له مخې د تدریس تعریف چې هغه په اخلاقي اصولو، شواهدو او استدلالي فعالیتونو سره تړاو لري ولاړ دی.

په داسې برداشت سره د تدریس نه هروخت دوه اساسي پوښتنې راولاړېږي.

1- څه شی باید یاد شي او څرنگه باید یاد شي له دې امله هغه تدریسي لارو او کړنو هره محتوا وړاندېز نه ورکول کېږي. محتوا یا ارزښت لرونکی او تفکر رامنځته کوونکی وي او د زده کړې طریقې او یادول په دلایلو او شواهدو ولاړ وي،پداسې طریقې کې چې د تدریس نه ښوونکی دا حق ونه لري، چې خپلې فکري او باورونه یې له کومو دلایلو او علمي شواهدو چې تایدونکي وي په زده کوونکو تحمیل کړي، تدریس باید د زده کوونکو د فکرمند کېدلو سبب شي او څېړنې انگېزه په هغوی کې ایجاد کړي دداسې کتنې او گمان طرفداران د حرفوي زده کړې کلمې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطلاق او نورو مهارتونو چې رواني او حرکتي کړنې تقویه کوي او یا یې یو شکل ورکوي، کوم مخالفت هم نلري؛ مګر د تدریس د مفهوم په اطلاق او په هغو فعالیتونو کې کنترول کولو د رایې اختلاف شتون لري.

یو شمېر نور بیا ابلاغ، تبلیغ او یا تلقین چې دباورونو د تصویب د جوړولو لپاره کاروي. د ماهیت له مخې دا یو شرط پېژني او د تدریس برخه یې نه حسابوي دهغوی په باور هر ډول فکر تحمیلول او یا د هغې تغیرول د وېرې او ګواښ په اثر په هېڅ وجه د تدریس برخه کې نشي راتلای.

د تدریس مانا دعلم اړخه هغه صریح او دقیق فعالیتونه دي، چې د تربیې د ښوونکي تیره رېښه په تجربو لري ښایي ددې کړنې پر بنسټ د تدریس تعریف باید د هرډول ابهام او عدم دقت نه شتون څخه خالي وي او په جملو او عبارتونو کې بیان شي،چې د سطحه کې دي، لکه وزارتونه تعین او تنظیم شي.

تنظیم شوي معیارونه او د تدریس ټولنیزې تګلارې د ښوونکو لپاره تعین نه وي او همدا ډول د زده کوونکو لپاره اهدافو او محتوا ته لوری ورکول په افکارو سره تعینوي. زده کړه ایز مرکزونه یوازې پدې مؤظف او ګمارل شوی دی، چې زده کړه ایز اهداف په عیني او صریح شکل بدل کړي او له دې وروسته دا زمینه برابره کړي، ترڅو زده کوونکي هغه تعین شوي اهداف د تعین شوو کړنو په واسطه تمرین او تکرار کړي.

د داسې کړنې پر بنسټ باید مهم موضوعات او موخې په درسي پروګرام کې لحاظ وشي؛ مګر محتوا باید د زده کوونکو د کلتور او ځواک طاقت سره متناسبه وي. دښوونې او روزنې د پروګرام جوړونکو لخوا د زده کوونکو معیار او د ارزښت لارې چارې او هم د هغوئ زده کړه ایز اهداف تعین او زده کړه ایز مرکزونه ابلاغ شي او ښوونکي د زده کړه ایزې دورې تر پایه د هغې په اجراء مؤظف او وګماري.

ډېری تصمیمونه د درسي پروګرامونو د محتوا او څرنګوالی د اجرا په برخه کې او هم د هغې ارزښت موخه کې له مخې څخه نیول کېږي، ښوونکي د ورزده کولو په لړ کې د داسې مهمو مسایلو یادولو سره ډېر مخامخ کېږي، چې د هغې په باره کې تصمیم ونیسي. هغوی باید د تعین شوي چوکاټ او محتوا پر بنسټ زده کړه ایز فعالیتونه طرحه او اجراکړي؛ مګر دانشي کېدای چې خپل پروګرام یا فعالیت دښوونې او روزنې د معیارونو څخه د باندې اجرا ته وړاندې کړي. د تدریس په لړ کې هغوی به صرف د خرڅونکو او اخیستونکې په شکل ونډه ولري.

## د زده کړې د تدریس تګلاره

د فعاله تدریس میتود: دفعال تدریس میتودپه دې نظر ولاړ دی، چې زده کوونکي یوازې نیغ په نیغه ونډه اخیستنې، یاني د زده کړې دفعالیت له لارې پوهنیز، مهارتي اوذهنیتي مفاهیم ترلاسه کوي او که زده کوونکي ته په درسي فعالیت کې نیغ په نیغه ونډه ورنه کړای شي، زده کوونکی غیرفعال پاتې کیږي او زده کړه به ژوره نه وي او زده کوونکی به یې ژرله یاده وباسي. دښوونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوروزني د ډگر د پوهانو په نظر عملي زده کړه د جان ديوي په دې نظرولاړه ده، چې ويل يې ماشومان بايدپه څېړنه کې د نوو فکرونو زده کولو لپاره فعاله ونډه واخلي.

سويسي ارواپوه ژان پياژه باورې ده، چې تجربه د فکري ودې له پاره تل ضروري ده. موضوع بايد په فعال ډول تدريس شي. په لاس راغلې څېړنې څرگندوي، زده کوونکي هله ښه زده کړه کوي، چې ولولي، ويې ليکي، خبرې اترې پرې وکړئ، ازميښت يې کړي، مسئله حل کړي، کشف يې کړي، تجزيه اوتحليل يې کړي، ويې څېړي، استنباط ترې وکړي، اړيکې يې پيداکړي، استدلال وکړي، لنډيز يې جوړ کړي، په دې توگه د فعال تدريس ميتود کې د هغو لارو څخه گټه اخلي، چې زده کوونکي فکر کولو او عمل کولو ته اړ کړي. د فعال تدريس په ميتود کې زده کوونکي دزده کړې په بهير کې عملاً د پوهې دلاسته راوړنې په څرنگوالي بلدېږي. د يادولو او ذهن ته د سپارلو پرځای چې نورو د فکر محصول دی، خپلې علمي پوهې ته وده ورکوي او هماغه لاره وهي چې پوهان يې د پوهې د پراختيا په عمليه کې سرته رسوي. په دې توگه زده کوونکي له داسې يوه حالت سره مخامخ کيږي چې له نوې مسئلې سره د مخامخ کېدو په صورت کې د هغې د حل لپاره له عملي او څېړنيزې لارې کاراخلي. د مسئلې يا ستونزې له پېژندلو وروسته د هغې د حل او هوارولو د لاروچارو په اړه فکر کوي. ددې کار لپاره اطلاعات، شمېرې او مالومات راټولوي او طبقه بندي کوي يې او د مسئلې دحل لپاره په خپل ذهن کې احتمالي لارې لټوي. هغه مهال د مسئلې د اهميت له مخې ډول ډول، لاروچارو منابعو او سرچينو ته مراجعه کوي، تجربې سرته رسوي، مشاهدې کوي او د خپلې فرضيې د ازمايي، د هغې دمنښت يا رد له پاره پوره دلايل راټولوي. په پای کې د پايله نيونې له مخې د څېړلوعمليه سرته رسيږي. له دې زده کوونکی ددې په لټه کې دي، چې لاسته راغلې پايلې په نورو ورته ځايونو کې تعميم او وکارول شي له دې لارې د درس د محتوا ژور درک له امله يولړ مهارتونه ترلاسه کېږي.

څېړل او د مسئلې د حل په عمليه کې ترلاسه شوي مالومات د پوهې يوه برخه جوړوي او په دې توگه د نورو مسائلو له حلولو سره مرسته کوي. څېړل او تفکر د پړاوونو له تيرولو وروسته ورو ورو دزده کوونکو په نظرياتو هم بدلون راځي. د بېلگې په توگه زده کوونکي زده کوي، چې له ستونزو سره د مخامخ کېدو په صورت کې په بېړه فضاوت ونه کړي. د نورو د نظرياتو په اړه له بې ځايه تعصب څخه ډډه کوي، له زغم کار اخلي او د نورو د نظريو په ردولو يا منلو کې له منطقي او عقلاني لار وچارو څخه گټه په عمومي توگه بايدپه فعالي زده کړې کې لاندې ټکي په پام کې ونيول شي:

۱: تدريس بايدزده کوونکي په هغو تجربو کې ښکېل کړي، چې د هغو پخوانی پوهه د علومو په اړه ترپوښتنې لاندې راولي.

۲: ښوونکی ښايي دپوښتنو له لارې د پلټنو او تجسس روحيه پياوړې کړي او زده کوونکي خبرو اترو او بحث ته وهڅوي.

۳: په تدريس کې بايدښوونکی د زده کوونکو د عمل چمتووالی په پام کې ونيسي. ښوونکی بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپي خبرې اترې زده کوونکو ته پريږدي.
۴: تدريس بايد د زده کړې عمليه له محتوا څخه بېله نه کړي(دتدريس په عمليه کړي دکتاب محتوا ته بايدتوجه وشي.
۵: زده کوونکي دې د خپلوځوابونو له لارې د خپلو ټولګيوالو توجه جلب کړي. که چيرته لازمه وي. ښوونکی دې ټولګی اداره کړي او د زده کوونکو نامکملو ځوابونو ته دې پراختيا ورکړي.
٦: د زده کړې په عمليه کې دې ښوونکی او زده کوونکي ګډه ونډه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فعالې زده کړې د میتود ډولونه

***۱. دمفهوم جوړولومیتود***

مفهوم جوړول یانې د زده کوونکو لخوا د مفهوم رامنځ ته کول دي،کېدای شي مفهومونه پوهنيز، مهارتي یا ذهنيتي واوسي. پدې میتود کې د یوه ټاکلي مفهوم په اړه مالومات ورکول کیږي. دا معلومات ښوونکی یا زده کوونکي ټولوي. زده کوونکي د مالوماتو طبقه بندئ او نوم ایښودنې له لارې هڅول کیږي او د نومول شوو ټکو په هکله له بېلګوسره د اړېکو د ورکولو او ددې کار د لامل د څرګندولو له لارې مفهوم جوړوي. د ښوونې او روزنې د پوه(هیلداتابا) په نظر کله چې زده کوونکي له پوښتنوسره مخامخ کیږي، په مفهوم جوړولوپسې ګرځي.

***۲: څېړنه***

د څېړنې موخه له داسې موقعیت سره د زده کوونکومخامخ کول دي، چې د ځواب میندلو لپاره یې د مالوماتو لاسته راوړلو او د تجربو په سرته رسولو پسې ګرځي. زده کوونکي د څېړنې په بهېر کې زده کوي، چې:«دخپلې مینې او کنجکاوئ پربنسټ کار وکړي» په وار وار پوښتنې وکړي. د ژورو خبرو په بهېر کې او په پیچلوحالاتو کې فکر وکړي. مسئلې تجزیه او تحلیل کړي.«خپله مخکینۍ پوهه او قضاوت په پام کې ونیسي.» خپلې فرضيې رامنځته او تجزیه کړي. «دحل احتمالي لارې راوباسي اوپراخه یې کړي.))کېدای شي، دڅېړنې په میتود کې زده کوونکي په استقرایې میتود(له کل څخه جزته)اویا هم په قیاسي میتود(له جزڅخه کل ته)عمل وکړي.

***۳: دمفهومونونقشه***

د مفهومونو نقشه د مفاهیمو د انځور د ښودلو لپاره یوه لار ده. نقشه یوه ګرافیکي برخه ده، چې (ټکی یاراس) لري، مفهومونه بیانوي. همدارنګه منحني یا مستقیمې کرښې دي، چې ددې مفهومونو تر منځ اړیکې څرګندوي. مفهومونه او اړیکې معمولاً د نقشې پرمخ نومول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي ارتباطي کرښې یوه لوري، دواړو لورو یا بې لورو وي. کېدای شي مفهومونه او د هغوی ترمنځ اړیکې ډلبندي شي او د وخت له مخې د مخکې والي یا وروسته والي او یا د علت او معلول اړیکې ولري.

***۴: د پروژې میتود:*** ښوونکی پدې میتود کې یوه موضوع ټاکي. وروسته پوښتنې کوي او زیار باسي، چې زده کوونکي پوښتنې یو په یو راټولوي او ورو ورو د پروژې کار بشپړ کړي.

***۵: د خبرو اترو او بحث میتود:*** د خبرو اترو میتود ډله ییزکار د سرته رسولو له لارې کېږي. پدې میتود کې ښوونکی د زده کوونکو هرې ډلې ته پوښتنې ورکوي یا یوه موضوع ورته څرګندوي او له هغوی غواړي، چې د هغې په اړوند یو له بل سره خبرې اترې وکړي او پایله یې ټولګي ته وړاندې کړي. خبرې اترې عموماً د هغه یوې موضوع په اړه سرته رسیږي، چې زده کوونکي ورسره بلدوي.

***٦: د مسئلې د حل میتود:*** په دې میتود کې ښوونکی یوه مسئله ټاکي اویو تن یا ډلې ته وخت ورکوي، چې ځواب یې پخپله یا د نورو په مرسته ومومي.
۷: ډله ییزه زده کړه پدې میتود کې په هره ډله کې د پوهې د بېلابېلې کچې لرونکي زده کوونکي او د زده کړې د بېلابېلو فعالیتونو له لارې د یوې موضوع په اړه خپل درک پراخوي. د ډلې هر غړی یوازې پخپله د زده کړې دنده نلري، بلکې د ډلې نورو غړو د پوهولو دنده هم په غاړه لري.

***۸: له ښوونځي بهر فعالیت میتود:*** دا میتود د اطلاعاتو د راټولولو پر هغې د غور او د حل د لارې لټولو او مطالعه او د عملي کار پای ته رسول دي. په دې میتود کې معمولاً فعالیت له ښوونځي بهر سرته رسېږي. ښوونکی د زده کوونکو له مینې سره سم یوه موضوع ټاکي او ترې غواړي، چې د سرته رسولو په موخه ورته مالومات او شمېرې راټولې کړي، د بېلګې په توګه: د موادو او ډبرو د بېلګو راټولول.

***۹: عملي(تجربې) میتود:*** تجربه هغه فعالیت ده، چې د هغې په بهېر کې زده کوونکي دیوې ټاکلې موضوع په اړه ځانګړو موادو په کارونې په عملي توګه تجربه کوي. تجربې د معمول له مخې په یوه لابراتوار کې سرته رسېږي، خو په ښوونځیو کې د یو سمبال لابراتوار نشتوالی باید د تجربو د سرته رسولو لامل نشي. په ځېنوځایونوکې په ټولګي کې د یوې تجربې د سرته رسولو لپاره ډېر ساده وسایلو ته اړتیا وي. ښوونکی یا زده کوونکي دا مواد په ډېر اسانه توګه لاسته راوړای شي. تجربه کله ناکله یوه مفهوم سره د زده کوونکو د بلدولو لپاره کارول کېږي. ددې کارلپاره ښوونکی دتجربې کړنلاره زده کوونکو ته ورښيي او تمه لري، چې زده کوونکي د هغه د لارښوونې په مرسته یوې واحدې پایلې ته ورسېږي. په نورو برخو کې تجربه د یوې مسئلې د حل له پاره د یوه مناسب چاپېریال له چمتو کولو څخه عبارت ده. په دې ډول کې ښوونکی دفعالیت عمومي لوری ټاکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکي دې ته هڅوې، چې د تجربې سرته رسولو په اړه په یوازې سره پرېکړه وکړي او پایله لاسته راوړي. تجربه د تجربوي مفاهیمو د تدریس، په تیره بیا د کیمیا مضمون لپاره ډیره اړینه ده. له هغې پرته زده کوونکي نشي کولای چې پرلوست سم پوه شي. زده کوونکي دساینسي تجربو له سرته رسولو سره که ښوونکی یې سرته ورسوي یا زده کوونکي ډېره مینه لري، خو ښایي تر وسې پورې تجربې پخپله د زده کوونکو له خوا سرته ورسېږي. په هر ډول دا د ښوونکو دنده ده، پرېکړه وکړي چې تجربه باید څوک سرته ورسوي.

د ښوونکي په واسطه د تجربې د سرته رسولو ځایونه په ځینو ځایونو کې لازمه برېښي، چې پخپله ښوونکی تجربه سرته ورسوي. نوموړي یوشمېرځایونه په دې ډول دي:

۱. په هغه صورت کې چې د تجربې مواد اور اخیستونکي یاخطرناک وي، لکه:بنزین،کایتر او کاني تاوده او ټینګ تیزابونه.

۲. په هغه صورت کې چې زده کوونکي د تجربې په کړنلاره پوه نشي او ښوونکی وغواړي، د تجربې په ترسره کولو هغوی ته د کار پړاوونه ورزده کړي.

۳. هغه مهال چې تجربه په پیچلي او ګران بیه دستګاه کې سرته رسېږي او دکار بهیر یې پیچلی وي.

۴. هغه مهال چې تجربه زیات پام او ډېرې تجربې ته اړتیا ولري.

۵.هغه مهال چې لازمه وي، ښوونکی د تجربې پر وخت کې بېلابېلې برخې زده کوونکو ته بیان کړي. د تجربې د سرته رسولو لپاره څو لارښوونې:

۱. څوورځې دمخه تردې چې وغواړئ زده کوونکوته کومه تجربه وښیئ، هغه پخپله وازمایئ.

۲. د تجربې دسرته رسولو په ورځ د اړتیا وړ مواد او سامان الات چمتو کړئ او په ترتیب یې پر میز باندې کیږدئ.

۳. ددې له پاره چې زده کوونکي تجربه ښه ولیدلای شي، هغه وسایل چې تجربه پرې سرته رسوي، پر میز کیږدئ.

۴. اضافي توکي د میز دننه کیږدئ، چې زده کوونکو پام ځانته وانه ړوي.

۵. د زده کوونکو نظر د تجربې د سرته رسولو پر مهال وپوښتئ؛ د بېلګې په توګه: که غواړئ چې په الکولو کې د پاڼې د کلوروفیل حلېدل وازمایئ، نو له زده کوونکو وپوښتئ، چې له پاڼې څخه د هغې کلوروفیل څنګه بیلولای شو؟ کېدای شي یو زده کوونکی ووایي، د ایشیدلو اوبو پواسطه. دا تجربه وازمایي او کله چې مو ولیدل ایشېدلې اوبه له پاڼې څخه د کلوروفیل د لرې کولو ښه محلول نه ده، زده کوونکو ته ووایاست چې د ځینو توکو د حلولو لپاره د اوبو په پرتله الکول تر ټولو ښه محلل دی. وروسته اصلي تجربه سرته ورسوئ او پر پاڼې د الکولو تر تویولو وروسته د هغې شین رنګه ماده بېله کړئ.

۶. له یو څو زده کوونکو څخه وغواړئ، چې د تجربې په د سرته رسولو کې درسره مرسته وکړي او د تجربې بهېر او خپلې لیدنې نورو زده کوونکو ته بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. په هغو ځايونو کې چې لازم وي، ټول زده کوونکي د تجربې يو پړاو پر خپلو سترګو وګوري. هغوی ته ووايئ چې د تجربې د ميز شا او خوا ته راټول شي او بهېر وګوري.
۸. د تجربې د سرته رسولو پرمهال له درسي مرستندويه وسايلو؛ لکه توره تخته، چارت، انځور او نورو څخه ګټه واخلئ. د زده کوونکي په واسطه تجربه:
د مخه مو د ښوونکي په واسطه د تجربې د سرته رسولو په اړه خبرې وکړې، اوس وګورئ، چې د زده کوونکو له خوا د وخت په تيريدو او د خطر د مخنيوي او د ښې پايلې د لاسته راوړلو په خاطر د يوې تجربې سرته رسول څنګه پلانواى شو. ددې کار لپاره لاندې ټکو ته پام واړوئ:
۱. د ټولګي زده کوونکي په ډلو وويشئ. د ډلوشمېره د امکاناتو او شتو وسايلو له مخې ټاکل کېدای شي، د بېلګې په توګه: که د يو ټولګي د زده کوونکو شمېره ۳٦ تنه وي، کولای شو درې ۱۲نفري، نه ۴ نفري او٦ نفري ډلې جوړې کړو.
۲. پر ډلو نومونه کيږدئ. ددې کار لپاره الفبې له تورو يا د پوهانو له نومونو ګټه اخيستلای شئ.
۳. زده کوونکوته د تجربې د کارونو د مسؤليت دويش په اړه لارښوونه وکړئ.
۴. هغه وسايل د ډلو ترمنځ وويشئ، چې زده کوونکي ورته د تجربې د سرته رسولو لپاره اړتيالري.
۵. که چيرته د تجربې د سرته رسولو پر مهال له الکولو، ګوګړو او نورو اور اخيستونکو توکو څخه ګټه اخيستل کيږي، زده کوونکو ته د خونديتوب لارښوونې او د کار د بهېر څارنه وکړئ.
د زده کوونکو له خوا د تجربې ياداښتولو هره تجربه درې پړاوه لري:
۱. په لومړي پړاو کې تر ازمېښت لاندې مسئله دې زده کوونکو ته تشريح شي، چې د هغې د پيدا کېدو په اړه فکر وکړي. د بېلګې په توګه: که چېرته د هايدروجن د لاسته راوړلو لپاره د جستو تعامل د مالګې له تيزاب سره تجربه ترسره شي، ښوونکی شي چې داسې پوښتنه وکړي.
يا د جستو او مالګې تيزاب د تعامل په پايله کې هايدروجن لاسته راځي؟ او پوښتنه کوي، څرنګه کولای شو، چې په تجربې يې ثبوت کړو؟
۲. دويم پړاو د تجربې سرته رسول دي. په دې پړاو کې زده کوونکي د هغو وسايلو په واسطه تجربه سرته رسوي،چې په واک يې لري.
۳. دريم پړاودادی، چې زده کوونکي دتجربې بهېراولاسته راغلې پايلې ياداشت کړي. دتجربودبهېر اوپايلودښه ياداشتولولپاره لاندې لارښونې وکاروي.
۱. هيڅکله مه پريږدئ، چې زده کوونکي د تجربې بهېر د تابلو يا ياداشت له مخې وليکي، ځکه دا ياداشت اخيستل ددې مخه نيسي، چې زده کوونکي خپل فکر په تجربې متمرکز کړي.
۲. زده کوونکو ته د ياداشتولو لاره روښانه کړئ. ځکه کېدای شي، زده کوونکي خپل ياداشت کې شکل او چارت هم وکاري.
۳. ددې په ترڅ کې چې له زده کوونکو غواړئ، د ياداشت لپاره له ټاکلې بېلګې څخه ګټه واخلي، د هغې په تنظيم کې زده کوونکي خپلواک پريږدئ.
۴. د ژبې د ګرامر له مخې غوره ده، چې د فعلونو له مالوم حالت څخه ګټه واخيستل شي او جملې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مجهول ډول بیان نه شي، د بېلګې په توګه د ښېښو له تودولو ورسته مو ولیدل، چې د هغې د دننه حجم هوازیاته شوه.
دا به ښه وي چې ولیکو: ښیښه توده شوه او د دننه حجم هوایې زیاته شوه.
۵. څنګه چې زده کوونکي په ډلهییز ډول تجربه سرته رسوي، ښه به دا وي، چې په خپل یاداشت کې د خپلو هم ټولګیوالو نومونه هم ولیکي. د بېلګې په توګه: اما او اکبر یوه دانه لوبیا وکرله. ومو لیدل چې د وخت په تیریدو یې ریښه، ډنډه او پاڼه راښنه شول، دا کار ددې لامل کېږي، چې یاداشت زده کوونکو ته د یو یادګار په توګه پاتې شي او ډله ییزکار روحیه یې پیاوړې شي. که ازمیښت یې په خپله شخصاً سرته ورساوه، په یاداشت کې دې د مفرد شخص یادونه وکړي، یانې ودې لیکي:«بوتل مې له اوبو ډک کړ».
۱۰. دپوښتنې او ځواب میتود
پوښتنه او ځوابونه داسې یوفن دی، چې ښوونکی کولای شي، په ټولو درسې ساعتونو کې ترې کار واخلي. له پوښتنو او ځوابونو څخه د تیرولو ستونو په بیا ځلي کتنه کې هم کار اخستل کېږي. د زده کوونکو له خوا د موضوع ګانو پر پوهیدو او یا نه پوهېدو هم له دې فن څخه کار اخیستلی شو.
د پوښتنو ډولونه په لاندې بڼو ویشلی شو:
۱. یادول چې یوازې حفظي مالومات ارزوي: لکه کیمیاوي تعاملونه په څو ډوله دي؟ د هر یو نوم واخلي.
۲. پرتله ییزې پوښتنې، لکه د اکسدیشن تعاملونه د سوځېدلو تعاملونو سره پرتله کوي.
۳. علت او معلول لکه د شین کوریزو غازونو د پیدا کېدو لامل څه شي دی؟
۴. توضیحي: لکه اتوم د الکتروني جوړښت په هکله هوند قاعده توضیح کړي.
۵. د بېلګې راوړلو پوښتنه: لاندې اصطلاح ګانې د مثال سره توضیح کړي، د بېلګې په توګه:
۱ـ مول() ۲ـ ایزوتوپ()
۳ـاتوم () ۴ـ ایون ()
٦. تجزیه اوتحلیل:
لکه دکلسیم کارباید د تعامل د اوبو سره پایله کې استلین جوړیږي. که چېرې استلین وسوځیږي، کوم مواد کوم مواد به لاسته راشي؟
۷. ډلبندي: لکه د څو عنصرونو سمبولونه ولیکئ او هغوی د فلزي، غیرفلزي او مفوتریک خواص په پام نیولوسره ډلبندي کړي.
۸. د پایلې اخیستل: لکه که چیرته تجزیه کوونکي نه وای، په طبیعت کې به د کاربن په دوران کې څه حالت رامځته شوی وای؟
۱۱ـ نمایش (ننداره) میتود
د نمایش میتود پر لیدلو او مشاهدې ولاړ دی. افراد د مشاهدې او لیدو له لارې ټاکلې ورټیا ترلاسه کوي. ښوونکی لومړی د زده کوونکو په وړاندې یو کار ننداره ته وړاندې کوي او ورسته زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي هغه کار په هماغه ډول ترسره کوي.
د نمایش میتود له لاندې څلورو برخو څخه جوړ شوی دی: چمتووالی، توضیح، نمایش او ازمیښت.

***۱. د چمتووالي پړاو:*** ښوونکی د نمایش وسایل له نمایش دمخه په ټولگي کې چمتوکوي.

***۲. د توضیح پړاو:*** له نمایش دمخه لومړی د هغې موخه زده کوونکو ته بیانوي. وروسته هر هغه څه چې زده کوونکي یې ښایي سرته ورسوي، ورته بیانوي.

***۳. د نمایش پړاو:*** پدې پړاو کې باید ښوونکی زده کوونکو ته د مهارت په اړه ضروري عملیات وښيي. همدارنگه د کار سم بهیر چې زده کوونکي يې ښايي ازمیښتي پایلې د لاسته راوړلو لپاره سرته رسوي، بیانوي پدې پړاو کې کله ناکله توضیح او نمایش یو تر بله سره گډیږي.

***۴. ازمیښت پړاو:*** زده کوونکو ته څرکنده کړئ، چې د بیان او توضیح له پړاوونو وروسته هغه کار عملاً سرته ورسوي. د نمایش په پای کې له زده کوونکو څخه پوښتنې وکړئ.
***۱۲. توضیحي میتود:*** توضیحي میتود چاپي مطلبونو، د لوست د تشریح او نورو رسنیو پواسطه زده کوونکو ته د اطلاعاتو مستقیم لیږدول دي. پدې میتود کې ښوونکی درسي مفاهیم او موضوعگاني زده کوونکو ته وړاندې کوي. ددې میتود له گټو څخه یوه دا ده، چې حقایقو، اصولو او مفاهیمو یوه ټولگه په منسجم ډول زده کوونکو ته ور زده کړای شي. د دې میتود له محدودیتونو یو یې دا دی، چې زده کوونکي مطلب حاضر او چمتو والی ترلاسه کوي اوحقایق نه کشفوي. که چیرته دا میتود له نورو میتودونو سره یوځای وکارول شي، اغیزمن تمامیږي. له توضیحي میتود څخه د ډېرو علمي مفهومونوپه زده کړه کې کار اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زده کوونکو د زده کړې د ارزولو لارې چارې

***د ارزونې تعریف***: د زده کړې له ټاکل شوو موخو سره د زده کوونکو د تر لاسه شوې پوهې د پرتلې له لارې د ښوونکی تدریسي فعالیتونه او د زده کوونکو د زده کړې په کوښښونو د مطلوبو نتیجو د څومره والي مالومول، ارزونه نومیږی.

د ښوونیز او روزنیز فعالیت په ارزولو کې دوه ټکی ډېر مهم دي.

۱ـ د زده کړې د موخوټاکل

۲ـ د زده کوونکو د زده کړې د کچی ارزونه

د زده کوونکو په ارزولو کې ځینې ټکي په پام کی ونیول شي. د زده کوونکو د ارزولو دلارښوونې اصول په لاندی ډول دي:

***الف.*** د ورزده کولو او زده کولو د بهېر بشپړوونکی وي.

***ب.*** د زده کړې فعالیت باید مثمر او پلان شوی وي.

***ج .*** د زده کړې له موخو او نتیجو سره.

***د.*** له ښوونکي سره دپلانولو او د زده کوونکو د اړتیاوو له پوره کولوسره مرسته وکړي.

***هـ .*** د پوهې، مهارت او ذهنیت درې برخو کې پوهه چمتو کړي.

***و.*** د زده کوونکي له دوامداره زده کړې سره مرسته وکړي.

***ز.*** زده کوونکي داروزوني دسرته رسولو له څرنګوالی خبروي.

***ح.*** د زده کوونکوسره مرسته وکړي، چی ترلاسه شوې پوهه په خپل ورځني ژوند کې عملاً و کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ساينس کې د ارزونې دوديز ميتودونه

***۱ـ د زده کوونکو د فعاليت ثبتول***

ښوونکی هره ورځ اويا په اوونيزه توګه د زده کوونکو فعاليت او د کار پرمختګ ثبتوي. ښوونکی کولای شي، د زده کوونکو د فعاليت له ثبتولو څخه د زده کوونکو د ارزونې لپاره د هغوی د ځواب ويلو، په ډله ييزکار کې د فعالې ونډې او د پروژې په بشپړولو کې ګټه واخلي.
کولای شو د زده کوونکو د فعاليت له ريکارډ څخه د انفرادي يا ډله ييزې ارزونې لپاره ګټه واخلو. د فعاليت د ريکارډ په ثبتولو کې لاندې مطالب په نظر کې ونيسو.

***۲ . جدول دفعاليت دثبت دريکارډفورمه***

| ګڼه | نوم | نيټه | دمشاهدې موده | | اودډلې ياګروپ دغړوپه اړه نظريې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | دخبرواوريدوپرمهال همغږي ښيي. | |
| | | | | دنورودرناوی کوي. | |
| | | | | په کارونوکې فعاله ونډه اخلي. | |
| | | | | خپله عقيده بيانوي. | |

***۲ . د زده کړې قرارداد (تړون):***

د زده کړې قرارداد د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ داسې يوه موافقه ده چې د يو ټاکلي فعاليت د سرته رسولو لپاره بايد سرته ورسېږي، څوک يې سرته ورسوي، کله سرته ورسېږي او څنګه وارزول شي. کېدای شي تړونونه ليکلي بڼه ولري. زده کوونکي کولی شي خپل ځان په خپله يا د نورو زده کوونکو له لارې وارزوي.

(۳) جدول: د زده کړې دتړون عمده مطالبونه

| د زده کړې دتړون عمده مطالبونه | | |
|---|---|---|
| د زده کوونکي نوم | | نېټه |
| څه کارسرته رسولی شم؟<br>څنګه يې سرته رسولی | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| شم؟<br>زماکار څوک ارزوي؟ | | |
| دزده کوونکی لاسلیک | | ښوونکی لاسلیک |

### ۳. د درجه بندۍ مقیاس

د درجه بندۍ په مقیاس کې د زده کوونکو د پوهې،مهارت او ذهنیت مقیاس ارزول کیږي. لاندې جدول ته پام وکړئ.

(۴) جدول: د ارزونې چک لست فورمه

| | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|---|
| دساینس په لابراتوار کې دفني وړتیاو لپاره په کیفي ډول د درجه بندۍ مقیاس. | | | | |
| ښکاري چې تر څېړنې لاندې مسئله یې ښه درک کړې ده. | | | | |
| کولای شي شفاهي او تحریري کړنلارو ته په زیر پام وکړي. | | | | |
| مناسب وسایل انتخاب وي | | | | |
| وسایل په ډیرپام اواغېزمنډول کاروي | | | | |
| په منظم ډول ثبتوي. (data) رقمونه او عددونه | | | | |
| د کار تر پای وروسته وسایل او د کار ځای سم پاکوي. | | | | |

### ۴. پروژې

پروژې داسې فعالیتونه دي، چې زده کوونکي یې په یوه موضوع کې د ښې څېړنې په موخه د مینې او امکاناتو له مخې په فردي یا ډلیز ډول سرته رسوي. زده کوونکي په پروژه کې کار پړاونه او نتیجه لیکي. د پروژې لاندې بېلګې وګورئ.

۱. د یوې درسي موضوع په اړه څېړنه او د هغې رپوټ ورکول.

۲. د یوې موضوع په اړه د مالوماتو راټولول.

۳. دچارت،موډل، :چمتوکول.

۵ـ د زده کوونکو د کار دوسیه.

د زده کوونکو کاري دوسیه د زده کوونکو د کارونو یوه ټولګه ده، چې له ښوونکي او زده کوونکي سره د زده کړې د بهېر په څرنګوالي کې مرسته کوي. د کارونو بېلګې چې په دوسیه کې ایښودل کېږي. د زده کوونکی یا ښوونکی د دواړو په خوښه اېښودل کیږي. په دوسیه کې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده، نورې دندې، تړونونه، د ازموینو نتیجې او نور کېښودل کېږي. هغه مهال چې د زده کوونکي د کار دوسیه بشپړه شوه، باید پرمحتویاتو یې یو ځل بیا غور وشي او په مناسبو مقیاسونو دې ارزیابي شي.

بېلګه: دزده کوونکي د کار د ارزونې دوسیه.

(۵) جدول د زده کوونکو د کار د ارزونې دوسیه.

| د زده کوونکي نوم | نېټه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د ارزونې ځانګړنې | په کیفی ډول ددرجه بندي مقیاس | | | | |
| | ډېرښه | ښه | متوسط | کمزوری | ډېرکمزوری |
| خلاقیت او نوښت | | | | | |
| نظم اوپاکوالی | | | | | |
| د د ندو بشپړ سر ته رسول | | | | | |
| ... | | | | | |

### ٦-ازموینه

ازموینه د زده کوونکو د زده کړې د کچې د معلومولو تر ټولو مهمه وسیله ده. ازموینې د لوست له موضوع څخه د زده کوونکو د پوهې د ارزولو په موخه ګټوره ده. له ازموینوڅخه د عملیو، مهارتونو او زهنیت په ارزلو کې کار اخیستل کیږي. ازموینه د ټُل په توګه په دوه ډوله ده. یوه تحریري او بله تقریري.

په تحریري ازموینه کې لاندی ډولونه شامل دي:

۱. تشریحي پوښتنې

۲. دلنډځواب لرونکي پوښتنې

۳. سمې اوناسمې پوښتنې

تقریري ازموینه لاندی ډولونه لري:

۱. شفاهي پوښتنې

۲. عملي پوښتنې

شفاهي پوښتنې: شفاهي هغه مهال کېږي:

۱. چې د ځواب ورکړه په لیکلي ډول شوني نه وي.

۲. موخه مو د زده کوونکي د شفاهي وړتیاوو ارزول وي، لکه خبري مباحثه او له ځنډ پرته ځواب.

د عملي ازموینې پوښتنې: د عملي ازموینې له پوښتنوڅخه هغه مهال ګټه اخیستل کیږي، چې زده کوونکي باید خپله وړتیا په مستقیم ډول وښیي. لکه د یوسلایډ جوړول یا د مکروسکوپ لاندی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسلایډ کتنه.

**تشریحي پوښتنې**

په دې ډول پوښتنو کې باید زده کوونکي په لیکلي ډول جامع ځواب ووایي. په دې پوښتنو کې زده کوونکی واک لري، چې خپل ځوابونه څومره چې کولای شي بډایه کړي. تشریحې پوښتنې د لوړې کچې زده کوونکو د ارزونې لپاره مهمې دي.

لنډ ځوابه پوښتنې: د لنډ ځوابه پوښتنو کې زده کوونکي باید د یوې کلمې یا لنډ عبارت څخه ګټه واخلي.

پرتله ییزې پوښتنې: په دې پوښتنوکې ځوابونه په یو بېل ستون کې په نامنظم ډول لیکل کېږي. پرتله ییزې پوښتنې د نورو پوښتنو ترڅنګ ښه اغېز لري. په دې پوښتنو کې که له پوښتنو څخه د ځوابونو شمېر زیات وي؛ نو زده کوونکي کولای شي، ځوابونه د ګومان له لارې غوره نه کړي.

سمې اوناسمې پوښتنې

په دې پوښتنوکې بایدزده کوونکي د ورکړل شوې جملې سموالی اوناسم والی په ګوته کړي.

**انساني سرمایه**

پخوا چې د طب علم ترقي نه وه کړې، اکثره ماشومان تر پنځه کلنۍ د مخه مړه کېدل. ډېر لږ کسان څو او یا کلنۍ ته رسېدل. د څو پېړیو پخوا وخت شاعر چې کله وایي، چې بوډا شوم، نو منظور یې معمولاً دا وي، چې څلویښت کلنۍ ته رسیدلي دي. په تاریخ کې لولو، چې دې څوارلسمې میلادي پېړۍ په پیل کې په اروپا کې ساري ناروغیو په ځېنو ځایونو کې دربیمه برخه خلک او په ځېنو نورو ځایونو کې پوره نیم خلک له منځه یوړل. ساري ناروغي څه موده پس داسې سرونه ریبل لکه لوګري چې غنم ریبي.

د اکثره ناروغیوپه مقابل کې دبشر بیوسي ددې سبب شوې وه، چې تر شلمې پېړۍ پورې نفوس چټکه وده ونه کړي او له دې درکه ځانګړې ستونزې پیدا نه شي.

په شلمه پیړۍ کې د طب علم ډېرې ودې او د نړۍ ګوټ ګوټ ته د طبي اسانتیاوو رسول ددې لامل شول، چې نفوس په چټکۍ سره زیات شي. له احصایي سره سم په ۱۹۵۱میلادي کال کې په ټوله نړۍ کې دوه نیم ملیارده انسانان اوسیدل، خو اوس د نړۍ نفوس تر اووه ملیارده اوښتی دی. اټکل کېږي، چې تر ۲۰۲۰ کال پورې به د ځمکې په مخ د انسانانو شمېر تر اته ملیادره واوړي.

په یو اعلان مې لوستي وو، چې یو نوی زېږېدلی ماشوم خپل پلار او مور ته وایي، چې تاسو چې زه زېږولم، زما د ډوډۍ غم مو کړی و؟ زما د سبق او تعلیم لپاره پلان او پروګرام درسره وه؟

زموږ په ټولنه کې مېندې او پلرونه تصور کوي، چې ماشومان به یې بس په خپله لویږي، چې دا تصور معمولا تباه کوونکی دی. پلارولي او مورولي دې ته نه وایي، چې ماشوم وزیږول شي واقعي پلارولي او مورولي دا ده، چې د نن ورځې ماشوم د سبا ورځې په لایقو او با تربیه کسانو واوړي. دا کار اسانه ندی ډېر زحمت غواړي او ځکه خو که یو هېواد ډېر شتمن هم وي، خو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک يې پرمختللي وي، مېندې او پلرونه پکې د ډېر اولاد جرات نه کوي.
له نفوس سره د اړوند مسايلو او مشکلاتو په باره کې د خلکو د پوهې او مالوماتو د زياتيدا لپاره ملګرو ملتونو په ۱۹۸۹ کال کې په لومړي ځل د نفوسو نړيواله ورځ ولمانځله ددې ورځې له لمانځلو څخه مقصد دادی، چې ټولنې په دې غور وکړي چې د نفوسو دبې کنټروله زياتيدا عواقب څه دي. د دې لپاره چې د خلکو ژوند بهتره وي، دنفوسو څنګه او څومره وده پکار ده.

**انساني سرمايه**

درې څلور کاله پخوا اټکل وشو، چې افغانستان د شاو خوا درې زره ميليارده ډالرو په ارزښت طبعي زېرمې لري. دا لويه سرمايه ده، خو جاپان، جنوبي کوريا، تايوان چې د اسيا د پړانګانو په نومونو مشهور دي، دومره طبيعي زېرمې نه لري؛ بلکې جاپان خو د طبيعي زيرمو له پلوه په خوارو هيوادونو کې حسابيږي. دغه ملکونه مجبور دي، چې د خپلو توليداتو لپاره خام مواد له بهره راوارد کړي، مګر د طبيعي زيرمو له نشتوالي سره سره ډېر شتمن او مترقي هيوادونه دي. داقتصاد پوهانو په نظر د دغو هېوادونو د چټکې ودې تر ټولو لوی عامل دا دی، چې انساني سرمايه ( Human Capital) پکې زياته ده د اکثره اقتصاد پوهانو په نظر با ثباته وده تر ګردو لوی عامل انساني سرمايه ده.

## انساني سرمايه څه ته وايي؟

انساني سرمايه د يو هېواد نفوس ته نه وايي؛ بلکې د يو هېواد په خلکو کې د مهارتونو او وړتياوو زياتوالي ته ويل کيږي.
د نولسمې پېړۍ چين هم د هغه وخت تر ټولو ګڼ نفوسه هېواد وه، خو د هغه وخت چين د نړي په اقتصاد کې ډيره وړه برخه لرله او اقتصادي پرمختګ پکې په نشت شمار وه، ځکه د چين د خلکو کاري وړتيا کمه وه. مګر په اوسني چين کې اکثره خلک مهارتونه لري او د خپل ملک په پرمختګ کې مثبته برخه اخيستلای شي.
له انساني سرمايي څخه مقصد يوازې دا نه دی، چې لا ډېر خلک دې لا ډېر مهارت زده کړي؛ ځکه که يو څوک په جسمي يا روحي لحاظ ناروغ وي، نو اول خو مهارت نشي زده کولای او که يې زده کړي هم سمه استفاده ورنه نشي کولای. له بلې خوا يو څوک به ښه تعليم ولري او صحت به يې هم ډير ښه وي خو د کار خدمت کولو اخلاقي انګيزه او روحيه به نه لري. دغسې کس هم په تيره بيا په خوارو ټولنو کې په کار نه راځي.
د دې لپاره چې په افغاني ټولنه کې په کافي اندازه انساني سرمايه ولرو او د بيوزلۍ وروسته پاتې والي له ګردابه راووځو، پکار ده دغو څلورو قشرونو او اجتماعي ګروپونو ته لا زياته توجو وکړو.

***۱ _ ماشومان:*** يو مفکر ويلي وو، چې د يوې ټولنې اخلاقي سويه له دې مالومولای شو، چې له ماشومانو سره يې چلند څنګه دی. حقيقت دا دی، چې د يوې ټولنې تقدير تر ډېره حده له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره غوټه دی، چې له کوچنیانو سره پکې څنګه چلند کېږي. ایا کورنۍ،ښوونکي او دټولنې مشران په دې پوهېږي، چې له ماشومانو سره باید څنګه چلند وشي؟ ایا د ټولنې مشران دیو شخصیت په وده کې هغه د ماشومتوب د ژوند اهمیت ته متوجه دي ؟ اروا پوهان وایي، چې دانسان د شخصیت بنیادونه تر پنځه کلنۍ پورې جوړیږي. اروا پوهانو ثابته کړې ده، هغه څوک چې په دیرش کلنۍ کې قتل کوي، په غالب ګومان په درې کلنۍ کې یا د کم عمر په نورو کلنو کې ورسره شدت شوی وي. دغه راز د ماشوم تغذیه، معالجه د هغه د خوشال ساتلو مسایل خورا مهم دي، چې که اهمیت ورنکړای شي، راتلونکې ژوند یې خرابیږي. زمونږ په ټولنه کې د ماشوم تربیې په اړه تر ټولو ناسم تصور دا دی، چې په وهلو، ټکولو کې ګټه وینو.

دماشوم وهل په ماشوم باندې په لوړ اواز چیغه کول، هغه مسخره کول او یا هغه ته کنځلې کول زمونږ په کورنیو کې عام دي او ډېر لږ کسان مو په دې پوهېږي، چې دغه سلوک تبا کوونکي نتایج لري.

ګڼ پلرونه په دې ګومان دي، چې که له اولاد سره سلوک سوړ وي او هماغسې چلند ورسره وکړي لکه په دفترونو کې چې اکثره امران له مامورینو سره کوي. اولاده به یې سم ورزل شي. خو څرنګه چې ماشومان عاطفي رابطې او یو پنا ځای ته ډېر ضرورت لري، نو په کور کې سوړ چلند یې ممکن کړو لارو ته وروبولي. له کورنو ځخه د پنځلس، شپاړس کلنو پېغلو او زلمو د تېښتې یو لوی عامل همدغه سوړ چلند دی. دغه راز په کور کې د محبت نشتوالی د زلمیتوب د عمر د نشو یو لوی علت بللی شو. هغه اولاد چې له پلار سره د ناستې په وخت کې ازاې نه احساسوي، کورنی ژوند ورته بې خونده کېږي او د متبادلو خواوو ډېر ځله خطرناکو لارو لټون پیلوي. که پلار اولاد ته اجازه ورنکړي، چې د ده مخې ته ټوکې وکړي، اولاد به د پلار په غیاب کې ټوکې وکړي، خو دغه ټوکې ممکن د ادب له چوکاټه وتلي وي.

***۲.ښځې:*** څو کاله پخوا د ملګرو ملتو سرمنشي بانکي مون وویل: ترڅو پورې چې نجونې او مېرمنې د له بیوزلۍ او بې عدالتي سره مخ وي، زمونږ ټول هدفونه لکه سوله، امنیت او پرله پسې انکشاف به له خطر سره مخ وي.

زمونږ په ټولنه کې ښځو ته معمولاً د دویم درجه انسان په سترګه کتل شوي دي او کوم چلند چې ورسره کېږي، ډېر مناسب بلل کېږي؛ البته، ځېنې داسې کسان هم شته چې د ښځو د وضیعت بهتري غواړي، خو دوی د ښځو د وضیعت بهترۍ ته تر ډېره حده د یوې اخلاقي او انساني شفقت له عینکو ګوري.

داسمه ده، چې په ټولنه کې د کمزورو او مظلومو اقشارو سره خوا خوږي او د ټولو وګړو لپاره عدالت غوښتنه د هر انسان اخلاقي دنده او د وجدان تقاضا ده؛ مګر ښځو ته د حقوقو ورکړه یوازې د خواخوږۍ خبره نده ، لکه څنګه چې بانکي مون ویلي دي، چې د ټولنې نیکمرغي او کامیابي هم ورسره غوټه ده.

په شلمه پېړۍ کې چې اجتماعي علومو انکشاف وکړولو او د ټولنې ډېر رازونه را څرګند شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهم ثابته شوله، چې په اجتماعي ژوند کې د ښځو نقش له زیاتولو پرته د ټولنې دوامدار او ثابت انکشاف نا ممکن دي. په افغانستان کې دا خبره زیاته کېږي،چې که مېندې تعلیم یافته او لایقې نه وي، نو لایق زامن به له کومه کېږي. د دې خبرې په څنګ کې باید دې ته هم فکر وکړو، چې که زامن لایق هم شي؛ خو چې مېندې په ټولنه کې غیر فعاله او نا تکړه پاتې وي. ټولنه به د یو وزرې مرغي په شان چټک حرکت نشي کولي. زموږ سیاستوال، شاعرانو او لیکوال د مېندو او ښځو په تعریف کې وایي، چې د دوی په لمن کې احمدشاه او میرویس خان لوی شوي دي، خو حقیقت دا دی، چې که د یوې ټولنې مېندې او خویندې دا اجازه ونه لري، چې د میرویس او احمدشاه غوندې په لویو کسانو بدلې شي، بیا به هم پرمختګ نیمګړی وي.

په هغه ټولنو کې چې ښځې فعالې دي، هلته اجتماعي او اقتصادي انکشاف ځکه چټک دی، چې د کار او تولید قوت پکې یو په دوه دی. که د ټولنې په اوسني حالت کې تحرک اوسیکه نه وي، د سباني نسل د لیاقت زمانت یې څوک کولای شي؟

که په یو کور کې ښځې او نارینه دواړه کار وکړي، عواید به یې یو په دوه وي او چې عواید دوه برابره شو، دماشومانو دتربیې او ښې روزنې لپاره امکاناتو په دوه کېږي. د تعلیم حق د کار حق او خوندیتوب دی. په افغاني ټولنه کې د ښځې درې اړتیاوي بللی شو. زموږ په ټولنه کې ښځې په کورونو کې د وهلو ټکولو څخه په امن کې ندي او دا نا امني تر دې حده رسېږي، چې ممکن د مرګ خطر یې وي، خو د مېړه کورنۍ به یې ډاکټر ته نه بیایي.

***۳. معلولین:*** د پرانس پرس اژانس د اته کاله پخوا یو راپور د ماهرانو له قوله وایي، چې افغانستان کې شاوخوا اته لکه معلولان دي، چې اکثره یې دجګړې نه بلکې د نړدې خپلوانو ترمنځ د ودونو په نتیجه کې معلول شوي دي. تاسو که په کوڅه او خپل کلي کې سترګې وغړوئ، په ګڼو کورنیو کې به ذهني او جسمي معلولان وموموئ. موږ کولای شو، چې د نږدې د خپلوانو ترمنځ د واده خطرونو په باره کې د مالوماتو د زیاتو معلولانو ته د مناسبو کارونو د پیداکولو او هغوی ته د احترام د کلتور د خپرولو له لارې د ټولنې په دې اړخ کې شته نیمګړتیاوې کمې کړو. څو کاله پخوا داسې ګنل کېده، چې افغانستان به تر دوه زره دیارلسم کال پورې له ماینونو څخه پاک هېواد وي، خو اوس چې په دې دوه زره دیارلسم کال کې یو افغانستان بیا هم د نړۍ ماینونو درکه په څو ګوته شمار خطرناک هیوادونو کې حساب دی. ماینونو هر کال د ګڼو افغانانو د وژل کېدو او ټپي کیدوسبب ګرځي. یو ورستي راپور وایي چې په تیرو شپږو میاشتو کې یوازې په کندهار ولایت کې په لارو کې کېښودل شویو ماینونو او بمونو شاوخوا شپږ سوه کسان وژلي یا ټپیان کړي دي. جنګ او نورو بدمرغیو زموږ هېواد کې معلولان دومره زیات کړي، چې د ټولنې دغه قشر ته له لازمې توجه پرته د نیکمرغه او سوکاله ژوند تصور مشکل دی.

***۴.معتادان:*** معتادان زموږ د ټولنې یو بل قشر دی، چې د مرستې او لازمې پاملرنې ته اړتیا لري. موږ ته معتادان ګناهګار مالومیږي او په همدې وجه مو اکثره وخت په خپل حال پرېښې دي، خو د ټولنې په دومره لوی قشر باندې سترګې پټول او ځان ناګاره اړول یوازې د ځان غلطول دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرو ملتونوله راپورونو سره سم په افغانستان کې شاوخوا يو ميليون کسان معتاد دي،يانې په کابو هرو ديرشو افغانانو کې يو د مخدرو موادو عملي دی. افغانستان چې د نړۍ نوي فيصده ترياک توليدوي. د ترياکو او نورو مخدره موادو قرباني دی. اعتياد زمونږ د ټولنې يو داسې مشکل دی، چې که م بعيده ښکاري ټولنه او حکومت کولای شي، چې د کوکنارو د کرلو د مخنيوي رانيولي د معتادانو سره سم علاج پورې مختلفو مسايلو ته پام وکړي او اعتياد وار په وار کم کړي، موږ که څه هم د نړۍ د نورو ټولنو د فيصدۍ په لحاظ ډېر معتادين لرو، خو تر اوسه لا په کورنيو کې په دې باره کې پوره مالومات نشته، چې که خدای جل جلاله مه کړه، د کورنيويو غړی معتاد شي؛ نو څنګه چلند بايد ورسره وشي چې د هغو د رغيدو امکانات زيات شي؟

***شپږ اصلي عوامل يې په لاندې ډول دي***

د افغانستان په ټولنه کې مو څلور اصلي ګروپونه ياد کړل چې نامناسب چلند ورسره د ټولنيز انکشاف او سعادت مخه ډب کړې ده. اوس به هغه شپږ اصلي عوامل په ګوته کړو چې نه يوازې د محرومو قشرونو او ګروپونو بلکې د ټولنې نيکمرغي او کاميابي ورسره غوټه ده او د انساني سرمايې د ايجاد له لارې لرې کوي.

***۱. نرم چلند:***

په تاريخونو کې لولو، چې چنګيز خان څکه په ګڼو اسيايي ملکونو حمله وکړه او په ميليونونو کسان يې ووژل، چې د خورازم پاچا ستر سفير او څو کسه سوداګر يې وروژلي وو. يوازې چنګزخان نه وو، چې د حملې او قتل لپاره يې دليل پيدا کاوه. هر انسان چې نادوده کوي، دليل ورته پيدا کوي. دليل انسان ته ضرورت لري. که يو څوک بې دليله جنايت وکړي، ناکراره کېږي انسان د خپل وجدان کرارولو او تيرايستلو لپاره مجبور دی، چې خپلې ناروا ته دليل جوړ کړي او خپل ځان په خپله و غولوي. هيټلر چې له قتلونو خوند اخيست، په ميليونونو کسان يې ووژل او ځان يې په دې قانع کړ، چې دا يهوديان دي او وژل يې پکار دي. شوروي مشر ستالين هم په ميلونونو کسان ووژل او ځان يې په دي قانع کړ، چې د انقلاب دښمنان او کارګرې طبقې مخالفان يې وژلي دي، چې دوی ډېر بد خلک دي. کله کله په دنيا کې يو جنايتکار ونيول شي، چې يوازې ښځې وژني يا د خاصې قبيلې کسان وژني او ګمان کوي، چې وژل يې پکار دي. لنډه دا چې د قتل په شمول هر خشونت چې ترسره شوی وي، عاملانو يې دلايل ورته پيدا کړی دی، خو دلايل هسې د ځان تيرايستلو او وجدان کرارولو لپاره وي. د جنايت او تشدد پلويان ولې له تشد ده لاس نه اخلي، چې هم يې د ځان تير ايستلو ته اړتيا نه وي او هم يې خداي جل جلاله ته او هم يې تاريخ ته مختور نه وي؟

ددې پوښتنې په ځواب کې ويل کېږي،چې که يو څوک په ماشومتوب په وخت کې له تشدد سره مخ شوی وي، هغه چې لوی شي او قدرت پيدا کړي نو که قدرت په ګوتو ورغي، نو خشونت به کوي. مطلب دا چې خشونت له خشونته زيږي. زموږ په ټولنه کې خشونت زيات دی. يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي علتونه نه لري؛ بلکې اجتماعي او روزنیز علتونه هم لري. یو پلار به په کور کې له خپلو ماشومانو سره نرم چلند کوي، خو د هغوی مور به وهي او ټکوي. د دې مور ماشومان چې دغه حالت ته ګوري، په رواني لحاظ ممکن ناروغان شي او ډیر کلونه پس چې قدرت په ګوتو ورشي؛ ممکن د خداي جل جلاله د مخلوق د ځورولو او ربړلو شوق ور پیدا شي او د دې هوس د پوره کولو لپاره به طبعاً په دلایلو پسې ګرځي. مثلاً وايي به د دې سړي وژل، ځکه پکار دي، چې له حکومت سره کار کوي. د دا بل سړي وژل ځکه پکاردي، چې مفکوره یې باطله ده...
په تاریخ کې د ظالمو واکمنو مثالونه د ادرس هم راکوي، چې که په یوه ټولنه کې یو کس یا ډله ټول اختیار په لاس کې ولري؛ ممکن ډېر خشونت وکړي او تباهي راولي. د دې لپاره چې په ټولنه کې مو خشونت ناروغي کمه شي، نه یوازې پکار ده، چې دیکتاتورانو او مستبدانو ته سرنوشت ونه سپارو؛ بلکې دې ته هم سخته اړتیا لرو، چې په کورني ژوند کې په ښوونځي کې او په کلي او کوڅه کې نرمۍ ته مخه کړو او د شاعرانو دا خبره له یاده ونه باسو چې: محبت له محبته پیدا کیږي.

### ۲. زده کړه:

په افغانستان کې تر لسو میلیونو ډیر کسان په ښوونځیو کې سبق وايي او په لس ګونه زره نور کسان په پوهنتونونو کې په تحصیل بوخت دي. دا ډېر لوی پرمختګ دی، خو بیا هم په میلیونونه کسان په تیره بیا جینکۍ له تحصیله محرومې دي او زده کړو د کیفیت په برخه کې جدي ستونزې لرو. مختلفو تحقیقاتو ثابته کړې، چې په یوه ټولنه کې د انکشاف اندازه او په زده کړو باندې د پانګونې اندازه له یو بل سره مستقیم تناسب لري. زموږ په ګاونډي ملک پاکستان کې چې نن سبا د ناکراریو فرقوي تعصبونو او قتل عام اور بل دی. د اوسني بد حالت یو لوی عامل په تعلیم باندې د پانګونې کموالی بلل کېږي. په دې اړه ټولنپوه ډیویډ بلیر په خپله یوه څېړنه کې لیکلي: ((که څه هم په پاکستان کې په دولتي ښوونځیو کې زده کړې وړیا دي، خودغه یوسلو اتیا میلیوني هېواد د مکتب عمر یوازې شپیته فیصده هلکان او پنځوس فیصده انجونې ښوونځیو ته ځي. په پاکستان کې کابو نیم نفوس تر اته لس کلونو کم عمر لري. د پاکستان په ښوونځیو په متوسطه دوره کې د دغه هلکانو درویشت فیصده او انجونو اتلس فیصده زده کړې کوي، مانا دا چې په هر پنځو انجونو او هلکانو کې چې د ښوونځي په متوسطه دورې کې د زده کړې عمر لري، یوازې یو کس منځي ښوونځي ته ځي. د دغه شمېره د نړۍ د ځېنو بېوزله او وروسته پاتې هیوادونو د زده کوونکو تر شمېرې هم کمه ده. په زیمبابوې کې چې ډیر بېوزله هېواد دی، کابو نوي فیصده ماشومان لومړني ښوونځي لولي او کابو پنځوس فیصده انجونې او هلکان متوسط ښوونځي ته ځي. که د پاکستان ګاونډیو ته راشو، نو باید ووایو چې په هندوستان کې تر اتیا فیصده زیات ماشومان لومړني ښوونځي لولي. په سریلانکا کې که څه هم په کلونو کلونو کورنۍ جګړې وې، خو د لومړني ښوونځي د عمر کابو ټول هلکان او نوي فیصده په زده کړه بوخت دي. د پاکستان خورا ورسته پاتې ګاونډي هېواد افغانستان هم لږ تر لږه د هلکانو د تعلیم له جهته تر پاکستان بهتر دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳.خواړه:

زموږ په ټولنه کې د داسې ځوانانو شمېر کم ندی، چې دوه درې ساعته کار کولو وروسته د ستوماني احساس کوي او زړه يې غواړي، چې استراحت وکړي. په دې هېواد کې داسې ګڼې امېندواره مېرمنې موندلی شو، چې کړاغې راختلې وي او دومره بې انرژي وي، چې د خبرو کولو وس نه لري، دغه راز اکثره ماشومان، زلمکي، انجوني او د ښوونځي شاګردان وينو، چې د بدن وده يې تر معمولي او مناسب حالت ضيفه وده. ددغو ستونزو يو اصلي علت دا ده چې کوم خواړه په افغانستان او همدارنګه نورو بيوزله هيوادونو کې خوړل کېږي، د کيفيت مشکلات لري. لکه څنګه چې د خوړو کيفيت مهم دی. يو هېواد بايد هغومره خواړه ولري، چې د خپلو خلکو ګېډې ورباندې مړې کړي. دغسې په يو هېواد کې د هېواد کې د خوړو لازم کيفيت پکار دی. د يو چا خواړه هغه خاصيت ونه لري، يا يې په کافي اندازه ونه لري، چې يو روغ فعال او متحرک بدن ته پکار دی، مانا يې دا ده، چې دی به په صحي لحاظ په کمزوري حالت کې وي او ذهني،جسمي او بدني وده به يې تر طبيعي حالت ټيټه وي. کله چې په يوه ټولنه کې د دغسې کسانو شمير زيات شي، هغه ټولنه په حقيقت کې د ناروغو او غير فعالو کسانو په ټولنه بدليږي. په افغاني ټولنه کې همدا اوس تر ډېره حده په همداسې حالت کې ده او د خوړو د کيفيت د ټيټ والي ستونزه لري. همدا اوس شاوخوا لس ميليونه رده کوونکي ښوونځيو ته ځي خو د لايقو او فعالو زده کونکو شمېر پکې خورا کم دی. همدا اوس په لکونو کسان په دولتي او غير دولتي ادارو کې په کار بوخت دي. دوی معمولاً اته ساعته د کار په ساحه کې تيروي؛ مګر که که يې واقعي کاريې راټول کړو، نو د ځېنو اټکلونو او تخمينونو په حساب د ورځې يو ساعت هم فعاله نه تيروي. مونږ دا مثالونه د ټولنې د نورو اقشارو په برخه کې د بزګرانو د کور د مېرمنو او د نورو پرګنو په برخه کې هم ورکولای شو. چې داسې ولې ده؟

په دې کې شک نشته چې د کم کار کول او په تيره بيا د لوړو د کيفيت د کار نشتوالی، دکمزري مديريت، د کمزوري مهارت، د وسايلو د کموالي او د اقتصادي انګيزو د ضعف په شمول مختلف دلايل لري؛ مګر يو هغه علت چې زموږ د انساني منابعو په ضعف کې لويه ونډه لري، معمولاً ډېر پام ورته نه کوو، هغه د خوړو د کيفيت کموالی دی. څېړنو ثابته کړې ده چې څومره په يوه ټولنه کې د خوړو د کيفيت اندازه بهتره وي، هغومره هلته تحرک او فعاليت ممکن زيات وي. په دې کې شک نشته چې که ټولنه بيوزله وي؛ نو د خوړو د کيفيت بهتره کول او د مغزي توکو ترلاسه کول به ورته اسانه نه وي؛ مګر که ټولنه د خوړو د تامين دغه اړخ په رسميت وپيژني او اهميت ورکړي؛ نو بيا داسې لارې چارې چې دغه ساحه کې بهتري راشي. د افغانستان په شرايطو کې د خوړو د کيفيت د بهترۍ لپاره درې داسې ساحې شته چې که توجه ورته وشي، نو په راتلونکې څو کلونو کې به مو د خوړو د کيفيت په برخه کې ښه پرمختګ کړی وي. په دغو کې يوه ساحه دا ده، چې تجارت وزارت د خوړو په وارداتو يوازې حلال و حرام او د خوړو فاسدوالي او روغوالي ته ونه ګوري بلکې د کيفيت له نظره هم ورته وګوري، مثلاً که دوه ډوله خواړه وي او د دواړو يوه بيعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خو د تغذیې له نظره د دا یو ډول اهمیت زیات وي، نو بهتره ده، چې په مالي او ګمرکي نظام کې د هاغه ډول په ګټه تغیرات راشي، چې د تغذیې په لحاظ یې کیفیت بهتره دی. البته اوس خو مونږ په داسې شرایطو کې یو، چې حتا د مضرو او فاسدو خوړو د واردولو د مخنیوي په کار کې هم پوره بریالي نه یو. بازار له داسې شیدو، مستو، او نورو خوړو مالامال دی، چې تاریخ یې تیر دي. دغسې فاسد مالونه د کابل او نورو ولایتونو په کابو هر مارکیټ کې پیدا کولای شو، خو حکومت د عامو خلکو په تیره بیا د غریبو خلکو چې اکثره یې نالوستي هم دي، دې مشکل ته پام نه کوي او دوکانداران په بې غمه زړه تاریخ تېر مالونه پلوري. له بلې خوا د خلکو د خبرولو ساحه ده. افغانستان اوس تر بل هر وخت زیاتې تلویزیوني، راډیویي او مطبوعاتي خپرونې لري، خو دا خپرونې د خلکو د خوړو د کلتور د ښه کولو او په مجموع کې د خلکو د روغتیایي کلچر په بهتره کې یا برخه نه اخلي، یا یې ونډه خورا کمه ده. که چیرته د روغتیا او اطلاعاتو کلتور وزارت په لارښوونه افغاني خپرونې په دې ساحه کې د ځان لپاره ځېنې مسولیتونه ومني، دا به په راتلونکو څو کلونو کې د خلکو روغتیایي پوهه په لویه پیمانه زیاته کړي او د خوړو د کېفیت په اړه به د ولس د مالوماتو په اندازه کې ځرګند تحول راشي چې دغه پوهه پخپله د خوړو د کېفیت په ساحه کې حساسیت زیاتوالی او دولت، سوداګر او نور اړوند لوري دې ته هڅولي شي، چې په دې موضوع لا زیات کار وکړي. د خوړو د کېفیت د بهترۍ لپاره بل مهم کار دادی، چې د افغانستان د زراعت وزارت پخپلو پالیسیو کې دې ته هم پام وکړي، چې هغه زراعتي پیداوار زیات شي، چې د تغذیې له اړخه یې اهمیت زیات دی. که څه هم په دغسې مواردو کې وروستۍ فیصله د اقتصادي انګیزو په لاس کې ده خو ماهران کولای شي، چې هغه د چا خبره هم د ثواب او هم د خرما کار وکړي. هم د بزګرو اقتصادي انګیزي په نظرکې ونیسي او هم د داسې بوټو تولید او تکثیر تشویق او حمایه کړي، چې د تغذیې په لحاظ یې ګټه زیاته ده. د خوړو د کېفیت بهتري د روغو، فعالو، لایقو او خوشالو وګړیو د شمېر د زیاتیدو سبب کېږي او په هره ټولنه کې چې داسې کسان زیات وي، د هغې اقتصادي او معنوي ترقي طبعاً چټکه او ډاډمنه ده.

***۴. نظافت:***

نظافت د اسلام په مبین دین کې د ایمان برخه ده؛ مګر زموږ په ټولنه کې په عمل کې ورته لږ توجه کېږي او بلکې پاکۍ ته پام نه کول د ملنګۍ او فقیرۍ یوه نښه ده. د اروپا د منځینو پیړیو په باره کې لولو چې:( عیسوي روحانینو د انسان بدن د ګناهونو کور او فنا کېدونکی شي باله. دوی د بدن په پاکېدو بې باوره خو د روح په تطهیر او تذکیې باورمن وو. دوی به تبلیغ کاوه، چې بنیادم باید د بلې دنیا سفر ته ځان چمتو او د سفر توښه یې برابره کړي. ورو ورو داسې فکر عام شو، چې که څوک ځان خیرن ساتي، نو ګویا د تقوا څښتن دی او په دې توګه ورو ورو د اروپا په منځنیو پیړیو کې د ځان وینځلو او حمام کولو ته د ایمان خاوندانو په ښه سترګه و نه کتل. د کلیسا مقاماتو به په هغو کسانو بد ویل چې په حمام کې یې ډیر وخت تیراو خو په کلیسا کې لږ.)) نظافت ته پاملرنه نه یوازې د ښه ذوق او مهذبوالي نښه ده او اجتماعي روابط ور سره خواږه کېږي، د روغتیا لپاره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنیادي اهمیت لري. شپږ کاله پخوا په نړۍ کې په لومړي ځل د میزان په څلورویشتمه نېټه د لاس وینځلو نړیواله ورځ ولمانځل شوه. ددې ورځې د نومولو مقصد دادی، چې په دنیا کې خصوصاً په هغو ټولنو کې چې خواري او بې سوادي په کې زیاته ده، خلک د لاسونو پاک ساتلو ته ډېر پام وکړي، څو په دې ډول د خلکو په تیره بیا د ماشومانو د ناروغیو او مرګونو اندازه کمه شي. له احصایي سره سم، په نړۍ کې هره ورځ کابو پنځه زره ماشومان د اسهال د ناروغۍ په وجه ساه ورکوي، چې که چېرته ماشومان تر ډوډۍ خوړلو د مخه او دغه راز تشناب او قضاي حاجت ته تر تلو وروسته لاسونه په صابون پاک ووینځي، د مرګونو دغه اندازه به نیمایي ته را ټیټه شي. د احصایي مطابق هغه ماشومان چې تر ډوډۍ د مخه او تر قضاي حاجت وروسته خپل لاسونه په صابون سم نه وینځي او په همدې علت په اسهال او نورو ناروغیو مبتلا کېږي او ساه ورکوي، تر ډېره حده له وروسته پاتې هیوادونو سره تعلق لري. له راپورونو سره سم افغانستان یو هغه هېواد دی چې د ماشومانو نظافت ته پکې توجه ډېره کمه ده. دا یوازې د لاسونو نظافت نه دی، چې لږ توجه ورته کوو د غاښونو د برسولو په شمول د نظافت د کلتور ګڼو برخو ته د توجه د کموالي په وجه له ګڼو ستونزو سره مخ یو.

### ۵. ورزش:

که څه هم په وروستیو کلونو کې افغان ځوانان په ځینو ورزشونو په تیره بیا کرکټ کې ښه وځلیدل، خو د ورزشي میدانونو کموالی او زموږ په تربیتي نظام کې د لوبو بې قدرۍ ته چې ګورو، نو ویلی شو، چې په دې برخه کې هم د مادي وسایلو سخت کمی لرو او هم په ذهني لحاظ لا دې ته تیار نه یو، چې ورزش د روغ او کامیاب ژوند یو لازم جز وګڼو. ورزش د جسمي او روحي روغتیا او دغه راز د اجتماعي روابطو د پراختیا او د اخلاقي ژوند د لرلو یوه بهترینه وسیله ده، چې په کار ده، لا زیاته توجه ورته وکړو.

### ٦. د نفوسو د بې کنټرولې ودې مخنیوی:

افغان عالم ډاکټر اشرف غني په خپله یوه وروستۍ مقاله کې لیکلي دي((زموږ د نفوسو وده د نړۍ له چټکو ودو څخه ده. د دې لپاره چې زموږ اقتصادي وده زموږ د نفوسو له ودې سره سمون وخوري، د کال لږ تر لږه نهه فیصده اقتصادي ودې ته ضرورت لرو...اوس تخمین دادی، چې زموږ اقتصادي وده به له ۱۴۲۰ کال وروسته په کال کې د څلورو او پنځه تر منځ وي.)). د نړۍ د هر هېواد لپاره او په تیره بیا د افغانستان غوندې بیوزلي هېواد لپاره په کار ده، چې د اجتماعي، سیاسي او اقتصادي بحرانونو د مخنیوی لپاره د نفوسو د بې کنټرولې ودې مخه ونیسي. د نفوسو د بې کنټروله زیاتیدا د مخنیوي لپاره د فمیلي پلانینګ د فعالیتونو په زیاتوالي سربیره، لکه څنګه چې د نورو هیوادونو تجربو ښودلې ده، پنځو نورو اړخونو ته توجه په کار ده:

۱. د نفوسو د ودې د کنټرول اهمیت ته د خلکو پام اړول او په دې برخه کې د پوهاوي د وسیع پروګرام عملي کول. په دې مقصد کې د کامیابي لپاره د جوماتونو له ملا امامانو را نیولې، د تعلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصاب کتابونه، رسنۍ، سمينارونه او تبليغات ټول نقش لرلای شي.
۲. د ښځو او نارينه وو با سواده کولو ته لا زياته توجه کول.
۳. په اجتماعي او اقتصادي ژوند کې ښځو ته لا زياته ونډه ورکول. زموږ اکثره کورنۍ په دې وجه زيات ماشومان لري، چې غواړي زوی ولري او زامن يې لږ تر لږه دوه شي. که نجونې په اجتماعي او اقتصادي ژوند کې فعال نقش ولري، د زامنو د لرلو د ارزو شدت به کم شي. دغه راز په اجتماعي، اقتصادي ژوند کې فعالې مېرمنې به د ډېرو ماشومانو زېږولو او پاللو ته ډير وخت ونه لري او هغومره ماشومان به مناسب وګڼي، چې سم يې روزلای او پاللای شي.
۴. د مېندو او ماشومانو د مړينې د اندازې د کمولو لپاره د اقداماتو زياتول. کله چې ميندې او پلرونه ډاډه شي، چې د ماشومانو د مړينې خطر يې کم دی نو بيا ممکن د ډېرو اولادونو د لرلو ارزو ونکړي.
۵. د ژوند د لا اوچت معيار او د اولاد د ښې روزنې په برخه کې د خلکو د پوهاوي د کچې لوړول. په وروسته پاتې ټولنو کې اکثره خلک د ماشوم د روزنې په برخه کې د مسوليت احساس نه کوي. حال دا چې په پرمختللو ټولنو او رسيدلو کورنيو کې د ماشوم ډوډۍ، لباس، ځای، تربيې، تعليم، او صحت ته پام کېږي او له هرې مور او هر پلار سره د ماشوم د زوکړې له اولې ورځې دا فکر وي، چې اولاد يې بايد داسې وروزل شي، چې سبا ته په ټولنه کې د يو محترم انسان په حيث ژوند وکړي او مناسب کار ولري.
موږ که د نفوسو د کنټرول په برخه کې د نن کارونه سبا ته پرېږدو او ځان په دې غلطوو، چې سبا به يې ګورو، مانا يې داده، چې سبا ته خپل مشکلات لا زياتوو. بهتره داده چې د نفوسو د بې کنټرولې ودې له خطر سره ژر تر ژره واقعي او جدي مبارزه پيل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ديداکتيک تاريخچه

څرنګه چې دعلومو په ساحو کې نوي اصطلاحات منځ ته راغلل، نو په همدې ډول په پخواني يونان کې د پيداګوژي په ساحه کې د ديداکتيک (Didasko) اصطلاح رامنځ ته شوه.
په تيرو وختونو کې ديداکتيک د ښوونې او روزنې څخه بحث کاوه؛ مګر د علومو په پراختيا او د ښوونې او روزنې په ودې سره ديداکتيک د يو علم په توګه رامنځ ته شو.
ديداکتيک هغه علم دی، چې د روزنې او مالوماتو اړين او بنسټيزې ستونزې حلوي. اصلاً (ديداکتيک) د ديدکتيکاس) له کلمې څخه اخيستل شوی دی چې مانا يې زده کوونکی او ښوونکی دی.
همدارنګه ديدسکاليس هم د ديداکتيک کلمې پورې اړه لري، چې (ديدسکا) په مانا زده کول، درس ورکول او ديدسکايس د ښوونې او روزنې په مانا راغلی دی.
ديداکتيک د زده کړې او مالوماتو په نظر د پيداګوژي يوه اړينه څانګه ده.
پيداګوګ (د يونانې کلمې پيداګوسپي) څخه اخيستل شوې چې (هلک يو سه او هلک راوړه) په مانا دی.
په پخواني يونان کې روحانيونو او ارسطو کراتا ځانګړي خدمتګاران درلودل چې د هغوی ماشومان به يې له کورونو څخه ښوونځي ته وړل او د درس ويلو څخه وروسته به يې د ښوونځي څخه کورونو ته راوړل، چې دا ډول کسانوته پيداګوس ويل کېده. پروفيسور توماس بريګز پيداګوژي په دې ډول تعريفوي: پيداګوژي هم ساينس او هم هنر ردی، خو هغه بايد يو داسې ساينس وي،چې په منل شوې فلسفه باندې اتکا او بنسټ ولري او هم داسې پوهه وي،چې ټول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افاقي توګه سره ثبوت شوي حقايق په نظر کې ونيسي او د ريښتينو څېړنو او تجربو پايلې په کار يوسي.
ديداکتيک د زده کړې روشونو او منځ پانګې او ښوونيزو پروګرامونو محتويات په ښوونځيو کې او هم د تدريس له ميتودونو او د دوی په څېر له نورو مسايلو څخه څېړنه کوي او يا په لنډ ډول چې ديداکتيک د پېښو له قانون مندۍ او تنظيم او د هغه اغېزې د زده کوونکي په روزنه او د زده کوونکي د شخصيت د ودې په پړاو کې اغېزه کوي؛ تر څېړنې لاندې نيسي.
له بله پلوه ديداکتيک د ښوونکو او زده کوونکو له فعاليت څخه بحث کوي.
همدارنګه د زده کوونکو او ښوونکو تر منځ (بنيادي) اړيکه د زده کړې په جريان کې تر مطالعې لاندې نيسي.
اوسنی ديداکتيک د ديموکراتيک او پرمختګ لپاره ډېر ګټور او ارزښتناک وه، چې د عملي پانګې او د تجربو په اغېز د څو پېړيو راهيسې د ځوان نسل د روزنې لپاره د ښوونې او روزنې په ساحه کې رامنځ ته شويدی.
همدارنګه د ديداکتيک تېوري دغه عملي پانګې او تجربې د تاريخ د مختلفو دورو سره او د وګړو له خوا د ټولنې ټاکلي شرايط او موخې چې د ښووونځيو په مقابل کې وړاندې کوي، اړيکه ورکوي.
په لومړنيو وختونو کې بشر د ښوونې او روزنې لپاره ګډې موخې درلودې، چې په هغه وخت کې د زده کړې منځپانګه پيچلې او مغلق نه وه؛ بلکې د مشرانو د تجربو او د کړنو پربنسټ زده کړه سرته رسېده، چې ماشومانو په هغه خت کې د مشرانو پېښې کولې.
د ديداکتيک کلمه ډېر پخوانی تاريخ لري، چې په دې لاره کې ډېرو پوهانو هلې ځلې کړې دي. د لومړي ځل لپاره د ديداکتيک پرمختک په پخواني چين، هند او روم کې پيل شو؛ مګر د ښوونې او روزنې په سيستم کې کوم مانا نظم او دسپلين نه درلود.
د ښوونکو د پرمختګ تاريخ راښايي، چې په منځنۍ پېړۍ کې زده کړه پيچلې بڼه درلوده چې هغه وخت کې ښوونځي د کليسا د راهبانو او فيوډالانو تر لاس لاندې وه او د ښوونې او روزنې په ساحه کې کومې څېړنې سرته نه رسېدلې، چې په کُلي ډول تر ۱۷ مې پېړۍ پورې کوم مشخص کتاب د ديداکتيک په نوم نه و ليکل شوی او که ليکل شوی هم و، سم او درست نه دی.
د زده کړې د پرمختګ د تيوري بنسټګر مشهور عالم (چکی بن اموس کومنيسکی) چې ۱۷ پېړۍ کې يې ژوند کاوه. هغه د ښوونې او روزنې په ساحه کې منظم نظريات او وړانديزونه درلودل.
د پيداګوک عالم چکی بن اموس کومنسکي د 1670-1092 ميلادي کلونو کې ژوند کاوه. کومنسکي په منځنۍ پېړۍ کې د نوې زده کړې لپاره مبارزه وکړه او ټول خلک يې زده کړې ته راوبلل. هغه پدې عقيده وه، چې بايد لارښوونه وشي، تر څو ښوونځي په يو روښانه او د نظم او ترتيب او د سولې او ارامۍ په ځای بدل شي او د ديداکتيک سيستم يې رامنځ ته کړ او د يوې ريښتنې زده کړې لپاره يې مبارزه و کړه او ټول خلک يې زده کړې ته راوبلل او د ديداکتيک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيستم يې رامنځ ته کړ او د يوې واقعي زده کړې لپاره يې مبارزه وکړه او په مکاتبو کې يې مثبت تاثيرات راوستل او په خاص ډول سره د زده کړې د تيوري بنسټ يې په ښوونه او روزنه کې کېښوده. ددې مشهور عالم (کمونسکي) ټول نظريات او افکار (ديداکتيک بزرګ) ته عنوان لاندې راټول شوي دي.

کومنسکي، را پاڅېده د لومړې ځل لپاره يې اصول صنفي جوړ کړل.

تر اوسه پورې د هغه د ژوند څخه تقريباً 300 کاله تير شو. په دې خو د هغه پيداګوژي نظريات له منځه تللي نه دي؛ بلکې د ښوونې او روزنې په چوکاټ کې د هغه د نظرياتو څخه ګټه پورته کېږي. همدارنګه ددغه عالم (کمونسيکي) پيداګوژي نظريات د ښوونې او روزنې پوهان او متفکرين يې اغېزمن کړي و، چې ددغه عالمانو څخه (اى اهن هنريخ پستالوسي) په نوم و.

پستالوسي په دې متعقد و، چې په ښوونځيو کې حرفوي زده کړه رامنځ ته شي، ځکه چې په دې هکله کې د ماشومانو د ذهني ودې تيوري رامنځته کېږي او کوښښ يې وکړ، تر څو د ودې او زده کړې سوال ته ځواب ورکړي. هغه ويل (اول ساعت کې ماشوم پيدا، اول ساعت د ماشوم زده کړه) ده.

او هغه د ژوند او دښوونځي په هکله ډېر تاکيد وکړ، پدې ترتيب سره د پتالوسي د خدماتو څخه يو هم ژبه (زبان)، رياضي او د هندسي مضامين بې د درس په اصول تدريس کې وليکل او همدارنګه يو الماني پوه (ادولف دسترويک) په نوم د پستالوسي نظريات وڅارل او هغه په ښوونځي کې د زده کوونکو د خپلواک کار روش او فکري کړنې يې چمتو کړل د سترويک په پرګنده ډول هوډ وکړ چې په ښوونځيو کې د زده کړې زوړ او پخواني سيستم ته بدلون ورکړي، نو پر همدې بنسټ يې د تدريس دوه ډولونه رامنځ ته کړل.

۱. د بيان د ځواک وده

۲. د سوال د وړاندې کولو وده

دسترويک د لومړي ځل لپاره زده کوونکي اړ ويستل، تر څو په ازادانه ډول سره حقيقت مالوم کړي. هغه عقيده درلوده چې په روزنه کې له ساده څخه مرکب، له مالوم څخه مجهول، له نژدې څخه لرې او نسبتاً اسان څخه نسبتاً ستونزمن ته لاره پيدا کړه او د مسايلو په حلولو يې پيل وکړ.

په دغه پېړۍ کې روسي پوهانو او متفکرينو د ښوونې او روزنې په ساحه کې زياتې څېړنې سرته رسولې دي. د هغوی له جملې څخه: وساريون ګريګويويچ بلنيسکي(1811 – 1848) الکسندر ايوانوويچ ګرتسن (1812-1870) لينکولاى الکسندرويچ دوبر لوبوف (1836 – 1861) د زده کړې تيوري اوپراکتيک کې زياتې لاسته راوړنې وکړې او په ځانګړي توګه د څېړنې په باره کې د طرز او تفکر علاقه او زياتې ارزښتناکې نظريې له ځانه پرېښې دي.

کد او شيسکي د بداکتيکي عمده او ارزښناکې پوښتنې او ښوونې او روزنې په وجه زده کوونکي تر مطالعې لاندې ونيول او خپلو پوښتنو ته يې ځوابونه چمتو کړل او همدارنګه د زده کوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وده،کړنې او طرز تفکر او د ښوونکو حدت او یو ځای والی یې د نظر څخه تېر کړل او همدارنګه نوموړی علم وکولای شول، چې د ښوونې لومړنی میتود لاسته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان دپوهنتونونو دانجنیري، زراعت، طبي علوم، اقتصاداوژورنالیزم چاپ شوودرسي کتابونولست (ننګرهار، کابل، کابل پولی تخنیک، هرات، بلخ اوخوست) ۲۰۱۵-۲۰۲۱

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون | شمېره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عالي کلکولس ریاضي A 534 I ریاضي | حمیدالله یار | ننګرهار | ۲ | د عالی ریاضیاتو عمومی کورس | محب الرحمن جنتی | ننګرهار |
| ۳ | د نفوسو جغرافیه | پروفیسور لطف الله صافی | ننګرهار | ۴ | عالي کلکولسII | نظر محمد | ننګرهار |
| ۵ | فزیکی کیمیا III کیمیاوی کنتیک او کتلسس، کروماتوګرافی او اسپکټروسکوپی | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننګرهار | ۶ | فزیکی کیمیا II الکترولیتی محلولونه او الکترو کیمیا | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننګرهار |
| ۷ | د د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه، دسون تخنیک | داکتر غلام فاروق میر احمدی | ننګرهار | ۸ | د ژویو فزیولوژي | پروفیسور غنچه ګل حبیب صافی | ننګرهار |
| ۹ | معیار های جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | ننګرهار | ۱۰ | د متیورولوژی مبادی | پروفیسور عبدالغیاث صافی | ننګرهار |
| ۱۱ | الجبر او د عددونو تیوری لومړی برخه | سطان احمد نیازمن | ننګرهار | ۱۲ | چګونګی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموری | ننګرهار |
| ۱۳ | د اوسپیز کانکرېټي عناصرو د لومړی صنفي کار متودیکي لاربنود | پوهندوی دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننګرهار | ۱۴ | د ژوند چاپېریال | پوهاند عارف الله مندوزی | ننګرهار |
| ۱۵ | عضوی کیمیا، کړیوال ترکیبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکیمی | ننګرهار | ۱۶ | جامداتو میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننګرهار |
| ۱۷ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دیپلوم انجینبر اسدالله ملکزی | ننګرهار | ۱۸ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دیپلوم انجینبر اسدالله ملکزی | ننګرهار |
| ۱۹ | کیمیایي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاښی | ننګرهار | ۲۰ | کیمیایي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاښی | ننګرهار |
| ۲۱ | عمومی ریاضیات | کل محمد جنت زی | خوست | ۲۲ | د اقتصاد او تجارت اصطلاحات (انګلیسي-پښتو تشریحي قاموس) | پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورین | ننګرهار |
| ۲۳ | خطي الجبر | داکتر عبدالله مهمند | ننګرهار | ۲۴ | روانشناسی و ضرورت آن در جامعۀ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل پوهنتون |
| ۲۵ | مبادی اقتصاد زراعتی | پوهاند ولي محمد فائز | بلخ | ۲۶ | اساسات هندسه ترسیمی مسطح | پوهنوال سید یوسف مانووال | بلخ |
| ۲۷ | تأسیسات و تجهیزات تخنیکی ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | کابل پولی تخنیک | ۲۸ | د رادیویي خپرونو تولید | پوهنوال دوکتور ماسټر واحدي | خوست |
| ۲۹ | د خاورې تخریب او د چاپیریال ککړتیا | پوهنیار محمد حنیف هاشمي | خوست | ۳۰ | تیوری و سیاست بودجه عامه | پوهنوال داکتر سید محمد تینګار | کابل |
| ۳۱ | حیوانات مفصلیه | پروفیسور داکتر دیپلوم علي آقا نحیف | هرات | ۳۲ | عضوي کیمیا، د اروماتیک او هیتروسیکلیک برخه | پوهنوال ډاکتر ګل حسن ولیزی | کابل |
| ۳۳ | د پروژې تحلیل او مدیریت | پوهاند محمد بشیر دویال | ننګرهار | ۳۴ | د انجنیری میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننګرهار |
| ۳۵ | کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړی برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننګرهار | ۳۶ | کلکولس او تحلیلي هندسه، دوهمه برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننګرهار |
| ۳۷ | د کرنیزو محصولاتو بازار موندنه | پوهاند محمد طیب | ننګرهار | ۳۸ | کارتو ګرافی با اساسات توپوګرافی | پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت | ننګرهار |
| ۳۹ | انرژي سمپا کوونکي ودانۍ | اسد الله ملکزی | ننګرهار | ۴۰ | د موادو مقاومت | پوهنمل بهرام امیری | خوست |
| ۴۱ | فزیکی کیمیا ګازونه او کیمیاوی ترمودینامیک | پوهاند خیر محمد ماموند | ننګرهار | ۴۲ | اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې | دانش کروخیل | ننګرهار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳ | حیاتي جغرافیه | پوهاند لطف الله صافی | ننگرهار | ۴۴ | د فاضله اوبو انجنیري | زلمی خالقی | ننگرهار |
| ۴۵ | د ریاضي په هلکه خبرې اترې | سلاطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۶ | اقتصادي جیولوجي (کانپوهنه-فلزي کانونه) | پوهاند دوکتور شریف الله سهاک | ننگرهار |
| ۴۷ | گروه های اجتماعی بسته (مطالعه جامعه شناختی سکتها) | داکتر احمد سیر مهجور | کابل پوهنتون | ۴۸ | گرم شدن کره زمین | محمد نعیم نسین | بلخ |
| ۴۹ | الجبر او د عددونو تیوري دوهمه برخه | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۰ | اعمار ساختمانها (اساسات، مواد و سیستم ها) | پوهندوی دیپلوم انجنیر امان الله فقیری | کابل پولیتخنیک |
| ۵۱ | په سیول انجنیري کې د اټوکډ استعمال | پوهنوال میا پاچا میاخیل | ننگرهار | ۵۲ | وترنری عمومي پتالوژي | پوهندوی محمد طاهر کاکړ | ننگرهار |
| ۵۳ | انجنیري جیودوزی (سرو) | پوهندی گل حکیم شاه سیدی | ننگرهار | ۵۴ | جیومورفولوژي | پوهنوال عزت الله | ننگرهار |
| ۵۵ | د تلویزیوني خپرونو تولید | پوهنوال داکتر ماستر واحدی | خوست | ۵۶ | اوسپنیز کانکرېټي عناصر ، لومړی برخه | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۵۷ | زولوجی فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار | ۵۸ | زولوجی غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ۵۹ | د تهداب انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار | ۶۰ | الجبر معاصر | داکتر عبدالله مهمند | بلخ |
| ۶۱ | رهنمود موثریت حفظ انرژی در تعمیرات | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | کابل | ۶۲ | معاصر الجبر | داکتر عبدالله مهمند | خوست |
| ۶۳ | د افغانستان د پوهنتونونو د درسی کتابونو چاپول (پشتو) | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ۶۴ | آلماني د افغانانو لپاره | داکتر یحیی وردک | ټولو ته |
| ۶۵ | آلمانی برای افغانها به دری | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ۶۶ | د پروژې مدیریت په عمل کې | محمد داود علم او یو اف . گهل | ننگرهار |
| ۶۷ | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | ۶۸ | نباتي فزیولوژي لومړی جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست |
| ۶۹ | نباتي فزیولوژي دوهم جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست | ۷۰ | د ساختمانونو تحلیل (لومړی برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۷۱ | د ساختمانونو تحلیل (دویمه برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار | ۷۲ | د مهندسانو د پاره ساختماني ستاتیک زده کړه | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ۷۳ | د ساختمان د جوړلو طریقې (لومړی برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار | ۷۴ | د ساختمان د جوړلو طریقې (دوهمه برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ۷۵ | سیټونه او هرڅه د هغوی په هکله | لیف بوکوفسکی/ سلطان احمد نیاز من | ننگرهار | ۷۶ | د لویو لارو د هندسي عناصرو ډیزاین | پوهنیار انجنیر محمد شاکر فاروقي | ننگرهار |
| ۷۷ | د سرخلاصو کانالونو هایدرولیک | پوهنوال میاپاچا میاخیل | ننگرهار | ۷۸ | د جوړښتونو تحلیل (لومړی برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| ۷۹ | د جوړښتونو تحلیل (دوهمه برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست | ۸۰ | د ریاضي منطق | سطان احمد نیازمن | ننگرهار |
| ۸۱ | ۴۵ انجنیري درسي کتابونه | ټول پوهنتونونه | ننگرهار | ۸۲ | د اوبو رسولو انجنیري | پروفیسور انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ۸۳ | اوسپنیز کانکرېټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، لومړی ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ۸۴ | اوسپنیز کانکرېټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، دوهم ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۸۵ | د تحلیلی هندسه لومړی برخه | سید شیر اقا سیدی | ننگرهار | ۸۶ | د اقتصاد د علم اساسات | شبر خان حساس | ننگرهار |
| ۸۷ | د انجنیري اساسی ریاضی (لومړی برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار | ۸۸ | د انجنیري اساسی ریاضی (دوهمه برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار |
| ۸۹ | عمومي تخنیکي رسم | پوهیالی فضل اکبر | ننگرهار | ۹۰ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار |
| ۹۱ | اقلیم پوهنه | پوهاند عزت الله سایل | ننگرهار | ۹۲ | کید او گرافیک | پوهنوال دیپلوم انجنیر بهاوالدین جلالي | ننگرهار |
| ۹۳ | پیداگوژي | پوهنیار راز محمد فیضي | ننگرهار | ۹۴ | نړیوالې تولنې | احسان الله آرینزی | ننگرهار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹۵ | د طبيعي علومو انگليسي-پښتو قاموس | پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی څدران | ننګرهار | | د جوړښتونو تحليل (دریيم برخه) | پروفيسور حفيظ الله وردک او پروفيسور دکتور زرجان بها | خوست |
| | د اقتصاد د علم اساسات | شېرخان حساس | | | | | |

ټول کتابونه له دې ويبپاڼې څخه ډونلوډولای شي : www.ecampus-afghanistan.org

**مرسته کوونکی**: د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کميټی، د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې، د آلمان د فدرالی جمهوریت جنرال کنسولګري، کانراد ادناور بنسټ، میخايل کلبت، سلواک اید، په جرمنی کې د اناسیس کمپنی او افغانیک

**تطبيق کوونکی**: ډاکټر يحيی وردګ د لوړو زده کړو وزارت، څلورمه کارته، کابل افغانستان، مې ۲۰۲۱

دفتر:075601640، ایمیل: textbooks@afghanic.de



(c) ketabton.com: The Digital Library

## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine. For this reason, we have published 342 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics, Journalism and Agriculture from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Al-Beroni, Kabul, Kabul Polytechnic and Kabul Medical universities. The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. It should be mentioned that all these books have been distributed among all Afghan universities and many other institutions and organizations for free. Out of the total, 96 medical textbooks funded by German Academic Exchange Service, 210 medical and non-medical textbooks funded by Kinderhilfe-Afghanistan, 7 textbooks funded by German-Afghan University Society, 2 textbooks funded by Consulate General of the Federal Republic of Germany, Mazar-e Sharif, 4 textbooks funded by Afghanistan-Schulen, 2 textbooks funded by SlovakAid, and 8 textbooks funded by Konrad Adenauer Stiftung. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org & www.kitabona.com.

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states:

*"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit ".*

We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 210 medical and non-medical textbooks so far.

I am especially grateful to GIZ (German Society for International Cooperation) and CIM (Centre for International Migration & Development) for providing working opportunities for me from 2010 to 2016 in Afghanistan.

In our ministry, I would like to cordially thank Academic Deputy Minister Abdul Tawab Balakarzai, Financial & Administrative Deputy Minister Noor Ahmad Darwish, Advisor at Ministry of Higher Education Dr. Gul Rahim Safi, Chancellor of Universities, Deans of faculties, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project.

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz and Fahim Habibi in the office for publishing and distributing the textbooks.

Dr Yahya Wardak
Advisor at the Ministry of Higher Education
Kabul, Afghanistan, May, 2021
Mobile:  0706320844, 0780232310
Email: textbooks@afghanic.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Message from the Ministry of Higher Education

In history, books have played a very important role in gaining, keeping and spreading knowledge and science, and they are the fundamental units of educational curriculum which can also play an effective role in improving the quality of higher education. Therefore, keeping in mind the needs of the society and today's requirements and based on educational standards, new learning materials and textbooks should be provided and published for the students.

I appreciate the efforts of the lecturers and authors, and I am very thankful to those who have worked for many years and have written or translated textbooks in their fields. They have offered their national duty, and they have motivated the motor of improvement.

I also warmly welcome more lecturers to prepare and publish textbooks in their respective fields so that, after publication, they should be distributed among the students to take full advantage of them. This will be a good step in the improvement of the quality of higher education and knowledge transfer process.

The Ministry of Higher Education has the responsibility to make available new and standard learning materials in different fields in order to better educate our students.

Finally I am very grateful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and our colleague Dr. Yahya Wardak that have provided opportunities for publishing this book.

I am hopeful that this project should be continued and increased in order to have at least one standard textbook for each subject, in the near future.

Sincerely,
Abdul Tawab Balakarzai
Academic Deputy Minister of Higher Education
Kabul, 2021

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| Book Name | Pedagogy |
| Authors | Teach Assist Razmuhammad Faizi & Assist Prof Ab Rashid Malakzai |
| Publisher | Nangarhar University, Education Faculty |
| Website | www.nu.edu.af |
| Published | 2021, Second Edition |
| Copies | 1000 |
| Serial No | 342 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org<br>www.kitabona.com |

This publication was financed by **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) a private initiative of the Eroes family in Germany.

Administrative and technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it.

Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks, please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Karte – 4, Kabul
Office 0780232310, 0706320844
Email textbooks@afghanic.org

All rights reserved with the author.

Printed in Afghanistan 2021

ISBN 978-9936-620-76-6

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library